د خوږې ژبې شاعر او ليکوال ګل پاچا الفت

# غوره نثرونه

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خوږ ژبي شاعر او ليکوال ګل پاچا الفت



# غوره نثرونه

پښتو ټولنه ۱۳۳۶ او ۱۳۹۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | غوره نثرونه |
| ليکوال: | خوږژبی شاعر او ليکوال ګل پاچا الفت |
| راټولونکی او کمپوزر: | غلام حبيب مليار، د کرهنې وزارت د مصوباتو مدير |
| انلاين چاري: | مختار احمد احسان - د لراوبر ډاټ کام برېښنايي کتابتون |

www.Larawbar.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړليک


سرليک........................................3
د پردی خبری........................................4
لاروی........................................4
ژوند........................................5
نوی نسل........................................5
لوی او وړوکی........................................5
د شاعر تحفه........................................6
خدمتګار........................................6
عقل........................................6
پوهه او هوښياری........................................8
احمق څوک دی........................................10
نوی درس........................................12
دری کاله........................................12
قوی او ضعيف........................................13
ښه ګټه........................................14
د اختر په ورځ........................................15
خانی لاره........................................16
يوازی........................................16
فاتح........................................16
لباس........................................17
خيرات........................................19
د زيارت ديوی........................................19
د مزار لوحه........................................20
لياقت........................................20
کوچينيان........................................22
جګ برجونه........................................23
حقيقت........................................23
لويه خدايه........................................24
ماشومان........................................25
شعر او ادب........................................25
د ادب راز........................................27

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوی کال........................................................................... 28
زما دلاس نیالګیه.............................................................. 29
دفکرپالونکی........................................................................ 30
دژوند نغمه......................................................................... 30
نوی فکر............................................................................ 31
زورفکر............................................................................. 32
نادانی او ناداری.................................................................... 32
سیند................................................................................ 33
عقیده................................................................................ 33
عمل.................................................................................. 34
عبادت او دعا....................................................................... 34
بی زړه.............................................................................. 34
ملک او ملا......................................................................... 35
شاعر................................................................................ 35
سبا.................................................................................. 36
د پسرلی ګله........................................................................ 37
درمی خاونده....................................................................... 38
بی ګناه بندی....................................................................... 38
نظرلالا.............................................................................. 39
جبراو اختیار........................................................................ 41
دخان واده.......................................................................... 43
غم اوخوشحالی.................................................................... 43
اخلاقی اساس....................................................................... 45
ښه اوبد............................................................................. 46
پخوانی ډیوی....................................................................... 46
انتخاب.............................................................................. 47
دعقل برخه په ژوندانه کی........................................................ 49
حسابی خبری....................................................................... 50
شعراوفلسفه......................................................................... 50
ولاړی اوبه.......................................................................... 50
ښه حاکم............................................................................ 52
دمئولف پیژندنه..................................................................... 52
الفت................................................................................. 53

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

# سرليک

څه د پاسه شل کاله کيږي چه زه د څه ليکلو او فکر کولو په رنځ اخته يم همدغه شغل زه له خپلو او پردو نه بيل کړی يم او په ګوښه ځای کښې ئی له خلقونه لرې کښېنولم ډيری شپې ئی را باندی په ويښه تيری کړی او ډيری ورځی ئی له دوستانو او ملګرونه بيل وساتلم.
په دغه موده کښې ماله خپلو بچيو او د کاله خلقو سره ډير لږ خندل او هر چاته بې ميني غوندی ښکاره شوم، کله له سبانه تر ماښامه ځای په ځای کښيناستم چه د څه ليکلو په فکر کښې را نه مونځونه هم قضا شوه مګر هيڅ مې ونشو ليکلی کله به په نيمه شپه لکه سودائی له خوبه را پاڅيدم او د آسمان ستوروته به مې حيران حيران کتل يو وخت به مې ځوکړښې وليکلې بيا به مې هغه ځيری کړی بل وخت به مې خپل ځيری کاغذونه را غونډ کړه او يوه کلمه به مې له بلې سره نښلوله ډير ځله را ته خپل فکر او خيال ډير ښه ښکاره شوی او کله کله مې خپلو ليکنو ته په ډير حقارت کتلی دی او له ځانه مې زړه تور شويدی.
ډير ورځې د کور او کلي له خلقونه پټ شوی يم او چيرته لرې د غره په لمن کې په کومه هديره کې ناست يم يا مې د سيند په غاړه يوازې ورځ تيره کړی او يوازيتوب مې ډير لوی نعمت ګڼلی دی.
په دغسې مختلفو احوالو کښې مې کله شعر او کله نثر ليکلی چه زما روحی او فکری اغيزی پکښې ځرګندی دی.
ددی کتاب پاڼې زما دډيری مودی د خاطراتو يوه برخه ده چه زما به نظر کښې ادبې قيمت لری او زه ئی خپل غوره نثرونه ګڼم.
زما په مقالو کښې ځينې نوری مقالې هم شته چه دلته ئی چاپول مناسب و ، مګر او س لاس ته ندی راغلی او دا انتخاب نيمګړی غوندی شو.
دا پاڼې چه تاسی لولی په ليکلو کښې ئی ډير زيار ايستل شوی چه لوستونکو ته پوره نه معلوميږي.
لکه چه يو کور څو ځله جوړ او وران شی دا مضامين هم څو ځله يو راز او بل راز شويدی چه د ترکيب او تاليف په لحاظ ئی مختلف صورتونه پيدا کړی او کيدای شی چه ځينی به ئی له اوسنی حالت ښه هم و.
دليکو فن ډيری جګرخونی لری او ډير ځله داسی کيږي چه يو ليکوال يو شپه په ويښه سبا کړی او يوه جمله پيدا کړی يا يوه ليکه هم ونشی ليکلی.
ديوه خيال يا فکر پيدا کول او بيائی په ښه ډول بيانول هغه ګران کار دی چه نوروته ئی ګرانوالی او دروندوالی نه معلوميږي په همدغه سبب يوه شاعر او ليکوال ته نه ښائی چه خپلو آثارو قيمت له چانه وغواړی يا ورته څه قيمت وټاکی.
زه هم په دغه ټکی پوه شوی يم او له هيچا نه يری هيڅ نه غواړم.
ډيره ښه ده چه زه اوس د پخوا په شان نه يم او خپلو افکاروته په هغه قيمت نه يم چه پخوا وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو وخت ما په ځان ډيره ښه عقيده درلوده او خپل فکر مې ډير مبارک ګاڼه هغه وخت به چه ما هرڅه وليکل هغه به راته په يقين سره ډير ښه ښکاريده او ډيره ښکلا به مې پکښې ليدله مګر اوس هغه ديقين سرما يه په شک بدله شوه او پخپل فکراو نظر راته بد ګماني پيدا شوه.
زه به اوس ډيرخوښ يم که دا پاڼي لکه دتمباکو پاڼي دچا دفکرصحت زيان ونه رسوي او څه زهر پکښې ګډنه وي.
هرڅه چه وي او هرڅنګه چه وي مګرله ماسره بده اراده نه ده موجوده او په بد نيت دغه کارنه کوم.
دافکرونه ښه وي او که بد مګردبيان او اظهارطرزېي بدنه دی او دښه نثرښيګڼي پکښې شته که نورڅه نه وي نودعبادت په لحاظ دا کتاب ديوه ادبی متن په حيث يوه ساده انشا بللی شو چه له نوو ليکوالو او پښتنولوستونکوسره کومک کوی.
په دغه وخت کښې دغسی کتابونو ته ضرورت موجود دی او دغه ضرورت ما ته هغهوخت پوره څرګند شو چه زه دحقوقو په پوهنځی او دادبياتو په پوهنځی کښي دپښتو استاذ شوم او دا دوه کاله دپښتو درس را په غاړشو .
پدی انشاء کښی دپښتو که زه څه ښکليتوب وينم هغه سادګی او آسانی ده چه په لفظ او معنی کښی يې ډيرلحاظ ساتل شويدی او دا آسانی په ډيرو مشکلاتو لاس ته را غله.
پدي اشاء کښی که دفکر او معنی څه ښايست شنه هغه به سادګی کښی پټ دی او څه ايغ نيغ حسن پکښی څوک نشی ليدی.
که دا نشر رواج ومومی او ځينی نوی ليکوال دغه سبک غوره کاندی ما به دخپل زياد او زحمت ډير ښا اجرموندلی وی او خوښ به يم چه دپښتو نثر نه مي يو څه خدمت وکړی شو.
ګل پاچا الفت دپښتوټولنی ريس:

# دپردي خبري

ترڅو چه دښځومخونه پټ وی خبري به هم په پردی کښی وی ځکه چه په پښتو کښي خبره هم مؤنث ده يوائی خبره لاڅه چه ژبه ، وينا ، معنا ، خطابه ، مقاله هم دتانيث علامي لری.
هغه وينا چه ابتکارپه کښی وی دادب پردي ته لاډيرضرورت لری.
تاسي زماخبروته لږغوندي باريک شئ !
دادب او سياست خبره ډيره باريکه ده.
زه په ډيره نری او باريکه لارلاړم ، خدای دي وکړی چه ډيرباريک بين خلق په دغه لار راشی او په ځيرځيروګوری.
مااوښان نه دی بارکړی زماقافله دمچيوده چه دګلونوله پاڼونه په هوا څه راوړی او عسل جوړوی.
له دی قافلی سره دسبا وږموخوشبوئی بارکړيده چه څوک ئی په سترګونه وينی مګرحساس دماغونه ئی احساس کولی شی.
هو ! زماکارله احساس سره دی، زماخريدار بايد ډيرحساس وی يا ډيرحساس شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لاروی

مونږ د خپلو کورونو له څنګه په ډیره کښی ناست وو.
له پاسه یو لاروی راغی دونی ډډ ته ئی ډډه ولګوله له ملا نه ئی ډوډی پرانیستله او له څه شی سره ئی په خوند خوند خوړله.
مونږ وږی تږی و ، هغه ځان موړ کړ او یخی او به ئی وڅکلی.
مونږ روژه وو ، هغه بوزه و ، ځکه چه په مسافرو باندی روژی نشته.
لاروی وویل: ماته د خوړلو اجازه شته او تاسو ته نشته.
ماته خدای خواړه او او به روا کړیدی په تاسو ئی ایسار کړیدی.
دا د خدای قانون دی، د دی قانون په رمز او معنی پوهیدل په کار دی.
د خدای کارونه بی حکمته نه دی، تاسی د دغه عملی تعلیم په اصلی معنی ښه فکر وکړی. !
تاسی ولی وږی یاست او زه ولی موړ یم؟
زه په کار او مقصد پسی روان یم او تاسی ځای په ځای پراته یاست.
ستاسو حرکت لنډ دی ځکه ئی وږی کړی.
تاسی د خدای قانون منلی دی مګر پوه شوی پری نه یاست.
زه راو ګرزیدم چه تاسی په دغه راز پوه کړم او له لوږی نجات و مومی.
پاڅیږی، روان شی او لری ځای په نظر کښی ونیسی. !
لوږه او تنده په توقف او سکون کښی ده په حرکت کښی نشته.

# ژوند

دیوي چیني او به دی، ځوک ئی د زړو په جام څکی، ځوک ئی د خاورو په کنډولی کښی.
هغه چه د انه لری نو هغه په لپه کښی ئی را اخلی.
په اوبو کښی هیڅ فرق نشته فرق په لوښو کښی دی.
د شاه او ګدا فرق په لوښو کیږی.
د اوبو په خوند هغه ځوک ښه پوهیږی چه ډیر تږی وی.
هغه لاروی چه له بیدیانه ستړی ستومانه راځی او تنده ئی ډیره زیاته ده دا او به ډیر خوند ورکوی.
هغه دهقان چه په سره غرمه کښی یوی کوی او خولی پری رامِاتی دی دا او به دهغه د پاره ډیر لوی نعمت دی.
یو شپون چه له غره نه تږی را کوزیږی او په چینی باندی خوله ږدی د اوبو په خوند ډیر ښه پوهیږی.
یو بل سړی چه یخ سیوری ته په ارامه چوکی ناست دی ښایسته صراحی ئی له څنګه ایښی ده او په ښو ګیلاسونو کښی او به څکی له اوبو هغه خوند نشی اخستلی.
هو !ده د لارویو او شپنو تنده نه ده لیدلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سره اوتکنده غرمه کښې ئې لونه دی کړی ځکه هغه تلوسه په ده کښې نشی پیدا کیدلی.
چاچی لوږه اوتنده نه ده لیدلی هغه دخوړو اوبو پوره خوند هم نه دی لیدلی اودژوند په کیف نه دی پوه شوی.

## نوی نسل

له ځمکی نه بخارپورته شو.
له بخارنه وریځ پیدا شوه.
له وریځی باران وورید ه.
له بارانه دپسرلی ګلونه پیدا شوه.
له ګلونونه خوشبوئی پیدا شوه.
وګوری موراوپلاراوځوی څومره فرق لری؟
هغه تفاوت چه دباران اوګلونویا د ځمکی اوبوټو ترمینځ وینی دیوه اوبل نسل تفاوت همدغومره دی.
که اولادونه میندوغوندی وای له غرونو څخه به لعلونه نه پیدا کیده.
له دریابونو څخه به مرغلری نه راوتلی.
له آبشارنه به بریښنانه راتله.
دړندواولادونه به ړانده و.
له کڼونه به کاڼه زیږیدل.
اوس پوه شوی ! چه نوی نسل اوزوړنسل یورنګه نه وی.
که څوک خپل ځلمی زوی ته زړه بوډی په نکاح اخلی یاخپله پیغله لوراتیاکلن بوډا ته ورکوی ښه نه کوی.
زړه تربیه اونوی نسل همدغسی وګڼی.

## لوی او وړوکی

په شفتالوکښی زړی دی په زړی کښی دشفتالوونه ولاړه ده.
دغنموپه وړوکښی دانی شته په دانوکښی همدغسی وړی شته.
په چرګه کښی هګی ده په هګی کښی چرګه ده.
دغه یوه دانه پندانه چه ګوری تیل اوپلته دواړه لری اوپه حقیقت کښی بله ډیوه ده مګرستاسترګی دغه رڼانه وینی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته خبرنه ئی چه په يوه دانه او په يوه څاڅکی کښی عالمونه پراته دی.
ته پخپله هم دغنم په دانه کښی ويده وی بيا دی په يوه څاڅکی ابو کښي لامبو وهله نن په لويه بيړی کښی ناست يی او په لويو دريابونو کښی ګرځی.
څه شی چی ته وړوکی ګڼی هغه هم لوی دی يا هغه چه تا ته لوی ښکاری هغه هم کوچنی او وړوکی دی.
ته ونه لويه ګڼی هغه په يوه زړی کی ده.
تا ته زړی وړوکی معلوميږی په هغه کښی غټه ونه ځای شويده.
دغه غټه هنديوانه چه ګوری کال ته نه پاته کيږی او عمريی ډيرلنډ دی.
دغه دهنديوانی کوچنی زړی تا ته هرکال تازه هندوانی درکوی.
دزړی قيمت له هندوانی نه لږنه دی.
که زړی ورک شو هندوانه ورکيږی.
نوراشه ! هيڅ شی وړوکی او کوچنی مه ګڼه ځکه چه دلته غټ او کوچنی لوی او وړوکی نشته، ټول برابردی، يوازی خدای لوی دی او بس.
دنن ورځی ديموکراسی له همدغسی ژوری کتنی څخه پيدا شوه او ډيرد قت نتيجه ده.

# دشاعرتحفه

زه چه ورغلم هغه په کوټنی کښی ناست ؤ سريی په ګريوانه کښی ښکته کړی ؤ فکری عبادت يی کاوه.
کله چه هغه سرراپورته کړ او په مايی نظرولويده ما خپله تحفه يوه دپړانګ پوستکی او يوغزنيچی پوستين دهغه په مخ کښی کيښود.
هغه وويل:دايو دظالم پوټکی دی ځکه له پښولاندی لويږی دابل دضعيفانوله پوستکی نه جوړدی او په غاړه پوری تعلق نيسی.
دشاعرتحفه بايد همدغسی وی او همدغسی معنی ولری.
دی بايد دادوه منظری همدغه رازوښی او خلق په دغه رمزښه پوه کړی.
په دغو خبروزه له خوبه راويښ شوم او په خوب کښی دخپل خوب به تعبيرپوهيدلی وم.

# خدمتګار

هلته يوړوندبی لاری روان و هغه په سمه لاره برابرکړ مګرړوند پوه نسو چه زما رهبرڅوک دی.
يوبل به خواړه خوب ويده و، په خواکښی يی يوه ملګری سررااوچت کړهغه يی په بيړه وواژه اوويده هماغسی ناخبره پاتی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دشپې په مسجد کښې ناروغه مسافرزګيروی کول هغه يې په خدمت کښې شپه سبا کړه، مسافرسباوون خواته مړشواوخپل زړه سواندی خدمتګاريې ونه پيژانده.
هغه په لارروان و يوه ماشوم نه يې يوموټی ميوه ورکړه يوه ترږی ته يې په بيديا کښې اوبه ورکړې له يوه وږی سره يې خپله ډوډی نيمه کړه مګريوه هم ونه پيژانده چه دی څوک دی.
له دی لوی لاری نه هغه ډيراغزی اوکاڼی لری کړه مګرڅوک چه سباپدی لاره راځی دهغه له خدمت څخه نه خبريږی اوهغه نه پيژنی.
په رښتيا چه مونږخپل خدمتګاران نه پيژنو اوباداران ډيرښه پيژنو.

# عقل

ډيرلږ خلق دی چه کله کله يونيم کاردعقل په خوښه کوی.
نورټول کارونه دمينې اومحبت دپاره، دحسد اوعناددپاره دحرس اوهوس دپاره وی يا دکوم زورورپه امراودناداني په فرمان اجرا کيږی.
سره له دی چه دعقل برخه په ژوندانه کښې ډيره لږه ده بيا هم هرڅوک دعقل ستاينه کوی اودعقل دښمن هم عقل ښه ګڼي اوبې عقلی نه خوښوی.
ښايې چه عقل په همدغه سبب دهرچاخوښ وی چه دچا په کارکښې کارنه لری اودزورروخوی په کښې نشته.
عقل زمونږتابع دی اوزمونږ زړه ته ګوری هغسې مشوری را کوی ځکه يې ستايو اوصفت يې کوو.
که عقل په مونږ باندی حاکم وای اواقتداريې درلودی مونږبه ترينه ډيرسرټکاوه اوبد به موګاڼه ځکه چه تراوسه مونږله يوه حاکم نه هم زړه کښې ډيرخوښ نه يو اوډيرښه حاکم هم ډيرخلق له ځانه خوابدی کړيدی.
په رښتيا چه عقل غوندی بې ضرره شی نشته.
عقل هرکله زمونږخيراوګټه راښيې اوعقل دهمدغه شی نوم دی.
که مونږدعقل يوه خبره هم ونه منو بيا هم عقل رانه نه ځی اوبد راسره نه کوی.
که مونږپه ناکاره کارپسې په بده لاره روان شوعقل راسره ملګری دی اوڅومره چه کيدی شی له خطره نه موساتی.
ډيری غلاګانی دعقل په مرسته کيږی که څه هم غلا ته په ښه نظرنه ګوری اوغلايې نه ده خوښه.
هغه شيطانی چلونه چه انسان کشف کړيدی اوشيطان هم ورته حيران دی دساده ګانو اواحمقانو کارنه دی.
فريب اوټګی سره له دی چه سم اصحيح عقل ورته بد ګوری بيا هم دهوښياری بدعمله اولاددی اودبد سړی له عقل دغه رازبد اولاد پيدا کيږی. همدغسې عقل يوه غله ته هم دتيښتی لاره ښيې هم يې ماړه کاله ته بيايې اوکه حاکم ونيوه دځان دخلاصولو چلونه هم ورښيې.
که سړی هرڅومره ګنهګارو، عقل ورته دنجات لاره لټوی اوله همدردی نه لاس نه اخلی په رښتيا چه دومره مهربانه ملګری بل نشته.
هغه وخت چه څوک عقل له ځانه شړی اوپه عقل هجوم وروړی باده اوپياله دی په لاس ورکوی اودمخه ورته لا يوداسی ځای پيدا کاندی چه ډيررسوانشی اومحتسب يې ګريوان ته لاس وانچوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعقل خوی او خصلت په هیچا کښی نشته، په زړه کښی حسد او عنادنلری لکه ماشوم مرورکیږی نه ظلم او ناروا یی نه ده خوښه مګر له ظالم سره دښمنی هم نه کوی.

فسق اوفجوررته بد معلومیږی خودزاهد په شان له فاسق اوفاجرنه تښتی.

هرچاته دخیرخواه په نظرګوری اودانسان په مجبوریت ډیرښه خبردی.

عقل په دی خبره ډیرزوراچولی دی چه انسان پخپلوکړوکښی پوره آزادی او اختیارنلری اودمجبوریت جنبه یی ډیره غالبه ده.

هو ! عقل دا غواړی چه انسان له ضعف اوناتوانی نه یوداسی قوی دلیل جوړکړی چه دهغه بل جهان ملامتی نه یی هم خلاص کاندی.

عقل پدی پوهیږی چه انسان دخپلوغرایزواواحساساتوتابع دی اومنطق هرکله دخپلواغراضودپاره استعمالوی.

دانسان له منطقی تعریف څخه هم دا معلومیږی چه دی اول حیوان اوبیاعاقل دی، یعنی دده نطق اوعقل دحیوانیت تابع دی اوحیوانی غرایز پکښی داولیت حق لری.

دایومنلی حقیقت دی چه عقل زمونږ تابع دی مونږ دعقل تابع نه یو ،عقل زمونږدپاره پیداشوی مونږ دعقل دپاره نه یو پیدا.

که مونږ په عقل باندی دلیونویا دماشومانوکارکوو، کوی یی اوزمونږ له امرنه غاړه نه غړوی.

که مونږ غلیمان شوزمونږعقلونه بوله بل سره دښمنی کوی اوپه جګړه اخته کیږی.

ښه عقل هماغه دی چه دمینی او محبت په غیږکښی وده وکړی اودښوعواطفواواحساساتو په لمن کښی وروزل شی.

عقل داخلاقوتابع دی،که اخلاق ښه و ،عقل هم ښه کیږی که اخلاق بدو ،عقل هم په بده لارروانیږی اوبده لاره ښیی.

# پوهه اوهوښیاری

زه چه وړوکی وم اکرکه اوس هم لوی نه یم له هرچانه به می اوریدل:

فلانی بي عقله دی به څه نه پوهیږی ، دعقل په پوله هم نه دی تیرشوی او د دوخرواربشي نشی بیلولی مګریو یو به چیری ته داسي هم پیدا ګیده چه خلقوبه ورته پوه او هوښیارویلي زه همدغه وخت پدي خبره پوه شوم پوهان او هوښیاران په دنیا کښي ډیرلږدی او ناپوهان ډیرزیات دی.

کله چه زه په سبق کښینا ستم ماته یی وویل:

سبق ووایه چه پوه اوهوښیارسړی درنه جوړشی.

داخبره په ما باندی ښه ولګیده اوپوه شوم چه پوهه اوهوښیاری می خوښه ده.

هغه وخت زه هوښیارنه وم مګرهوښیاری می ښه ګڼله اوناپوهی راته بده ښکاریده نه پوهیږم چه دغه تمیز ماله کومه کړی و ، اویوبی عقل څنګه پوهیدی شی چه عقل ښه دی اوبی عقلی ښه نه ده،خواوس پوه شوم چه ما شومانوته که څوک هرڅه هررنګه وښیی هماغسی یی ګڼی اوله ځانه څه فکرنشی کولی.

ماشومان لاپریږده چه ډیروخاوندان هم دغه شان دی اولوی لوی سړی دیوه اوبل په خبروتیراوزی.

ما هغه وخت دملا صاحب سوکانوته دهمدی دپاره سرونیوه چه پوه اوهوښیارشم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو !د پوهی او هوښیاری ځای سر او دماغ و ، مګر پوهه د ملاصاحب په لاس کښی وه او له هرچا سره نه وه.
ما ته هوښیاری ځکه ښه ښکاریده چه ډیره لږه وه او له لږو خلقو سره وه.
هرڅه چه لږوی قیمت یی ډیروی او خلق یی ارمان کوی هرڅوک هغه څه غواړی چه نه یی لری.
که زه پوه او هوښیار وای په پوهی او هوښیاری پسی به نه ګرزیدم.
ډیر خلق ډیرو شیانو ته دنا پوهی په سبب هڅه کوی او ډیر کارونه له نا پوهی ولاړیږی.
زه هم نه پوهیدم چه پوهه می غوښتله.
هرڅه چه و ، او هرڅنګه چه و ، ما په لیک او لوست کښی دانایی لټوله او سبق می وایه چه یوه ورځ می د رحمان بابا په کتاب کښی ولوستل:-دادنیا په احمقانو ده ودانه-دانانه کا په دنیاباندی غرض.
مګرچه شاو خوا می ښه وکتل په رښتیا چه دکلی خان به ټوله ورځ په دیره کښی یخ سیوری ته پروت و ، او هیڅ به یی نه کول، دهقانانو او مزدورانو به په سره غرمه کښی یوی، لوونه او غوبلونه کړل، زحمت او خواری به ددوی وه ګټه به دخان کورته راتله.
زه دغه وخت دعقل او هوښیاری په کرامت او برکت نور هم پوه شوم او باور می راغی چه زمونږ په کلی کښی یوازی خان صاحب هوښیار دی چه هیڅ نه کوی او نور ټول بی عقله او ناپوهه دی چه ددنیا کارونه کوی دده د پوهی او هوښیاری یو بل دلیل هم له ما سره و.
هغه دا چه دی به په ژمی پیټاوی ته کښیناسته او په واړی کښی یخ سیوری ته.
هغه نور به په سره اوړی کښی سره لمرته ولاړ ، او کار به یی کاوه.
ما به په جومات کښی په زوره زوره ویل.
دادنیا په احمقانو ده ودانه.دانانه کا په دنیا باندی غرض. خو هغوی پدی خبره نه پوهیدل او زما چیغی عبث وی.
ډیره موده وروسته زه له کلی کوره راووتم ښارته راغلم په دفتر کښی میرزا شوم د میرزایانو له څنګه کښیناستم په چپړوسانو به می حکمونه کول او په هرکار پسی به می لیږل.
دلته هم هماغه قانون جاری و ، او د ررحمان بابا خبره را ته دکانی کرښه ښکاره شوه.
چپړاسیان به ټوله ورځ په سره ژمی او په واو رو کښی دایره په دایره ګرزیدل مکتوبونه به یی رسول مونږ به په توده کوټه کښی ناست وا و مکتوبونه به مو لیکل.
زمونږ مدیر صاحب به نور څه نه کول یوازی دسخط به یی کاوه یعنی زمونږ کار به دده په نامه ختمیده. که دد سخط پځای مهر لګول رواج وای دا کار به هم کاتبانو کړی و ، مګر نه پوهیږم چه مدیران ولی مهرونه نه جوړوی.
که یو کاتب خپل کار دمدیر په نامه ختم کړی او دی پخپله دهغه مهر د مکتوب په آخرکښی ولګوی دا کار اخلاقاً ښه دی ځکه چه دا ایثار او فداکاری معنی لری، که څوک پردی کار پخپل نامه ختموی ښه نه معلومیږی.
له چپړاسیانو نه زمونږ کار لږ او آسانه و ، او له مونږ نه دمدیرصاحب کار سپک و ، ریس صاحب چه عقل عالم وهغه بیخی کار نه کاوه او کله کله به دیوه ساعت له مخی ریاست ته راغی، ځینی ورځی خو به یی خپل مبارک نوم هم په کوم مکتوب یا دحاضری په کتاب کښی نه لیکه چه دکارنحوست دده په نامه پریننووزی او هوښیاری ته زیان ونه رسیږی.
زمونږ مکتوبونه ځینی داسی و ، چه چپړاسی مکتوبونه نشوو رلی ځکه چه دادب نقاضادانه وه چه یو خوارچپړاسی په خواره جامه کښی دیوه لوی سړی په حضور کښی ودریږی که څه هم دخدای حضورته په لمانځه دریږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو !ددربارپه آدابو هرڅوک نه پوهيږي او درباري پوهه له هرچا سره نشته هلته موقع شناسي له هرکارنه زيات قيمت لري اودنزاکت مراعات ډيرپه کاردی.
په رمزاواشاره پوهيدل،مزاج پيژندل،دبل په خوښه خبري کول،دبل په نظرهرڅه ليدل ډيرلياقت اومهارت غواړي.
هرڅوک نشي کولی چه له ځانه به هيڅ فکراوهيڅ عقيده نلري مګردبل هرفکراوهره نظريه به دارسطوپه منطق ثابتوي.
پخپلواوړوباندي هرڅوک دبل پيټي وړلی شي مګرله زړه نه دنوروپابوجوړول آسانه کارندی.
تاسي درباريانوته په عادي نظرمه ګوری دومره باريک بين خلق بل چيرته نشته، ددوی ډيرلږ کاردپوهي اوهوښياری له برکته دنورولـه ډيرودرنوکارونونه دروند خيژي.
ددوی مثقال اودنورخرواربرابرنه دي که دنورودفعاليت دوړي اوګردونه آسمان ته ورسيږي اودوی محضی دچا دبوټونوګرد پاک کړي ددوی دکارقيمت زيات دی اوله هغوی نه يې تنخوا ډبله ده.
دوی په جنګونواوجګړوکښي دسربازي ميدان ته نه حاضريږي.
په فابريکواوکارخانوکښي کارونه نه کوي،لوړي ژوري نه اواروي،معدنونه نه سوري کوي مګرګټه يې له نورونه زياته ده اوپه لوړمقام کښي ځای لري.
ددوی کاردومره باريک دی چه هرچاته نه معلوميږي مګرلياقت يې معلوم دی اوپه هوښياری کښي يې شک اوشبه نشته.
څومره چه پوهه اوهوښياري زياتيږي هغومره فعاليت اودکارستوماني کميږي نه ګوري چه ماشومان له لويواودرنوخلقونه ډيرحرکت کوي داباشي ولاړوي اومزدوران تيږي چلوي.
مشران له ځايه نه ښوري اوکشران په مخکشي منډي وهي که لرنه ګوري ها دخپل لاس ساعت ته وګوری ثانيه ګرد چه وړوکی دی څومره ژرژرګرزي دقيقه ګرد چه لوی دی ورو روان دی،
کوچني موټر ډيرګرندي ځي اولويه لاري هغسي نشي تللی.
اوس پوه شوی چه لويوالی اودروندوالي همدارنګه عقل اوپوهه فعاليت کموي اومنډي را منډي دبي عقلوکاردی.
هوښياران کارنه کوي فکرکوي اوچرت وهي ناپوهان جبل وهي اوغرونه سوري کوي.
ددنيا آبادي اوودانی په کاراوفعاليت پوري تعلق لري اوعقل يا هوښياري سړي ستوماني اوزحمت ته نه ورکوي.
يوميرزا هيڅکله پخپل کارکښي ديوه جوالي غوندي نه دی ستړي شوی )عقل نيست جان درعذاب است(همدغه معني لري اورحمان بابا د همدي لامله وايي چه دنيا په احمقانوو ودانه ده اودانا ددنيا په کارڅه غرض نلري.
تاسي له هوښيارانواوپوهانوډيرکارمه غواړي دوی پريږدی چه فکروکړي اوبی کاره به زياره ګټه خپل کاله ته راوړي.
هوښياري اوپوهه همدغه ده چه کاريي لږاوګټه يي ډيره وي يا په بل عبارت هيڅ نه کوي اوهرڅه د ده وي.
دنوروله زياراوکارڅخه ګټه اخستل،بل غولول اوځانته ګټه اړول پوهه اوهوښياري ده.
داد پوهي اوهوښياري برکت دی چه ډيرلږ خلق يعني هغه چه دنن ورځی په اصطلاح په اقليت کښي دی اولږه کی ورته ويل کيږي دډيروخلقوله ستړتيا اوستوماني نه ديره زياته استفاده کوي.
که تاسي دهروطن دنازاونعمت خاوندان اوشتمن وګوری دوی ډيرلږدی مګرډيرزيات خلق ددوی دګټي دپاره استعماليږي يعنی ددوی سمسوربڼ دنوروپه خولوده کوي اوددوی راحت دنورودزحمت نتيجه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داده هغه پوهه او هوښياري چه ما په ليک او لوست کښې لټوله او زه يې له کاره وايستم.
هو !پوهه او هوښياري سړی له کاره باسي ،دکار خلق نوردي پوهان او هوښياران نه دي.
دخير خلق هماغه دي چه نوروته يې خير رسيږي ، پوهان او هوښياران ځانته خير رسوي او خپل خير لټوي.
دهمدی لامله وايي چه دجنت اکثره خلق ساده ګان دي او دنيا هم په ساده ګانو او احمقانو ودانه ده.

## احمق څوک دی؟

هغه چه ددنيا په سود اوزيان نه پوهيږي اودګټې په ځای تاوان کوی خلق ورته احمق،بی عقل او ساده وايي.
دا دری نومونه لکه ديوه سړی مختلف عکسونه چه په بيلو بيلو کمرواو مختلفو احوالو کښې بيلو عکاسانو اخستی وی په عين اتفاق کښې اختلاف هم لری او په يووالی کښې يې يوڅه بيلوالی معلوميږي.
که څوک کوم بی عقل سړی سپکوی احمق ورته وايي او که يې ستايي نو ساده يې بولي.
دوينا اوبيان سحر دالفاظو په همدغسې فريب کښې پټ دی.
په کتابونو کښې راغلي دی چه پخوا به يې ټوقيانوته احمقان ويلي او ددربار احمقان به هماغه کسان و ،چه پخپلو خبرو به يې خلق خندول او په مجلس کښې به يې خوشحالی پيدا کوله.
د احمق اوساده يو مثال ملا نصرالدين دی چه په ظرافت او مسخره توب هم شهرت لری.
ددغه مرحوم د حماقت دليل دخلقو په نزد دادی چه ده به په يوه روپی څلوردانی هګی واخستلی هغه به يې وخوټولی په رنګ به يې سری او شنی کړی بيا به يې دروپی پنځه دانی خرځولی يعنی دګټې په ځای به يې تاوان کاوی او خپل مال به يې ارزانه خرڅاوه.
اوس چه څوک له چانه څه شی ارزانه وغواړی هغه وايي څه ملا نصرالدين خونه يم.
دا نوم اوس دومره عام شويدی چه که هرڅوک يوشی ګران واخلي او ارزانه يې خرڅ کړی خلق ورته ملانصرالدين وايي.
مونږ په خوله وايو چه عقل بيل شی دی او ددنيا مال بيل شی دی،څوک به عقل لری مال به نلری،ځينو نوروسره به مال وی او عقل به نه وی، مګر په عملي ډول دهرچا عقل او بی عقلی ددنيا ګټې اوزيان له مخې معلوموو او په حقيقت کښې ګټې ته عقل وايو او تاوان بی عقل يا حماقت بولو.
زمونږ په خيال او تصور کښې دا نشی راتلی چه ملا نصرالدين به دا کار ددی دپاره کاوه چه نرخ ارزانه کړی او خپل احسان په دغسې تجارت کښې پټ کړی چه خريداريې په سخاوت هيڅ پوه نشی او کرامت حماقت وګڼل شی.
که مونږ ګمان نيک اوښه وای ملا نصرالدين به مودخير او فيض خاوند ګڼه او دهغه په عقل پوری به مونه خندل.
هغه بل کال زمونږ په هيواد کښې قحطی او ګرانی وه، يوه لوی سوداګرله هرات نه ډيره غله قندهار ته راوړه او په خلقو يې دبازار له نرخه ارزانه خرڅه کړه يعنی ګټه يې ونکړه تاوان يې وګړ داکار هيچا دهغه په بی عقلی حل نکړاو په اخبارونو کښې يې ډيره ستاينه وشوه.
هغه ته چاملانصرالدين ونه ويلي بلکه دخير او برکت خاوند يې وباله.
يو وخت زه يوه شتمن سړی کره ميلمه شوم،دهغه په کاله کښې هرڅه پاخه شو ، مګر سکړک يې نه درلود ، دکاله خاوند څوغلميني ډوډی خپلو همسايه ګانو ته وليږلي او هماغومره سکړکان يې راوړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ته دا معلومه شوه چه دوی هره ورځ دغه راز تجارت کوی او پخپل کاله کښې جواری نه پخوی.
دا سودا ماته دخوارانو او غريبانو دپاره سودمنه ښکاره شوه او مرحوم ملا نصرالدين راپه ياد شو.
زه دا جرت نشم کولی چه دغه راز ښه کارا حمقانه وګڼم.
په کوم کاله کښې چه هرڅه ډيروی دغو مره لږتاوان هيڅ تاثيرنلری.
بډايان له دغسی تظاهرنه يو مخصوص خوند اخلی چه مونږ هغه نه دی څکلی که دغه راز کاريو خوارا وغريب وکړی حماقت دی، مګردبډايانو دپاره صفت دی. عقل او پوهه خوارانو او فقيرانو ته دا اجازه نه ورکوی چه ډوډی په جواری باندی سرپه سرورکړی او خپل حماقت ښکاره کړی، مګربډايان په دغسی کارونو ښه ښکاری او څوک ورته ملانصرالدين نه وايی بلکه حاتم طايی بولی.
که خواران او غريبان له اسراف او تبذيرنه کار واخلی ډيره لويه ناپوهی اونادانی ده، مګربډايان په اسراف او تبذيردجود اوکرم خاوندان ګڼل کيږی.
دغه عقل چه دخوارا وغريب رهبری کوی دبډايانو دپاره نه دی په کار.
هو !عقل هغه امساده چه ګوډ اوضعيف انسان ورته اړدی.
هغه چه دقوت او قدرت خاوند دی دغه دضعيفانو وسله ورته نه ښايی.
دعقل عينکی دکمزوری نظربينايی زياتوی اودتيزنظرخاوندان يی کله کله دډول اوفيشن دپاره په سترګو کوی.
که څوک عقل او هوښياری لټوی دخوارا وغريب په کورکښې دی ولټوی زورورا وبډايان له دغه شی نه بی نيازه دی.
تاسی يوه انسان يا يوه حيوان ته چه څه نه وينی ړوند ويلی شی مګرسيند اوسيلاب ته ړوند ويل غلطه خبره ده که څه هم په نااواره لاره روان وی او په سمه لاره نه درومی.
دا ځکه چه دغه پرزيدل اوجګيدل هغه ته څه زيان نه رسوی او بی سترګو هم ډيرګړندی تللی شی.
که مونږ دخپل هيواد په خلقو کښې فکروکړو هغه کارونه چه ځينی زورورا وبډايان يی کوی په عقل برابرنه دی که مونږ يی وکړو بد ښکاروا وضرر وينو ځکه مو عقل مخه نيسی مګرزورورو اودقوت خاوندانو ته زيان اوضررنه رسوی عقل يی هم مخه نه نيسی اودغه دغريبانونا صح دهغوی حضورته لاره نلری.
دزورورو په مخکښې عقل ګونګ وی اوډيرمزخرف معلوميږی هرڅه چه بی ضرورته وی او احتياج ورته نه وی بد ښکاری او قيمت يی لږوی.
که چيری په انسان کښې ډيره نيمګړتيا اوکمزوری نه وای اوعقل ته يی احتياج نه درلودای عقل او پوهی به دغومره قدرنه درلوده.
اوس پوه شوی ! چه هرخوارا وغريب سړی که ځان ته ښپلی يا پڼی لږ غوندی ګرانی واخلی اودوه يا دری روپی پکښې وغولېږی هرڅوک ورته احمق وايی.
يوبډای که په زرها وروپی يوه شپه په قمارکښې بايلی احمق نه دی، هغه چه دورځی دشلويا ديرشورو پو په سګرتواورلګوی يا دسينما اوتياترپه تشه ننداره پيسی ورکوی څوک ورته احمق نه وايی، مګرکه يومزدوريوه ورځ کارونکړی اووزګاروګرزی احمق دی ځکه چه بيګاته په کورکښې څه نلری اووږی پاته کيږی.
يوبډای په ګړندی موټرکښې ډيرلری ځای ته په ښکارپسی ځی په لاره کښې ډيرتيل مصرف شی، دموټرکمانی ماته شی اوټيرهم بچ کاندی مګردښکاربرابری رانشی اوپس له دوه دری شپوپنځه يا شپږدانی زرکی له ځان سره کالوته راوړی چه ژوند دغسی تفريح او پام غلطولوته احتياج لری اودشوق اوذوق دپاره مال تاوانول ناپوهی نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چه يو بډای يوه ښکلی نفيسه تابلو په ډېرو روپو واخلی يا ځينی انتيک اوزاره شيان د تش نوم لپاره په ډېرلوړ قيمت رانيسی هغه بل چه يو زوړ قلمی کتاب چه ذوق او صنعت پکښی خرڅ شوی په ګرانه بيه اخلی او د هماغه کتاب چاپی نسخی ډيری ارزانه لاس ته راځی ته وو ايه چه د غه رازتاوانونه د څه د پاره دی؟
که غرض معنوی استفاده وی هماغه معنی په چاپی کتاب کښی هم شته معلومه شوه چه مال تاوانول د نامه او شهرت د پاره، د شوق او ذوق د پاره، د هوا او هوس د پاره حماقت نه دی صفت دی او ستاينه يی کيږی مګر پدی شرط چه سړی خوار او فقير نه وی بډای وی او ډيری پيسی ولری.
او س خو به پوهيدلی ياست چه احمق څوک دی او مونږ چا ته احمق وايو ؟

# نوی درس

چيرته می د چاپه کوم کتاب کښی ولوستل استاذ خپل شاګرد ته دا درس ورکاوه:
له خدايه ډېر خوښ او سه ! چه ته يی بی هنره پيدا کړی او تا ته يی هغه استعداد د رنکړچه يوه ورځ د خلقو د پاره لويه بلا د رنه جوړه شی ته پدی پوه شه چه خدای ته هماغه څوک ډيرنږدی دی چه له ذوق او هنره ډيرلری وی.
هغه تند او تيزفکرچه زما په برخه رسيدلی دی ما ته په دنيا او آخرت کښی زيان رسوی، اوزما اسايش خرابوی.
د يرفکرکول ډيربد مرض دی چه په څوتنو پری اختصاص لری که دا مرض خپريدلی د يرژر به يی د بشرنسل تباه کړی و.
زه پدی ښه پوه يم چه په ژورفکراو عقل کښی د روح تباهی ده .
ژورفکر د بشر د پاره طبيعی ، کار نه دی.
همد غه شی دی چه په سړی کښی د عمل اقدام وژنی.
هيڅوک هيڅ کار نشی کولی ترڅو چه څه قدرتنګ نظره او لنډ فکره نه وی تفکرد انسان د پاره ډيره لويه بدبختی ده.
هغه چه لږ فکر کوی يا هيڅ فکر نه کوی په دواړو جهانو کښی کامياب دی. مګر ډيرفکرا و عقل خاوندان هرچيرته او هر کله له جسمی او روحی هلاکت سره مخامخ دی.
په رښتيا چه فکراو عقل کښی ډيرخباثت پټ دی.
پوهه او فلسفه په حقيقت کښی په ذهن باندی د شيطان استيلاء ده.
بشر په اصل کښی يو احمق حيوان دی او د ده معنوی ترقی د ده د فکری اضطراب د پوچو آثارونو م دی.
هغه څوک چه د نبوغ او قريحی خاوند دی د معاشرت په درد نه خوری او د معاملی خاوند نه دی.
زه د فکر آزادی له هرڅه نه پورته ګڼم، هرڅوک له ځانه خوابدی کوم مګر خپل ځان او خپل وجدان خوشحاله ساتم.

# دری کاله

يو کال موسم ډير ښه راغی، باران و نه وخت په وخت پخپله موقع وشوه چه نه له ضرورنه زيات و ، او نه کم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دزميندارو فصلونو ته هيڅ زيان ونه رسيده او للمه ډيره ښه راغله.
دهقانان ډيرخوشحاله و چه فصلونه ډيرښه دی اوکال ډيرښه راغلی دی.
کله چه درمندونه تيارشوه خلق په رښتيا دغلی په چلولو سترړی شوه او په کورونو کښی دغلی ځای نه و.
په دغه کال په ملک ارزانی راغله او دغسی ارزانی چا په خوب کښی هم نه وه ليدلی. دغلی خريدارلکه دانځرګل چا په سترګو نه ليده زميندارو به تيل او مالګه په عنمو اخسته، جنس به په جنس بدليده دزميندارو په کورکښی مړی نه و ،ويريی و ،دوی دپاک خدای په دغی مهربانی خوشحاله نه وو اودشکرپه ځای به يی شکايت کاوه ،همدغه ناشکری وه چه بل کال هغسی رانغی اوغله بيخی ورکه شوه ،ځينوبه ويل چه تخم هم په لاس رانغی اوخوارپه چارک ولګيده.
په دغه کال په وطن باندی قحطی اوګرانی راغله،هرڅوک به په غلی پسی لالهانده او سرګردانه ګرزيده او دچا په کورکښی دمړک لکی نه سپيره کيده.
زميندارانبيا خپه و او ډيرافسوسونه يی کول چه ګرانی اوقيمتی ددی کال وای اوغله دپروسږ کال ،مګردا اجتماع محاله وه اودغه کال هم په افسوس اوارماند تيرشو.
دريم کال له دواړو کلونو نه مخالف راغی يعنی دځينو زميندارو غله ډيره زياته وه او دځينو کښت ته زيان او آپت ورسيده ځکه نرخونه جګ شوه مګرقحطی نه وه، دچا غله چه ډيره وه او په ګران نرخ يی وپلورله هغه له ډيری خوشحالی په جامو کښی نه ځايده او چاچه دخرڅون دپاره غله نه درلوده په کاله يی دغم کانی وريدل.
زه دغه وخت په دی پوه شوم چه مونږ ټول نشو خوشحاليدلی او په داسی حال کښی واقع يو ،چه که يو خوشحاليږی هغه بل به خپه کيږی ، يعنی دځينو خوشحالی دځينو نورودخفګان نوم دی دهمدی لامله وايی چه يو مړنشی بل نه مړيږی.
ددنيا په بازارکښی داسی سودا نشته چه پلورنکی او پيرودونکی دواړه ګټه وکړی يعنی يو خپل مال ګران خرڅ کړی اوهغه بل يي ارزانه واخلی په کومه سودا کښی چه سود اوزيان نه وی او خريداريا خرڅوونکی يو هم ونه غوليږی يو هم نشی خو شحا ليدلی ، که يو سړی خپل سل ګون لوټ په شلو پنځه ګونو بدل کړی په دغه تجارت کښی خوشحالی او خبګان نشته ځکه چه سود او زيان پکښی نشته که يو په حساب کښی وغوليږی دی به خپه شی او هغه بل ته به خوشخالی پيدا شی اوس پوه شو چه مونږپه څه خوشحاليږی او په څه خپه کيږو؟ که ښه فکروکړو آيا ديوه ګټه دبل دتاوان نوم نه دی؟ زمايو ملګری دومره شته او جايداد لری چه جامه او ډوډی ډيره ښه وررسيږی کورلری ځمکه لری باغ لری لنګه غوا ورته ولاړه ده موټرشته او دهيچا پوروړی نه دی په بانک کښی يی هم پيسی پرتي دی اوله هری خوا بيغمه معلوميږی مګر يو بل سړی له ده نه هرڅه ډيرلري او ځمکی باغونه کورونه نغدی پيسی يی له ده نه زياتي دی ، خپه دی چه زه ولي دغه بل قدرته جايداد نلرم دا بل خوشحاله دی چه له هغه نه ني جايداد ډيردی.
زمونږ اکثرغمونه همدغه رازدی چه ديوه بل سړی له خوشحالی پيدا شويدی او ډيری خوشحالی هم شته چه دنورو له خبګانه پيدا کيږی.
دغه يو چه په زړه جونګړه کښی اوسی دغه بل چه په لوړه ماڼی کښی استوګنه لری. دهغه جونګړه وينی ځکه خوشحاله دی هغه دده قصروينی ځکه خپه دی که چيری مونږټول په جونګړو کښی او سيدلی يا ټول په لوړو ماڼيو کښی وای نه به جو نګړه دغم کوډی وه نه به لوړه ماڼی دخوشحالی ځای و .

(c) ketabton.com: The Digital Library



که حقيقت ته ځيرشو ، يو کوډ پدي نه دی خپه چه ولی کوډ دی بلکه پدی غمجن دی چه ولی نورده غوندي نه دی.
هغه چه په آس باندی سپوردی او نوريي په مخکښی منډي وهی دآس په سپرلی دومره نه دی خوښ لکه چه دنورو له پلی توب څخه خوند اخلی.
داوه زما ددرو کالو مطالعه چه ته يي په لږساعت کښی مطالعه کوی دغه لږه پوهه چه ته ورته په سرسری نظرګوري او ستاپه نظرکښی ډيره ساد ګی لری زما دپاره ډير عميقه فلسفه ده زه په ډيره موده کښی دغه حقيقت ته رسيدلی يم . ته به په ګړندی ګاډی کښی يوه ځای ته ډيرژربي تکليفه ورسيږی مګر هغه څه چه په لاره کښی يو پلی وينی ته يی پوره نشي ليد ای ستا نظرپه دغه لاره ډيرژرعبورکوی او کندی کپري داخوا هغه خوانه ګوری.
ستاسيرډيرګړندی دی او په دغومره سرعت کښی دقت او نعمق نه ځايږی.

# قوی او ضعيف

ددنيا دود اودستورخودادی چه زوروربه کمزوری وهی اوضعيف به دقوی له لاسه په عذاب وی،مګرپه کورونوکښی دمينی او محبت تقاضابل رازده.
هلته يو کوچنی ماشوم خپل مشروروريه څپيړه وهی او هغه ورته خاندی يعنی له ټولونه کمزوری په ټولوزوروردی.
ماته دغه کورنی دود اودستورډيرښه ښکاری اوله خدايه غواړم چه دارواج عام شی.
پدی پوهيږم چه په هرکاله کښی همدغه حال دی اوپه هره کورنی کښی کوچنيان په لويانوزورراوزړه وردی.
دکبراوترسا په کاله کښی هم کوچنيانوزورچليږی اوجوړدناجوړ په مخکښی منډی وهی مګرچه له کورونونه دباندی وګورونوبيا قوی په ضعيف مسلط دی.
ددنيا طبعی قانون همدغه دی چه غټان اولويان به په وړو اوبيوزلو سوک اوڅپيړه پورته کوی اودقوت خاوند به هيڅ تحمل اوحوصله نلری.
ددغه ظالمانه قانون دماتولودپاره چه پاک خدای څه شی پيدا کړه هغه مينه اوعاطفه ده.
دمينی اومحبت په نړی کښی ضعيف اوکوچنی دلوی اوقوی له څپيړولاندی ندی، بلکه کوچنيان په لويانوحکومت کوی اودوړوپادشاهی ده.
مونږښځه عاجزه بولو ،مګرمينی اومحبت ډيرزورور اوپياوړی ددوی دخوښی اورضاتابع کړيدی.
څنګه چه په زړه زما نه کښی ديوان دښاپيريو تابع وو اوس هم دقوت اوقدرت خاوندان ددغه ضعيف اولطيف جنس په مقابل کښی ډيرضعيف معلوميږی.
که عشق اومينه په مينځکی نه وی نوددیواوښاپيری زورهيڅکله برابرندی. اويوماشوم هيڅ وخت دسپين ږيرو په ږيره لوبی نشی کولای اونه دمشرانوپه اوږوسپريدلی شی.
يوه ورځ يوه ماشوم يوغټ سړی له لمنی ټينګنی نيولی و، اوکاله ته يی په زوره بيوه هغه خپله لمن دده له لاسه خلاصه نکړی شوه که څه هم دده زوراودهغه زوربرابرنه و،دماشوم مينی اومحبت دماشوم په پنجوکښی دغه قوت ايښی وچه يولوی سړی يی په ځان پسی را ښکوده اوهغه هم ځان نشوخلاصولی.
که زما فکرصحيح وی اوقوت اوقدرت هماغه دپخوا زمانی ديودی، اومينه هماغه ښاپيری ده چه ديوان يی له فرمان لاندی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که دميني او عاطفي ماشوم د هرڅنګه لوی سړي ګريوان ته لاس واچوي يا يې لمن ټينګه ونيسي ځوک ترينه ځان نشي خلاصولی ځکه چه دا قوت په ټولو قوتونو زوروردی.
زه مينه او عاطفه دزوراو قوت په مقابل کښي ځکه ما شومان بولم چه زوراو قوت ډيرپخوا پيدا شويدی او انساني عاطفه آنساني رحم او شفقت وروسته پيدا شوه يعني هماغه شان چه فرعون له موسی نه دمخه دنيا ته راغی حيواني غرايزهم له انساني عواطفونه ډيرپخواني دی او دعمرپه لحاظ عواطفوته کوچنيان ويلی شو ، مګرکوچنيانو ته پاک خدای هغه قوت ورکړيدی چه فرعونان ترينه په خوب کښي هم ويره اوبدبد خوبونه ويني.که څوک په دنيا کښي دصلح او سلام غوښتونکي وی او غواړی چه دناروا او ظلم مخه ونيسي نو يوه داسي اختراع په کارده چه دعشق او ميني له عنصرنه پکښي کارواخستل شي.
دا اختراع ددماغ کارنه دی دزړه کاردی او دزړه توجه ته ضرورت لري.
پدی باب کښي ساينس او تخنيک ته رجوع نه ده په کار دا افتخارکه هروخت دنيا ته حاصليږی نو دشعراو ادب په لمن کښي به وی او دزړونو په مملکت کښي به پيدا شي.

## ښه ګټه

قصابي پريږدی. له ميږو او پسونونه بل شان ګټه واخلی !
دوريو له پوستکونه پوستينونه مه جوړوی له وړيونه يې ښه توکی جوړ کړی.
که تاسی وړين کالی واغوندی ، پوستين ته څه حاجت نشته.
هغه وخت چه انسان نه پوهيده دميږو اووزو پوستکي يې اغوستل ، کله چه انسانيت ترقی وکړه او شپون درمی خاوند شو بشمنيه پوشي رواج شوه اودزاهد خرقه له وړيو جوړه شوه.
دميږو او پسونو له غوښونه دغروليوان او پړانګان استفاده کوی او شپانه ترينه يوازی پي اووړی اخلي.
دوحشي او مدني انسان فرق همدغه دی چه هغه دوني ښاخ راماتوی او ميوه يې خوری ، دی ترينه يوازی ميوه ټولوی اوونی ته زيان نه رسوی.
داګټه ښه ګټه ده دانسان ګټه بايد همدغه رازوی.
دګټي ښه او سمه لاره پيژندل دانسان کاردی ،ګټه په کاراو زيارکيږی او بي کاره ګټه ښه نه ده.
هغه کسان چه دنوروپه تيارودرمندو داړی غورځوی او دګټي دپاره يې لنډه لارغوره کړيده لاسونه او پښي يې دتړلودی.
تاسي کوښښ وکړی چه ګټه له لری ځايه راوړی او دکاربرخه پکښي زياته وی.
هغه چه دکلي په دکان کښي سودا کوی او هغه چه له لری ښاره سودا راوړی په متاع او بها کښي يې ډيرفرق موجود وی.
تاسي پخپلو باښواو بازانو دهمسايه ګانو چرګوړی مه نيسی ! دهوا مرغان اودغرونوزرکی او سيسی ونيسی.
له نژدی ډنډونو څخه ناپاکی اوبه مه راوړی لږلری لاړشي له هغه سيند ياله هغی چيني نه ربي اوپاکی اوبه راوړی چه رنګ او خوند يې ډيرښه دی.
دا ښه ګټه نه ده چه يوه روپۍ په دوروپو ورکړی او خوشي په خوشي دګټي خاوندان شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



گټه باید په غیرمستقیم ډول وی او کارپکښی دیر دخل ولری.
په مستقیم ډول هیڅوک څره او پارو دغلی په کندوانو کښی نه اچوی مگرهغه غله چه له همدغه ناپاک جنس څخه دکارپه وسیله پیدا کیږی پاکه او حلاله ده.
لنډه دا چه بی کاره گټه که په غلاوی که په سوال وی که په زوروی انسان ته نه ښایی او هغه گټه چه په کار او زیار پیدا کیږی ډیره ښه گټه ده.
نوراشی ! چه کاروکړو او هرڅه په کارپیدا کړو.
ښه کار او ښه عمل دخدای(ج) په دربارکښی ډیرقدرلری او په مثقالونوخرڅیږی.

# داخترپه ورځ

داخترپه ورځ ځینوکورونوته ولاړم چه دښایست او ښکلا پکښی هیڅ نیمگړتیا نه وه او له ډیری خیالوری ناوی نه یی هم ډول او سنگارزیات معلومیده.
دکورپه نقشه او هندسی شکل کښی دجمال مظاهرله ورایه معلوم و ،رنگ آمیزی په ذوق او سلیقه برابره وه.
دکورپردی ډیری ښکلی وی.
قالینی میزونه،چوکی او هرڅه ډیرنفیس او ښکلی معلومیده.
رازراز میوی په بلوری لوښوکښی ایښی وی او بی له اشتهانه دبل شی نیستی نه وه.
دثروت او غناټولی کرشمی موجودی وی.
عیش او نعمت لکه دسید محمود پاچا لټان له دغه کاله څخه نه وتل.
که ددنیا جنت ورته وو ایم څه ډیره مبالغه به نه وی مگردومره فرق و ، چه ډیروغټوگنهگاروته یی وربیرته وا و ساده مسلمانان نشوورتلی.
هلته ماته دا فکرپیدا شو چه مونږ ولی هغوکورونوته نه ورځو چه دغه راز شیان پکښی نشته او یوازی همدردی او انسانی عاطفه سړی ورولی کله چه له دغه کاله په خیرراووتم نوفکرمی کاوه چه چاته ورشم او څوک ووینم؟ پدی کښی یوفقیروطن دوست سترگوته ودریده چه نس یی وږی مگرسترگی یی ډیری مړی وی، په کورکښی یی هیڅ نه و ، مگرپه زړه کښی یی دوطن مینه او دخدمت آرزو ډیره زیاته وه.
زه چه دهغه دروازی ته ورسیدم پنځه تنه نورهم به په دروازه کښی وه دریدل دکورخاوند ددروازی په ټکولوراووت اوله مونږ سره یی په ډیره مینه روغبړوکړ ، دهغه له وضع دا معلومیده چه له مونږ سره پخپل کورکښی کښیناستوته نه دی جوړ او غواړی چه خبره په ولاړوپښوخلاصه شی مگرزمونږ زړه غوښتل چه څه شیبه ورسره کښینو او دده له حاله ځان ښه خبرکړو ، هغه له ناکامه مونږخپل کاله ته بوتلو دکاله په مخکښی یوزړه چوکی او یوزوړشکیدلی کټ پروت و ، چه خاص دمیلمنودپاره و ، او بی له ملیمه څخه یی دیوه پوزی تحمل هم نه درلود مونږ دوه دری تنه دکټ په بازوگانوکښیناستو او نورپه خاوروکښیناستل څودقیقی چه تیری شوی هغه مونږرخصت کړو او نوریی ونه غوښتل چه خپل اشنایان په سپیره ډاگ کښینوی.
پدی کاله کښی داختروځ لکه دروژی ورځ داسی وه او په تمامه معنی دیوه غریب سړی کورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دده درویشانه ژوند اوصبروقناعت ماته ډیرمعظم اومحترم ښکاریده اوله ځانه سره می ویل هغه افتخارچه ددی کاله په برخه رسیدلی دی هغه بل کورترینه محروم دی.
هلته که غنا اوثروت خپل زیب اوزینت ښیی دلته تقوا اوپاکنفسی خپل شهامت ځرګندوی اوقلندرانه استغنی سترګوته دریږی.
دا هغه سړی دی چه دیوه شرکت لویه سرمایه یی په لاس کښی وه اوکله به یی دوه لوی ریاستونه په اختیارکښی وو.
که چیری ده ناجایزه استفاده کولی یایی جایزه استفاده هم پوره کړی وای نن به دغسی نه واودده دکوټوفرش به دنیستی باد دومره ژرنه وای وړی.
مګرګوری چه پدی سړی باندی زړه ونه سیزی اوپه حقارت ورته هیڅکله ونه ګوری.
زه هم داحال ددی دپاره نه لیکم چه دچا ترحم ورته جلب کړم ځکه چه دی دنیاته په حقارت ګوری اوله ده سره دبی نیازی غرورملګری دی.
دده په نظرکښی خپله تقوا ډیره درنه معلومیږی.
دی ځانته په ډیردرانه نظرګوری اونوروته هم ډیردروند ښکاری.
مونږباید په هغه چا زړه وسیزوچه له ډیرمال اودولت سره هم ځانته دغه حیثیت اوشخصیت نشی پیدا کولی بعنی په لوړ مقام کښی خلقوته تیټ معلومیږی اوپه ډیرلوی کورکښی هرچاته وړوکی په نظورځی هغه ځوک غزة النفس لری اودخلقوپه نظرکښی دشخصیت خاوند دی په هغه زړه سوی نه دی په کار.
خرقه پوشو په خرقه کښی موندلی * هغه خط چه په دنیا کښی دنیادارکا

## خانی لاړه

په موټرکښی سپاره وو ، یوخانزاده غوندی سړی هم په موټرکښی ناستو ، دتیروخت زړی قیصی یی کولی.
هغه وویل: پخوا موټرونه نه و ، مونږبه په اسونو سپاره وو نوکرانوبه موپه مخکښی منډی وهلی.
هغه وخت خان اوغریب معلوم و ، خانزاده اودآب سړی پیژندل کیده عام اوخاص یورنګه نه وو.
اوس هرسړی په موټرکښی سپریږی، اونوکردبادارله څنګه ناستوی.
چه موټرونه راغله اوغریبان پکښی سپاره شوه خانی لاړه.اوباداری بی رونقه شوه.
دخان قصه ډیره اوږده وه خودمطلب ټکی داو ، چه خانی لاړه ځکه چه خواران اوغریبان په موټروکښی سپاره شوه.

## یوازی

ماشومان، ځوانان، سپین ږیری دپسرلی میلی ته روان و ، زه هم له دوی سره ولاړم اوپه ډیروګڼوخلقوکښی ننوتم.
هلته دپښی ایښودوځای نه و ، اوبی حسابه مخلوق راغونډوو.
نه پوهیږم چاله مانه پوښتنه وکړه چه ته یوازی یی که ځوک درسره شته؟ ماوویل: زه یوازی یم.
همدغه وخت زه دیوازی په معنی پوه شوم اوداراته معلومه شوه چه په ډیروګڼوخلقوکښی هم سړی یوازی ویلی شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فاتح

سکندر له ډېر قوت او ډېرو لښکرو سره ښار ته راغی د ښار له خلقو سره یې ځو ځله زورور جنګو وکړه .
له دواړو خواوو نه ډېر خلق ووژل شوه ،ډېری وینې توی شوی ،ډېری ککری له پښو لاندی شوی ،وروسته له ډېرو جګړو هغه د مړو په سرونو پښې کېښودی او دلوی فاتح په حیث ښار ته ننووت.
دی ډېر په قهرو ، ده غوښتل چه ښار لوټ کړی ځکه چه په ښار کښې یو پټ قوت موجود و چه ده ورسره مقابله نشوه کولی.
دی چه ښار ته ننووت په یوی ډېری ښکلی پیغلی یې سترګی ونښتی او په یو ځل لیدو یې زړه بایلود.
څوک چه بې زړه شی هغه بیا جنګ او جګړه نشی کولی ځکه ده هم له خپل ټول قوت او قدرت سره ځان دغی پیغلی ته وسپاره.
دغه لوی فاتح چه د عشق او مینی په پنجو کښې ګیر شو ، بل راز شو او دخپلی معشوقی د خوښی د پاره یې د ښار د خلقو خدمت ته ملا وتړله.
دغه وخت دا معلومه شوه چه دی فاتح نه و فاتح بل څوک و.
دی پدی نه پوهیده چه ډېر زور او قوت خپل ځان یوه قوت او قدرت ته سپاری چه له سلطان او شهنشاه نه د خلقو خدمتګار جوړوی.
په رښتیا چه د عشق مقام ته رسیدل هم څه آسانه کار نه دی او د ښکلا په دربار کښې پادشاهی هم په تعظیم او احترام سر ټیټوی.
هلته محمود د ایاز تابع دی او سکندر هم په یوه نظر بل راز کیږی او قهر و عضب خپل ځای مینی او محبت ته پریږدی.

# لباس

بدرنګه خیاط و ، مګر کاریې ښایسته و او کالی یې ډېر ښه ګنډل.
د فیشن خاوندانو خپلی دریشی به په بل چانه جوړولی ، هرچا به ویل چه فلانکی ډېر ښه خیاط دی ، دده په شان ښه لباس بل څوک نشی جوړولی.
دغه هنرپد غه سړی کښې ډېر غرور او تند خوی پیدا کړی و ، یعنی څومره چه دده څیره سپې وه هغومره یې خوی هم د سپی و مګر د غو د وو سپو د چا مخه نشوه نیولی او د خلقو هجوم په ده باندی ورځ په ورځ زیاتیده ځکه چه صنعت او هنر په ده باندی د ښه خیاط نوم ایښی و.
که دغه سړی له دغی ناشولته څیری او خپل بد عادت سره ښه خیاط نه وای له ده نه به بدبخته انسان بل نو ،یا به دی هغه وخت د ښه سلوک او ښه خبری خاوند و او سیرت به یې بلا رازو ، یعنی ښه خیاط به نه و ښه سړی به و ، مګر اوس دده هنر او کمال ښه خوی ته ضرورت نلری او دده په بد خوی او بده څیره یې ډېره ښه پرده غوړولی ده ځکه هرچا ته ښه ښکاری او هر څوک ورته په قدر او عزت ګوری.
فن او صنعت ډېر ښکلی شاګردان دده لاس لاندی کړه او ډېرو ښکلو دقد او اندام اندازه اخلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه دغه خياط پدی حقيقت ډيرښه پوه کړم چه دانسان حقيقت په صنعت او هنرپټيږی ځکه دغه سړی د خلقو په نظر کښی محبوب دی او هرڅوک يی دزړه ساتلو کوښښ کوی.

هماغه شان چه يو بد رنګه مخ له ښايسته پلولاندی پټ دی او د هرچا نظرځانته راکاږی دا خياط هم د ښه لباس په جوړولو کښی پټ دی چه څوک يی حقيقت ته نه ګوری کار او لياقت ته يی ګوری.

د ښه لباس اغوستل خو په ځای پريږده جوړول يی هم دغو مره اثرلری چه بد ښه کولی شی.

لباس په لومړی وخت کښی د ځان پټولو د پاره جوړشو ، چه پخوا يی ښايست هم پټاوه او د ښکلا مخه يی نيوله خو وروسته پخپله دو مره ښکلی شو چه دانسان اصلی او حقيقی ښايست يی له هرچانه هيرکړ او د طاوس د ښو کارترينه واخستل شو.

دانسان لباسونه ډيرزيات او خورا زه دی چه ځينو ته مونږ دلباس په نظرنه ګورو هغه ښايست او ښکليتوب چه دانسان په صورت او ځيره کښی وينی له يوه لباس نه زيات قيمت نلری که څه هم په ډيرجګ نرخ خرځيږی او له انسان نه يی قيمت ډيرلوړ شويدی.

په دغه قيمتی لباس کښی هم دانسان عيبونه پټ دی او ستارالعيوب دا ښکلی پرده دستر دپاره دانسان په معايبو اچولی ده.

هغه چه مونږ ورته خوبان وايو او ډيرښکلی په نظر راځی مونږ پری زړونه بايلو او عشق ورسره لرو مګرپدی نه پوهيږو چه څومره بد خويونه او ناکاره عادتونه په دغه ښکليتوب کښی پټ دی، که دا خری او دا عادت په بل چه کښی وی ډيربد ورته ګورو مګر دلته دصورت ښايست د سيرت عيب پټ کړی او په همدغه وجه دليلی سپی د مجنون په نظرکښی ښاغلی دی.

دهمدی لامله د معشوقو جفا له وفانه ښايسته ده او د ښکلو ظلم او ستم د ظالمانو ظلم غوندی بدرنګه نه وی.

مونږ علاوه په دغو ظاهری لباسونو معنوی لباسونه هم ځان ته پيدا کړی دی چه يوله بله پکښی ځان پټوو او په دغه وسيله خپل حقيقت له پوهانو او هوښيارانو نه هم پټ ساتلی شو.

د دغه لباس نوم پوهه او هوښياری ده چه د علم او معرفت په نامه ياديږی.

هغه چه زمونږ په نظرکښی عالم،فيلسوف يا اديب او هنرمند معلوميږی د هغه عيبونه د علم او پوهی له پردی لاندی پټ دی چه مونږ يی ښه نه وينو يا يی ډيرښه وينو او نقص راته کمال معلوميږی.

څنګه چه فصاحت او بلاغت کله حق ناحقه کوی او غلط صحيح ښی د فصاحت او بلاغت خاوندان هم له ډيرو عيبونو سره زمونږ په نظرکښی ښاغلی ښکاری او اصل حقيقت يی رانه پټ دی.

هو ! د جمال او کمال خاوندان او د علم او مينی صاحبان د ډيرو ښکلو او ښايسته پردو ترشا پټ دی چه مونږ يی اصلی بڼه نشو ليدلی.

د منطق او بيان خاوندان خپله بدی هم نيکی ښودلی شی او د بل نيکی بدرنګولی شی.

د دی عصرسحر او جادو به په دغه ډول زمونږ په سترګو او نظرلوبی کوی.

ډيروخت په کاردی چه انسان طلسم هم مات کړی او حقيقت ته ورسيږی يا له يو بل طلسم او بل سحرسره مخامخ شی.

مونږ اوس انسان نه وينو يا دانسان رنګ او صورت وينو يا يی په وينا او خبرو کښی ګورو که ډيرو ړاندی لاړ شونو کار او هنريی وينو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دانسان حقيقت صورت نه دى، پوهه نه ده، فصاحت اوبلاغت نه دى، په کاراوصنعت کښى هم دانسان فطرت اونفسى کيفيات ځوک نشى ليداى.

داټول شيان دانسانى حقيقت دپټولواوښه ښودلورنګ رنګ لباسونه اوحجابونه دى.

دانسان غرايزاوخويونه دانسان اصلى حقيقت دى چه ډيرى پردى يې په مخ پرتى دى.

انسان پس له مړينى په قبرکښى هم بى پردى نشى اوسيدلى اوچيرته چه دى نه ځان وينى اونه بل وينى بيا هم بايد په کفن کښى پټ وى ځکه چه دده ټول عزت اوحرمت پدى کښى دى چه بى پردى نشى اوڅوک يې بى پردى ونه وينى.

هغه انسان چه په عبادت کښى يې ريا پټه ده، په هوښيارى کښى يې ښيطانت پټ دى اوسخاوت يې هم ديوه داسى پټ تجارت نوم دى چه له ګمرکى محصولاتونه هم معافيت لرى هغه ترقيامته له نورونه ځان پټولى شى.

داسترلکه دښځوحجاب اوحيا هغه شى نه دى چه دمدنيت اوتجدد شمال يې له مخه لرى کړى.

په دغه سترډيربى پردى خلق هم ډيرټينګ دى.

چيرته چه دنن جامى ډيرى لنډى شويدى اوخلق دصورت دبربنډولوډيرهوسى لرى هلته هم دانسان سيرت اوحقيقت په ډيروپردوکښى پټ دى.

په انسان کښى ځينى ضعيفى جنبى شته چه له ډيرى حيا نه خپل خاوند ته هم ځان پوره نه ښى اوانسان ورته له ډيرخجالته سم نشى کتلى همدغه سبب دى چه هرڅوک خپل ځينى شيان هيروى اوخپلوعيبونوته داسى اصلاحى رنګونه ورکوى چه پخپل ځان يې ګمان بل رازشى اوخپل شعورهم وغولوى.

نن د انسان څيره په تلويزيون کښى له ډيرلرى ځايه ښکارى مګرد انسان معنوى څيره اوباطنى تصويردومره پټ دى چه سړى پخپله خپل ځان پوره نشى ليداى بلکه خپل عکس دنوروپه نظرکښى وينى. که چاته ښه ويل هغه ځان ښه ګڼى اوخوشحاليږى که خلقوڅوک بدوګاڼه له بدوخلقوسره په زندان کښى لويږى که څه هم يوسف يا سقراط وى.

همدغه وجه ده چه له ډيروخلقونه دستايونکوپه ستاينواودمتمليقينوپه منطق ځانونه ورکيږى اوخپل شان بل شان وينى.

دهمدغى اغيزى په سبب اوس دځينورنځورانوعلاج په خبروکوى اوډاکتران ورته وايى چه ډيرښه يې اوهيڅ مرض درکښى نشته يعنى دغه ددروغوشاهدى ناروغه هم ښه کولى شى اويوطبى علاج ګرزيدلى دى.

زه دامنم چه په دنيا کښى ښه اوبد شته مګردښواوبدوپه پيژندلوکښى دومره سودايى شوى يم چه دغه تميزرانه ورک شوى غوندى دى.

کيداى شى چه مونږډيروکسانوته په دروغو ښه ووايو اوهغه ښه شى يا ډيرښه بدوګڼواوهغه بد شى ځکه چه زمونږ ښه اوبد زمونږدتصوراوتفکرنومونه دى نه دحقايقو.

مونږ هغه چاته ښه وايوچه زمونږپه اونظرکښى ښه وى نه داچه په خارج کښى ښه وى يا يې حقيقت ښه وى.

مونږڅوسوه اوڅوزره کاله پخوا هم ښواوبدوپه نامه ځينى شيان له ځينونه ښه ګڼل اواوس هم ښه اوبد يو راز نه ګڼو، ښايى چه بد ښه وګڼواوښوته بدووايواوپه همدغسى تميزځان له بى تميزى وژغورو.

مونږظلم بد ګڼواوعدالت خوښوومګرځينى مظالم راته دعدالت په خيرښودل شويدى اوډيروبدوخلقورا ته ځانونه ښه ښکاره کړيدى، يعنى منطق اواستدلال، ريا اوتذوير، تعراوادب، عقل اوفلسفى، عرف اوعادت، سياست اوتمدن کله له سمى لارى نه اړولى يواوزمونږ په شعوراواحساس يې هرراز لوبى کړيدى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا کارهرکله اوهرچيرته پوهانو اودهنرخاوندانو کړيدی احمقان او ساده ګان دخدای(ج ) له دغسی سترو ګناهونو ساتلی دی.
که مونږ له ښارونو اومدنی دنيا نه په څنګ شو اونا پوهانو ته ورشوهغوی خپل ځانونه له نورونه دومره نه دی پټ کړی.
دهغوی اعراض اومطالب دومره لوڅ دی لکه دمتمدنو خلقو ميرمينی.
هغوی دحقايقو په پټولو کښې ډيره لږه برخه لری اوژبې يې له زړونو سره ډيرغدراو خيانت نه کوی.
هلته دوستی اودښمنی، ګناه اوتعدی، ظلم اورحم ځان بل راز نه ښې، ريا اوټګی دهغوی کاله ته ډيره لاره نلری.
هلته دصداقت ځای سياست نه دی نيولی.
هغه خلق ډيرلباسی خلق نه دی اوپه ډيرساده لباس کښې ژوند کوی.

## خيرات

ډيرغټ سړی مړ وو اوپه بدرګه کښې يې ډيرپسونه غوايان اوچرګان حلال شوه.
دا خيرات ډيرلوی اوزورورخيرات وه چه دشاهانه ميلمستيا رنګ يې درلود.
دخيرات دانتظام دپاره ډيرخلق مقرروو اوډيروښوا شپزانو پخلی کاوه دخدای دررضادپاره رازراز نعمتونه اوهررنګه طعامونه تيارشوه. خلق لکه ميلمانه په تګټونو راوبلل شوه اودهرچاځای معلوم و.
هغه چه په ګړنديوګاډوکښې راغلل دننه قصرته ننوتل.
دخانانو اوملکانودپاره بيل ځای و. مامورين اوميرزايان ګوښې ناست ودسوداګرو اوزميندارودپاره بل ځای جوړشوی و.
هرچاته دهغه په اندازه برابره ډوډی راتله.
دهرچادرجه اومرتبه معلومه وه.
دعاموګړودپاره غټې وريجی وی اوله معتبرونه بيل ناست وو.
ځينی خواران اوفقيران که څه هم وږی پاته شوه اوچاهلته پری ننښودل مګردآب اوعزت خلق په ډيرښه شان عذرشوه اودزوروروقدراوعزت پوره وشو.
ددی خيرات قصی ترډيره وخته کيدلی اوهرچا به ويل چه ديرزورور خيرات وو ډيری پيسی پکښې ولګيدلی.
هلته يوړوند اويوشل ناست و، هغوی وويل افسوس چه زمونږ برخه پکښې نه وه اومونږ هلته چاپری ننښودو.

## دزيارت ډيوی

دجمعې مبارکه شپه وه، خلق زيارت ته رابلل اوشمع به يې بلولی، ځينو به په خاورينو ډيووکښې تيل اچول اوډيوی يې لګولی، په زيارت کښې ډيری ډيوی روښانه شوی اوخلق بيرته خپلو کورونو ته لاړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته هيڅوک پاته نشوه او ډيوی تولی دزيارت په اروا بلی وی زه چه کوراوکلی ته راغلم په کلی کښی دغريبانو کورونه تياره و.هغوی تيل نه درلوده ځکه په تورتم کښی ناست و.

څوک چه په ثواب پسی ګرزيده ټولو دزيارت ډيوی ولګولی اودخوارانو غريبانو له حاله ناخبره و.

هو !دغريبانو په کورونو کښی تياره وه ځکه چانه ليدل.

په دوی باندی يواځی دخدای نظرواوبس.

ددوی ډيوی دی خدای ولګوی مونږ به دزيارت ډيوی بلوو.

## دمزارلوحه

کوپه کوراوکلی په لی به ګرځيدمه اودخدای په نامه به می څه غوښتل چابه يوموټی نا پاکه غله راکړه اوچابه سوی ډوډی را کوله.

ډيروکورونوبه ځواب راکاوه اوځينوبه په دروازه کښی هم نه پريښودم څوورځی ديوه اوبل له درګاه نه وړی اوبينوارا غلم.

هيچا هيڅ رانکړه، له ټولو خلقونه می زړه بد شو ، دنيا ته می په کرکه وکتل، خدای ته می رجوع وکړه اوپه دغی کوټنی(قبر ) کښی پريوتم.

هغه چه زه به يی په دروازه کښی چا نه پريښودم اوس ماته لاس په نامه ولاړوی له مانه څه غواړی.

زماپه نامه زما کوټنی ته هرڅه راوړی اودخدای په نامه خوارانو اوغريبانو ته سوی مړی هم نه ورکوی.

## لياقت

يوه ويل: دغه مديردوزارت لياقت لری اوهغه وزيربی لياقته لوړمقام ته ختلی دی.

زما ملګری پدی خبره هغومره خوشحاله شولکه زه چه خپه شوم.

ماويل لياقت بايد دومره بی قدره نشی.

هغه ويل ديومملکت دترقی اولوړتيا لوی دليل همدغه دی چه لياقت پکښی ډيرقيمت ونه لری، چيرته چه علم اوپوهه ډيره ترقی وکړی هلته بيا ډاکتران اوپوهان ځان ته کاراوډوډی نشی پيدا کولی اودلوړوشهادتنامو خاوندان يا وزګارګرزی يا چيرته ټيپراوګازری خرڅوی.

په مترقی هيوادونو کښی يو پليس يا ډريورهم لوړتعليم لری اويودهقان دکرهنی په کارکښی زمونږ له ريس زراعت نه ډيرپوه معلوميږی، دلته چه لياقت ډيرلږ دی اوله لږوخلقو سره دی نويوسړی په لږ غوندی پوهه خدای نظرخان شی اولوړمقام ته خيژی، زه په دی ارمان يم چه زمونږ په هيواد کښی هم لياقت ډيرارزانه شی اوله خارج نه يوه عالی شهادتنامه راوړل څه ډيرقيمت ونلری.

زه به هغه وخت ډيرخوښ يم چه يوسړی دوزارت لياقت ولری اوپه ډيرټيټه رتبه کاروکړی.

زما ملګری دخبروپه چل ډيرښه پوهيده اودبل په خوله کښی يی خبره وچوله ماته دخه ويلوموقع ډيره لږه پيداکيده،هغه ته ما ايله همدغومره وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه پدې نه یم خوابدی چه یو مدیر د وزارت لیاقت لری او وزیرنه دی ځکه چه وزارتونه هرچیرته لږدی او لایق کسان باید په هرځای کښی دومره ډیروی چه هریوه ته مدیریت هم ونه رسیږی مګردا بله خبره که ربښتیاوی چه یو سړی بی لیاقته لوړ مقام ته ختلی دی په ډیری خوابدی ارزی او دلیاقت په دغسی بی پتی په سروسترګوژړل په کاردی، که چیری دهیواد ټول کارونه دلایقو خلقو په لاس کښی وی او ځینی لایق او وړ کسان وزګارپاته شی یا دهقانی وکړی څه بده خبره نه ده.

هغه وویل زه نه پوهیږم چه ته لیاقت څه ته وایی ځکه چه سیاسی او اداری لیاقت لکه دبوډی ټال مختلف رنګونه لری او یوهوایی نمایش ورته ویلی شو.

دالیاقت لکه علمی او فنی لیاقت یوټاکلی او معین شکل نلری چه هرچیرته او هرکله هرچاته یوشان ښکاره شی او ټول ورته په یوه نظر وګوری.

ته داومنه چه علمی او فنی لیاقت، سیاسی او اداری لیاقت، اخلاقی او روحی لیاقت یوله بله فرق لری او دغه ټول لیاقتونه په یوه سړی کښی ډیرلږ جمع کیږی.

داښه کارنه دی چه مونږ له هرسیاسی او اداری شخص نه داخلاقی لوړتیا انتظارولرویا ترینه علمی او فنی لیاقت وغواړو.

دیوه سیا ستمداراواداره چی سړی لیاقت دادی چه خلقوته ځان او جهان په بل رازوښی او څه چه ځانته روا ګڼی دنورو دپاره یی ناروا وګڼی، یعنی په خپله هره شپه قماروهی او نوروجوارګروته سزاورکړی، دی دبزم په مجلس کښی هرڅه وکړی او په نوروباندی ټنګ تکوودروی.

پخپله نه انجنیروی او نه مهندس مګرعلمی او فنی کسانوته لازمه هدایات ورکړی او به کاریی واچوی، ده په کوم مکتب یا مدرسه کښی څه نه وی لوستی مګردښونځیو امتحانونه واخلی او ښوونکوته دعلم او معارف په باب ګټوری وینا وی وکړی.

ده ویل ما دخپل ماموریت په وخت کښی خپل لوی لوی آمران ولیدل چه دمطبوعاتی چاروپه باب یی ما ته هدایتونه راکول مګردغه کلمه یی (مطبوعاطی ) لیکله، داخترونو په ورځ به یی پخپلورسمی نطقونو کښی دعدالت ګستر په ځای رعیت ګسترویلی.

ښه می په یاددی چه یوه ورځ چا دده دپاره میلمستیاکړی وه چه هرڅه دیرزیات و، مګردکیفیت په لحاظ یی خونده نه وه، هلته یوه مدیروویل دامیلمستیا دکمیت په لصاظ دستا ینی وړده مګردکیفیت په لحاظ یی مزه نشته. زمونږ آمرچه دیرلوی کاردارو مګردکم او کیف په معنی ښه نه پوهیده هغه ته وویل چه:(کمیت نګوکثرت بګو ) زه دغه وخت پدی پوه شوم چه اداری او سیاسی اشخاص علم ته ډیراحتیاج نلری دوی پخپل قوت او قدرت لوړمقام ته رسیدلی شی او پوهه دلاس لاندی خلقودپاره ډیره په کارده.

ماته دا معلومه شوه چه علم عادی لیاقت دی او قوت دفوق العاده لیاقت نوم دی، په فوق العاده لیاقتونو کښی ځینی هغه لیاقتونه هم داخل دی چه هرڅوک یی نشی لیدی او بلا تشبیبه له سحراوساحری سره شباهت لری چه زرنګ، چلاکی، خودنمایی او عوام فریبی ورته ویل کیږی او دچانس او تصادف برخه پکښی زیاته ده.

کوم قوت او قدرت چه داداری او سیاسی کسانو په برخه رسیدلی دی هغه دیوه روحی تاثیرپه وجه دفوق العاده لیاقت رنګ پیدا کوی او دجلال او عظمت په رڼا کښی دیرمعمولی لیاقتونه فوق العاده معلومیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ښه فکرو کړو اوونه غولیږو نو لیاقت او کفایت د زور او قوت د وهم نوم دی او علمی یا فنی لیاقت په هر وخت او په هر ځای کښی د قوت او قدرت تابع دی.

افلاطون او ارسطو که په هر ځای کښی وی د سکندر لاس لاندی نه وی او سقراط به په زندان کښی د زهرو کنډول په سر اړوی.

هغه کسان چه اوس په مدنی دنیا کښی د دیموکراسی په اساس د آرا په کثرت لوړ مقامونه نیسی هغه هم په علمی لحاظ لوړ خلق نه وی بلکه له ځینو نورو نه یی لیاقت ښکته وی په اخلاقی لحاظ هم دوی په نورو څه تفوق نلری مګر په یوه ساحرانه قوت له خپلو حریفانو نه میدان وړی او په ځینو پټو وسایلو یا غولوونکو شیانو عمومی توجه ځانته را اړوی.

دا د منلو خبره ده چه ځان د خلقو په سترګو کښی ښه ښودل او لوړ مقام ته رسیدل ډیر ځله د خلقو د غولولو او ځان بل راز ښودلو نتیجه وی او ډیر لږ کسان دی چه د یوه حقیقی لیاقت په مرسته یوه عالی مقام ته رسیږی او په اخلاقی فضایل په عالم کښی محبوبیت پیدا کوی.

یو اجتماعی عالم د خپل علمی تحقیق په رڼا کښی وایی

هغه څوک چه په رښتیا له ټولو اجتماعی عیبونو یعنی له خود پرستی له تعصب له خطاکاری او له ریا او دروغو نه خلاص وی له اجتماع سره به هیڅکله موافقت و نشی کړی او هره کوره به انزوا اختیار کړی.

که دغه خبره رښتیا وګڼو نو هغه لیاقت چه خلق یی خوښوی او په خلقو اغیزه لری بله قیافه پیدا کوی او داسی مثال لری لکه چه یو بدرنګه مخ په ډول او سنګار ښایسته و ښودل شی.

همدغه سبب دی چه ځینی بدرنګه مخونه خلکو ته ښه ښکاره کیږی او ځینی ښایسته مخونه چه د حیا او عفت په پرده کښی پټ دی د چا توجه نه جلبوی.

لیاقت کله لکه لوړ برج له ډیر لری ځایه نظر جلبوی مګر هیڅ پکښي نه وی او بی له نموده نور څه نلری.

کله کله ورانه کنډواله ګنجونه پکښی وی او څوک یی نه وینی.

ما دغه راز ډیر مختلف او متضاد لیاقتونه لیدلی دی او پوهیږم چه هر لیاقت ښاغلی نه دی.

ډیر خلق دا هم لیاقت بولی چه سړی قلبه روپی په بازار کښی و چلوی او په یوه روپی د دوو روپو مال واخلی ځکه په لیاقت باندی ډیره ښه عقیده نلرم او ډیر ځله را ته دغه متاع لکه د غلا مال که هر څومره قیمتی وی ارزانه او بی قیمته معلومیږی.

## کوچنیان

زه نه پوهیږم چه و مونږ ولی کوچنیانو ته په کوچنی نظر ګورو، یعنی ولی ځانونه لوی ګڼو او دوی کوچنی بولو؟ ښایی چه پدی خبره زه ساده غوندی ښکاره شم او زما دغه خبره د کوچنیانو خبره وی مګر څه وکړم زه په رښتیا تر اوسه ښه نه یم پوه شوی چه لوی څوک دی او کوچنی څوک دی؟ ځینی کسان چه د لویوالی دعوه کوی او ځانونه لوی ګڼی ما ته کوچنی او واړه په نظر راځی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښايي چه ددی سبب همدغه وی چه زه پخپله کوچنی یم.
دیوه کوچنی ماشوم زمکه او اسمان هم ډیرلوی نه وی او لمریا سپوږمی ورته یو ټیکلی ښکاره کیږی.
ددنیا لکونه او کروړونه هم دماشومانو په نظرکښی له څوشلونه زیات نه دی او هرڅه کم په نظرورځی.
پاته شوه دابله خبره چه کوچنیان زما په نظرکښی خدای ولی لوی کړیدی او زه څله هغه چاته په لویوالی قایل یم چه نوروته واړه معلومیږی.
داهم بی دلیله نه ده، زه په ماشومانو کښی ځینی داسی لوی خویونه سترصفتونه وینم چه هغه(ستاسو په اصطلاح په ډیرولویانوکښی نشته)
هغه کسان چه لویی لری او ځانونه ورته لوی اوزورور معلومیږی دخپلی کینی او بغض په مقابل کښی ډیرکمزوری دی.
که زه اوته هرڅومره لوی شو او قوت وموموپخپلوغلیمانو رحم نشوکولی.
زورورو باندی قهراوغضب دیرزوروروی مګرماشومان دغه رازنه دی هغوی په زړونوکښی که کله عناد اوکینه پیداشی ډیرژربی محوه کولی شی اویوه شیبه وروسته له هغه چاسره مینه کوچه یوساعت دمخه یی ورسره منګولی لګولی.
داکارلویان نشی کولای،لوی خلق دخپل قهراوغضب په مقابل کښی دیرواړه اوډیرکمزوری دی.
دا زوراوقوت دکوچنیانو په برخه رسیدلی دی چه دحسد اوعناد اورمړکړی اوداجهنم په ګلزاربدل کاندی.
ددنیا لوی لوی غمونه اومصیبتونه چه دلویانوملا ماتوی په کوچنیانوډیرتسلط نلری اودحوادثوډیره زوروره سیلی ددوی له شونډوخندا اوخوشحالی نشی وړلی.
دوی په همدغه جګړه کښی خپل کاغذی پتنګان په هواکوی اوخاندی ددوی تصوراوتخیل له دوزخ نه فردوس جوړولی شی اومونږ په جنت کښي هم له مارانواولړمانونشوخلاصیدی.
دوی په ډیرلږ څه ډیرخوشحالیږی یعنی دیره زیاته خوشحالی په ډیرلږ شی اخستلی شی مګرلویان په ډیرڅه هغومره نه خوشحالیږی.
پدی سودا دوی له هرچانه ښه پوهیدلی دی اونورپکښی غولیدلی دی.
دکوچنیانو په زړه کښی چه هرڅه وی هغه په خوله هم ویل شی مګرلویانوته دغه حق پوره حاصل ندی.
داجتماغ اداب اوقیود، عرف اوعادت،اصول اوقوانین په لویانوحکومت کوی اوکوچنیان دعقل له غلامی نه هم خلاص دی.
داخبره صحیح ده چه انسان اول په جنت کښی و، وروسته بیا دغه نیمګړی جهان ته راغی.
دهرماشوم سرګذشت همدغه دی، ماشومان اوکوچنیان ټول جنت کښی دی، دمورغیږ دماشوم دپاره جنت دی،
دمیندوتیونه دشیدولښتی دی دحیات اوبه همدغه سپینی پی دی چه دمیندوله توروپلوونولاندی پټی دی.
ترڅوچه ماشوم ماشوم دی اوله اندیښنوسره نه دی اشنا ددنیا له غمونونه داسی بی غمه دی لکه چه پدی دنیا کښی بیخی نه وی اوپه بل جهان کښی اوسی.
کله چی له دغه معصومیت نه لږ غوندی لری شی اوشیطان یی وغولوی نوله جنت نه بهرشی اودنیا ته راشی.
اوس پوه شوی! چه بلوغ اولویوالی علامه له شیطان سره آشنا کیدل اوغولیدل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جګ برجونه

دکلا برجونه او ديوالونه ډېر جګ و، دکلا شاوخوا خندق ډېر ژور و. له دغه جګو الی سره دغه ټيټوالی تړلی و او دلوړتيا راز په همدغه ګنبده کښې پټ و.
ترڅو چه يو ځای ډېر ژور نشي د چا برجونه نه جيګيږي.
ديوه لوړيدل او د بل ټيټيدل يو له بله تړلي دي.
دا جګ برجونه هرچاله لري ليدل مګرد ا لويه کنده له لري چا نه ليده او نژدې خلقو هم ډېر پام ورته نه و.
زمونږ سترګی له ډېر لري ځايه اورځلي او جګ برجونه ويني مګر ژوري ځاګانی او لويی کندی څو قدمه هغه خزانه ويني.
ددی هسکو ديوالونو او لوړو برجونو ختېه له همدغه ټيټ ځايه اخستل شويده دا ختېه د سنډا له پښولاندی پخه شوه او ډېر و خلقو په لتوو وهله بی له دينه دا ديوالونه او برجونه نه لوړيده.
يوه لوړ مقام ته رسيدل دغه را زکارونه په مخکښی لری او ټيټ همدغسی جګيږي.
د دنيا جاه وجلال، عزت او منزلت هماغه لوړ برجونه دي چه سرګذشت يی له ډېر ټيټ ځآيه شروع کيږي.
کوم سرچه دډېرو خلقو په مخکښی په تعظيم ټيټ شی نورسرونه ورته په احترام نه ټيټيږي.
هغه چه بل ته لاس په نامه نه وی ولاړ نورو ورته لاس په نامه نه دريږي.
دا هغه پوردی چه سړی يی يوه ته ورکوی او له بل نه يی غواړي.
که دا خبره تاسی نشی منلی نوراشی دخان نوکران وګوری ! هغه چه دخان په مخکښی خپل سر ډېر ټيټوی په نورو باندی ډېر تفوق لری او درجه يی لوړه ده.
هغه آس چه دارباب دسپرلی دپاره په کمند کښی ولاړ دی له نوروآسونو نه ډېر قدر لری او ميتران يی ډېر ښه خدمت کوی.
که مونږ حقيقت ته ښه ځير شو عزت ډېر ځله په ذلت ګاټه شی او باداری دغلامی نتيجه ده.
ډېر خلق شته چه د شخصيت ګټلو دپاره خپل شخصيت له پښولاندی کوی او دعزت دپاره عزة النفس قربانوی.
څنګه چه دهقانان غنم په خاورو کښی شيندی او بيا دغنمو درمندونه اخلی دوی هم عزت او شخصيت له خاورولاندی کوی او ودی ته يی منتظروی.
په دنيا کښی لږ کسان دی چه خپل فطري او طبيعي لوړوالی په بل شان ساتی او دلوړو برجونو غوندی نه دی بلکه دغرو له جګو څوکو سره شباهت لری.

# حقيقت

لکه چه ريا په عبادت کښی وی او شيطنت په هوښياری کښی.
دښمني هم که ددوستی په جامه کښی پټه وی اورقابت دمحبت په ځيرښکاری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیرمحبتونه دی چه ډیری پټی کینی پکښی پټی دی.
په ډیروا حسانونوکښی دیرزیانونه پټ دی.
ددی زمانی خندا دماشومانو او ساده ګانوخندا نه ده چه یوازی دمینی او محبت له پښته وی.
ددی وخت ښیګڼه هم که هرڅومره ښکلی وی عفت او تقوی پکښی نشته او ډیره رسوایی ورسره ملګری ده.
درقیبانو احسان او مهربانی دخلقوپه نظرکښی ځوانمردی معلومیږی مګرله دغه باران سره تندر، رږلی او سیلابونه ملګری دی.
زه ددښمنانو مروت عالیجنابی ګڼم مګرصداقت او محبت ورته نشم ویل همدغه سبب دی چه زه دروغ او ریا بیخی نشم زغملی او په ځینوموارد وکښی ورته ډیرښه ښه نومونه هم پیدا کوم.
زه پوهیږم چه عالیجنبان خپل رقیبان څنګه وژنی؟ ما ته معلومه ده چه قاتلان ټول یوراز نه دی.
ځینی خپل رقیب په توره وژنی، ځینی په ټګی او ځینی په احسان، ته کولی شی چه دخپل رقیب سرد احسان په زورځانته ټیټ کړی او له خپل حقه هم ورته تیرشی مګرله رقابت نه نشی تیریدلی.
په احسان او مهربانی رقیب محوه کیږی مګررقابت نه محوه کیږی رقیب وژل او رقابت وژل ډیرفرق لری.
ډیروخلقوخپل دښمنان مړه کړه مګردښمنی مړه نشوه.
دپهلوانی په میدان کښی یوپهلوان بل ته دملګرتیا لاس غځوی او احترام په ځای کوی مګرځان ورته نه څملوی.
دغه رازاحسان دزوراو قوت خاوندان له چاسره، نشی کولی، دانیکی یوازی دضعیفانوکردی.
هغه چه خلق ورته سخی وایی او ستاینه یی کوی عالیجناب به وی مګردخیرخاوند نه دی.
دخان او ملک دا لویه او ښکلی مهمانخانه (میلمستون) چه ګوری په زوراو جبرجوړه شویده او ډیرکورونه یی دخپلی ودانی دپاره وران کړیدی.
دارازسخیان دخوارانو او غریبانو ګیډی نه مړوی بلکه خلق خواروی او وږی کوی یی.
حجره چلول او میلمانه پالل په حقیقت کشی دډیرو وږی کول او دلږو مړول دی.
دغه اسراف او تبذیرچه تا ته جود او سخا معلومیږی دپاکی او حلالی ګټی نتیجه نه ده.
که څوک په ظلم اوزورپه چل اوفریب پردی مالونه خپل نکړی دغه رازلوی دسترخان نشی غوړولی.
دچا په کور کښی چه هره ورځ پسونه او چرګان حلالیږی له هغه سره اورومرویا دلیوانو قوت ملګری دی یا دګیدړانو چل او فریب.
که څوک غواړی چه رښتیانی سخی او دخیرخاوند وګوری نولاړ دی شی هغه دهقان دی وګوری چه یوه لاروی ته یی سکړک او شرومبی په مخکښی ایښی دی او پخپله یی هم همدغه خوراک دی.
څوک چه پردی مالونه په چا باندی نه خوری او دخپل زیاراوزحمت په ګټه میلمه او مسافرپالی په سخاوت نه دی مشهورمګردخیرخاوند ورته ویلی شو.
هغه چه خانقاء چلوی او په لنګرکښی یی ډیروږی مریږی مریږی په ظاهره خودی نوروته ډوډی ورکوی مګرپه حقیقت کښی دی دنوروډوډی خوری.
دغسی پیراوفقیرته که ډیرخلق ډیرڅه راوړی اوله ډیروغټوسودا ګرونه په ټول کښی دروند وخیژی رښتیانی فقیرویل شو ځکه چه دده هرڅه دنورومال وی او پخپله هیڅ نلری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنګه چه د خان او ملک سخاوت د پردی مال برکت دی د شيخ کرامت هم د نورو د کرم نتيجه دی هغه څه چه مونږ ته په ظاهره ښه ښکاري په حقيقت کښی ښه نه دی او اصل څيره يی ډيره بده ده.
مونږ د يوه لښتی روانی او به پاکی ګڼو که څه هم دلاروا و د کوخو ډيری پليتی او به ورسره ګډی شوی او ډيرو څارويو پکښی بولی کړيدی.
ډيره ښه ده چه زمونږ سترګی د حقيقت د ليدو د پاره نه دی پيدا او هروخت ظاهر ته ګورو.

## لويه خدايه؟

که زه ښه وکړم ته را سره ښه کوی که بد وکړی د بدو سزا را کوی.
که ستا مينه زما په زړه کښی وی په محبت را ته ګوری.
که زه بی مينی شم ستا مهربانی کميږی.
ستا د رحمت بارانونه په ما باندی هغه وخت وريږی چه زما په زړه کښی رحم وی.
زه چه هر څه وکړم ته هماغسی را سره کوی.
زما نيکبختی او بد بختی زما په عمل پوری اړه لری او جنت ته يا دوزخ ته تګ زما د ښه عمل او بد عمل نتيجه ده.
زمونږ عقل او فکر همدغومره دی مونږ چه تا ته پخپله آينه کښی وګورو ستا په باب د غه شان فکر کوو.
که مونږ ځانته و نه ګورو ستا لوی شان ته وګورو ته زمونږ له خيال او فکر نه ډيرلوی يی.
مونږ چه د ځان غوندی خلق د پاره کالی نيسو او هغه د سر په سترګو نه وينو يا لنډوی يا اوږده.
مونږ پوهږو چه ستا ستاينه له مونږ نه پوره نه ده.
مونږ ډيرواړه او کوچنی يو ته ډيرلوی يی.
دا زمونږ کردی چه د ښو په مقابل کښی ښه وکړو او د بدو په مقابل کښی بد ، که مونږ خوک ووهو حاکمان هم مونږ وهی.
که مونږ په ځمکه کښی غنم وشيندو او اوبه ورکړو ډير غنم را کوی، او زمونږ آب و دانه ځمکه هم بی عوضه نه پريږدی.
که د يوه نيالګی پالنه او روزنه وکړو خوږه ميوه او يخ سيوری را کوی.
که سود اګرو ته پيسی ورکړو هرڅه چه وغواړو راوړی يی.
که له يوه ماشوم سره مينه وکړو له مونږ سره مينه کوی.
ستا شان له ټول مخلوق نه ډير اوچت دی.
ستا اراده زمونږ د ارادی تابع نه ده.
ستا کړه زمونږ له کړونه نه پيدا کيږی.
ستا محبت زمونږ د محبت مولود نه دی.
ته خالق يی او مونږ مخلوق.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ماشومان

مونږ ناست وو ، ماشومانو زمونږ له ښنګه لوبې کولې.
کله به يو له بله ويشتل چيغې به جګې شوې ژړا اګولا به وه.
کله به د خندا شوراوزوګ دومره او چت شو چه په عذاب به يې کړو.
يوه به چه دبل دلوبو شيان ګډوډ کول هغه به په قهرشوا وکنځلې به يې کولې زمونږ پام نو ،يو را پاڅيده دبل مخ يې شوکارې کړ دهغه په مخ وينې وبهيدې اوله مستې نه جنګ جوړ شو.
مونږويل: خيردی واړه دی نه پوهيږي.
زمونږلويوالی دا تقاضا درلوده چه دکوچنيانو طفلانه لوبې هيڅ وګڼواوملامت يې نکړو.
ماشومان دعمراووجود په لحاظ په ريښتيا له مونږ نه واړه دی مګردومره واړه نه لکه مونږ چه دخدای په دربارکښې واړه يو.
دماشومانو پوهه به له مونږنه لږه مګرزمونږ پوهه دخدای په حضورکښې هيڅ نه ده ياهيڅ ده.
هلته مونږ له ماشومانو نه ډيرواړه يو ، اوزمونږ پوهه ډيره لږه ده.
زمونږلوبې هم دوړوغوندې دي.
زمونږ خندا اوژړا هماغسې ده.
ماشومان پوهيږي چه واړه يو ، اومونږ نه پوهيږو.
راشي ! چه پدې خبره ډيرخوشحاله شواودلوی خدای لويوالی ته په ډيرامید وګورو.

# شعراوادب

دانسان په وجود کښې دوه شيان ډيرعزيزمعلوميږي چه يوه ته زړه اوبل ته دماغ وايي.
له دماغ نه علم اوفلسفه پيدا شوه ،له زړه نه شعراوادب.
اروپايان زړه دعواطفواونفسي احوالوځای ګڼي ، مسلمانان دايمان اوعقيدې ځای ته زړه وايي.
صبر ،رحم ،کرم شجاعت ،سخاوت دزړه کاردی.
عشق اومينه په زړه کښې وي.
شعرله زړه نه الهام اخلي اوله زړه سره کارلري.
ډاروين وايي: هغه لوی کمال چه دتحول اوتکامل په لاره کښې يوازې دانسان په برخه رسيدلی اونورژوې ترينه محروم دي دانسان قلبي عواطف دي چه په رحم ،مروت ،کرم ،شجاعت ، نوعه پرستي ترينه تعبيرکيږي. که انسان غواړي چه له حيوانيت نه لرې وي بايد دغه عواطف ښه وروزي ، دعواطف روزل دشعرکاردی اوشعرته دعواطفواواحساساتو دظهوراوتجليت کوه طورويل شو.
ښنګه چه دلمروړانګې اوپلوشې لومړې ځل دلوړوغروپه څوکوپريووزي اوروستې وداع هم دغروله څوکوسره کوي ، دغسې دعواطفواواحساساتوپرتوهم دشاعرپه زړه له نورونه زيات لويږي اوځينې زړونه لکه دغروڅمڅې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوغارونه دغه رڼا یا بیخی نه وینی یا یی ډیره لږه وینی، همدغه عواطف او احساسات چه د شاعرله زړه نه الفاظو ته را نقل شی شعرترجوړشی او په زړونو اثرکوی.

هو! د شعرموضوع ښکلی خیالات ،عالی احساسات، دزړه تاثرات، دغم اوخوشحالی خوبونه، دروحی اوجسمی ښکلا اغیزی اوعشق ومحبت دی.

که دغه شیان په یوه ښکلی تعبیراوښوالفاظوکښی بیان شی چه دفصاحت اوبلاغت مراعات پکښی په ښه شان شوی وی شعرترینه جوړ شی اوډیرښه شعرهماغه دی چه په دغه معیاربرابروی.

څومره چه دیوه شاعرفکراوخیال آزاد وی اود محدودیت له قیودو راوتلی وی هغومره یی شعرلوړ اوعالی وی.

که یوشاعردنورو په شان هرچاته اوهرشی ته سرټیټوی اوپه فکرکښی یی دبغاوت جذبه نه وی موجوده له هغه نه دښه شعرهیله نشی کیدی.

شاعرباید دفکرانقلاب علمبرداراوبت شکن وی.

شاعرته نه ښایی چه دزاړه منطق درس دعقل له زاړه بوډانه واخلی اوپه زړه لاره په زاړه فکرپسی لاړشی.

دشاعرخیال باید ډیرلوړ پروازوکړی اوله ډیرهسک ځایه دغه جهان ته وګوری.

دشاعرنظرباید نوروغوندی نه وی اوهرڅه په بل شان ووینی دشعراوادب ژوند دفکرپه ابتکارکښی دی اوتقلید یی ابتذال دشاعرمرګ دی.

دشعراوادب دنیا په دلداری اودلبری ولاړه ده شاعرباید په هرڅه اوپه هروخت کښی زړه ته رجوع وکړی اوډیرحساس زړه ولری.

هغه چه په زړونوکښی هیجان،تاثراوحساسیت نشی پیدا کولی اوزړونه نه خوځوی شاعرورته نشوویلی.

که داخبره رښتیاوی چه انسان په هروخت اوپه هرحال کښی دزړه په خوښی پسی روان دی اوزړه په دماغ باندی حکومت لری یعنی دعقل ادراک دقلبی تمایلاتوله تاثیرلاندی وی نوویلی شوچه دیوه ملت عقلی اوذهنی سیراوحرکت هم دشعراوادب تابع وی اوشاعران په نفسیاتواوروحیاتوکښی تهیراوتحول راوستلی شی.

همدغه شعردی چه په زړوکښي زلزلی اوطوفانونه پیدا کوی اوکله پکښی داسی صبراوسکون ږدی چه غرونه یی ثبات اواستقامت ته حیران وی.

که دا رشتیا وی چه دچرګانو په نارو ویده خلق له خوبه پاڅیږی نودا باید ومنوچه دشاعرانو په نغمودیوه ملت مړه احساسات اوجذبات را ویښیږی اوپدی اسرافیلی شپیلی کښی بل رازتاثیرات موجوددی.

کوم فیلسوف چه هرڅه بد ګڼی اوزنده ګی توره په نظرورغلی ده هغه هم شعرته ښه ګوری اوشعردانسان دپاره یوه ښه پناه ګاه بولی.

شوپنهارروایی: ټولی بدبختی دانسان له نفس څخ نشُت کوی اوله ژوند سره ډیرمصیبتونه اوغمونه ملګری دی که څوک یوه داسی چاره لټوی چه له بدبختیونه لږ غوندی په امن کښی شی باید په صنعت اوهنرکښی مستمرق شی اودښکلا په مظاهروکښی ځان ورک کړی.

په دغه حال کښی سړی په ظاهرله خلقوسره وی مګرپه معنی کښی یوازی وی اودنیا ورته لکه یوسراب معلومیږی چه دده لمنه نشی لمدولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په همدغسی بیخودی کښی انسان د دنیا له شر او شوره اسوده کیږی او د بی نیازی مقام ته نژدی کیږی چه غیر له حقایقو بل شی ته متوجه نه وی، دغه صنعت او هنرچه د شو پنهاو رپه نظر کښی د ښکلا مظهر دی او دی ورته ښه پناګاه وایی شعر دی.

که چیری په دغه غم لړلی جهان کښی د سعادت او نیکبختی پلو شوکله کوم کورړنا کړی وی هغه به د شعر کور(بیت )وی.

د شاعرخیالی دنیا تر ډیره حده له غمونو او مصیبتونو نه پټه ده او هلته داسی به درد سره بیخودی شته چه له سری نه هرڅه هیروی.

تاسی شعر او ادب ته په عادی او معمولی نظر مه ګوری، د شعرتو منه او قدسیت په نظر کښی و نیسی.

هغه څه چه په زړونو کښی پیدا کیږی او په زړونو اثر کوی هغه عادی او معمولی څیز نه وی.

دا د غم او خوشحالی ترانه د انسان په ژوندانه کښی ډیره زیاته اغیزه لری او انسان ترینه هیڅکله نشی بی نیازه کیدی.

دیوه ملت ژبه، کلتور، اخلاق په شعر او ادب ساتل کیږی دیوه ولس د ذوق او شعور، فکر او خیال، د احساساتو او عواطفو هنداره شعر او ادب دی.

هرڅومره چه دیوه ملت شعر او ادب عالی وی هغومره یی اخلاق، نظر او روحیات لوړوی او له لوړو ملکانو او انسانی فضایلو سره یی ارتباږ او تعلق زیات وی.

شعر او ادب د بشر علایق له دین او مذهب سره ټینګوی او په هوښیاری کښی بینایی او همدردی پیدا کوی.

کله چه زړونه کلکیږی یا توریږی نو شعرپکښی رقت او صفایی پیدا کولی شی.

هغه څه چه انسان د مادیت له غلامی او بت پرستی نه ساتی شعر دی.

عارفانه ذوق، انسانی عاطفه حکیمانه شعور د شعر په نغموو ده کوی او د حسن و نظر علایق همدغه شی ساتی.

کوملت چه شاعرنلری زړه نلری، سترګی نلری، عواطف نلری او د ذوق وتمناله خونده محروم دی.

شاعران دا کولی شی چه د انسان فرعونی غرور په تواضع بدل کړی او د دوهی ملنګ ته شاه جهان خوی او مړی سترګی ورکړی.

غم او سرور د شاعرهدیه ده چه له زړونو څخه یی اخلی او زړونو ته یی ورکوی نو کوم قدر او قیمت د انسان په بدن کښی زړه لری په یوه جامعه کښی یی شعر او شاعرلری.

# د ادب راز

چاچه د شعر او شاعرپه باب ډیر فکر کړیدی او د واړه یی ډیر ښه پیژندلی دی هغه وایی ډیر ښه شاعرهماغه دی چه ډیرخود پرست وی او بی له ځانه په بل هیڅ شی کښی فکر ونه کړی.

دغه راز شاعرخپل ځان پخپل شعر کښی ښی او مونږ ګمان کوو چه زمونږ تصویریی ایستلی دی.

شاعرځکه په مونږ ګران دی چه زمونږ د زړه خبری کوی او زمونږ خاطرات را یادوی.

شعر د زړه غږ دی او د زړه غږ د منطق له غږ نه ډیر قوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاعر پوهيږي چه عقل او منطق، دليل او برهان په مونږ باندی حاکم نه دی بلکه غرايزاو احساسات زمونږ رهبری کوی، دهمدی لامله هغه له احساس او غريزی سره خپل تعلقات ټينګ ساتی اوله زړه سره کارلری.
هه ځوک چه زړونوته ښه ښه پيغامونه راوړی اوزړونه خوشحالوی شاعردی، هغه پيغام چه دمعشوقی له خوا عاشق ته راځی شعردی.
شاعرله مونږسره دعشق اومينی په کارکښی کومک کوی اوله دينه ښه کومک بل نشته.
شاعرپوهيږی چه له نا اميدی نه څنګه لذت اخستل کيږی اوغم څنګی خوږوالی پيدا کړی.
شاعران لکه ماشومان ډيرښه ښه خوبونه وينی او په همدغو خوبونودزړه نو تسلی کوی.
که دغه خوا ره رويا اوښکلی تخيلات نه وی دژوندانه تحمل ډيرګران دی.
څه شی چه مونږ ته ژوند خوږاوښه ښکاره کوی دهغه شی تصوردی چه په ژوند کښی بيخی نشته.
تاسی له شعراوشاعرنه علمی حقايق مه غواړی دشعرهدف حقيقت نه دی جمال دی ښکلا اوجمال لکه علم په ټينګ اساس نه دی ولاړ.
دعلم په دنيا کښی په يوڅه پوهيدل خوندلری او په شعراوادب کښی ايهام اوابهام مزه داروی.
دلته سراوراز، پرده اوحجاب کمال دی، هلته تشريح، تفصيل تحليل اوتجزيی ته ضرورت دی.
هغه جذبه چه دانسان په روح ډيراثرلری دسرجذبه ده.
هيڅ ښکليتوب بی پردی اوبی حجابه نه دی.
هرڅه چه مونږ خوښوو اورمرويی په مخ باندی دا سرپرده پرته ده.
انسان له هغواشعاروسره شديده علاقه لری چه ځينی برخی يی ابهام لری اومختلف تعبيرونه پکښی کيدلی شی.
په شعرکښی يوازی دغريزی رهبری کافی ده.
شاعرباید دخپل فن به قوانينوکښی ډيرتاورا تاونشی چه لطف اوزيبايی يا خپل معصوميت له لاسه ورنکړی.
دلوړاوعالی شعردپيژندلومعياربل شی نه دی له ژوند سره ارتباط دی هرڅومره چه يوادبی اثرله ژوندانه سره ښه ارتباط ولری هماغومره ورسره علاقمندی زياته وی.
په شعراوادب کښی ساده انشا دا نه ده چه بيخی بی پيرايی وی اومختلف اجزا اوعناصرپکښی نه وی چه مختلف اجزا اوعناصرپکښي داسی ويلی شوی اوګډ شوی وی چه تشخيص اوتجزيه يی نشی کيدی ساده انشا ورته ويلی شو.
څنګه چه دلمرڼا ظاهراً سپينه اويورنګ معلوميږی مګرپه حقيقت کښی له اوو رنګونوڅخه جوړه ده ، ساده انشا هم له دغسی ترکيب پيدا کيږی.
غرض دا چه په شعراو وينا کښی ساده ګی ښه ده اوسادګی له ښه امتزاج له عالی نظم اوداجرا له ښه تناسب څخه پيدا کيږی.
هغه انشا چه ډيری قلقلی پکښی وی اوډيرجليل لری يعنی لکه رعد اوبرق داسی وی دليکونکی عجز اوتصنع ښی.
دغه راز هنرښودنه له واعظانوسره ښايی، په شعراوادب کښی ساده ګی لوی صفت دی نه کاکه توب اوطمطراق.
شعرله علم اوفلسفی نه دين اومذهب ته ډيرنږدی دی اوالهامی څيز دی په شعرکښی عواطف اوخدايی فکرونه ډيره اغيزه لری.
په شعراوادب کشی يوازی بشرولتيوی اوبس.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اناتول فرانس چه په ادب کښې ډېرژور فکرلرې شعر او شاعر، ادب او اديب ته په دغه نظر ګوري او دغسې يې معرفي کوي.

# نوی کال

مونږحسابي خلق يو او له ځان سره يو حساب لرو.
زمونږ په حساب زوړ کال ختم شو او د نوي کال په سربانديمو قدم کيښود.
مونږ پوهيږو چه زمونږ حساب نورو غوندي نه دي.
د هغوی نوی کال د شلم قرن شپږ پنځوسم کال دی او مونږ د څوارلسم قرن پنځه ديرشم کال ته نوی وايو.
په رښتيا چه مونږ پخپل حساب ډيرښه پوهيدلی يو او پوهيږو چه په کوم زمانه کښې ژوند کوو او څومره بيرته پاته يو.
مونږ هم د زمانې په ګړندی ګاډي کښې سپاره يو او چيرته ځو.
دا ګاډي لکه دوزيرانو موټرکال په کال نوی کيږي مګرپه زړو او خرابو لارو روان يو، ځکه ګړندی نشو تللی.
مونږ په کال او کالو کښې ژوند کوو او ډيرخوشحاليږو چه له زاړه کوره نوي کاله ته او له زاړه کاله نوي کال ته لاړ شو.
هو ! مونږ نوي کال ته خوشحاليږو او هر کله غواړو چه نوي لوښي پيدا کړو او په نوي پياله خوله کيږدو، که څه هم د زړې زمانې د قرمز او جاپان لوښي د دې وخت له لوښونه ډيرښه دي.
زمان او مکان هم دوه طرفه لوښي دي چه زمونږ ژوند ورپوري تړلی دی او په دواړو کښې مونويتوب خوښ دی، مګرد مکان په ساحه کښې زوړ او نوی ښه پيژنو او پوهيږو چه دغه ښارنوی او هغه زوړ دی، دا ودانۍ زړه او دا بله نوې ده، خو د زمانې په زړښت او ځوانی کښې لکه چه تيرو تلي غوندې يو.
د زمانې ظرف چه هرڅومره زړيږي زمونږ په حساب هماغومره نوی کيږي، مونږ د زمانې آغاز ته نژدې وختونه زړه زمانه بولو او د زمانې روستيو پيړيو ته نوي عصر او نوې زمانه وايو.
نوی کال هم په همدغه صحيح حساب بنا دی.
دا تيا کالو بوډا خپل روستی کال نوی کښي او دخپل ماشوم توب زمانه ورته زړه معلوميږي.
هر کال چه نوي کيږي له ځانه سره نوي خيالونه، نوي فکرونه، نوي کارونه ملګري وي.
که نوی کال خپل ټول کالی نوي نکړي يو څه خو نوي کوي او ځينې زړې جامې له ځانه لرې غورځوي.
د نوي کال د نويتوب معيار همدغه دی.
مونږ هيله لرو چه نوی کال په ډيرو نوو جامو کښې ووينو او ډير نوي شيان ورسره وي.
مونږ له نوي کال نه په رښتيا نوي څه غواړو او پدې پوهيږو چه زوړ بوډا په نويو جامه کښې هم زوړ دی او نوی ځلمی په زړو جامو کښې زوړ نه دی.
که نوی کال زړو ښکاريانو ته نوي مرغي را ولي نوي کار ورته نشو ويلی.
د نوي کال د لو مړي ورځې ميله هم څه نويتوب نلري ځکه چه زمونږ په هيواد کښې د هرنوي کال شروع په ميلو او ساعت تيريو کيږي او قلبه کشي يعنې د کار آغاز رسماً يوه نمايشي لوبه ده.
مونږ بايد پدې پوه شو چه نوی کال له مونږ نه څه غواړي او پخپله څه کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوی کال سمدلاسه دورځو په اوږدولو او دشپو په لنډولو پیل کوی.
یعنی دخوبونو وخت کموی او دبیداری وخت دکار او فعالیت دپاره زیاتوی. دتیاری او تورتم عمرلنډوی او درڼا عمراوږدوی.
که مونږ دنوی کال په رمز او اشاره پوه شو دپسرلی برېښنا ګانی همدغه مطلب ته اشاره کوی چه دنوی ژوند اساس په برق او برېښنا اینبودل شویدی او هغه زمانه تیره شوه چه دحیات اوبه په تورتم کښی وی او ژوند په تیاروکښی و.
دنوی کال له شروع کیدوسره سم په هوا کښی اعتدال پیدا کیږی او دژمی سوړوالی ورکیږی.
دنوی کال لومړی درس همدغه دی او ساړه زړونه یی نه دی خوښ راشی! چه دزمانی په تقاضا ځان پوه کړو او پیروی یی وکړو.

## زما دلاس نیالګیه!

زه نه یم خبرچه ته چیرته وی او له کوم ځایه راغلی.
دومره پوهیږم چه له نورو ګڼونیالګیوسره په یوه تنګ ځای کښی ولاړ وی.
هلته ستا دلو یېدو او غټېدو دپاره زمینه مساعده نه وه ځکه ستا تعلق له هغه ځایه قطع شو او دلته راغلی.
زه ستا په راتلو ډیرخوشحاله یم او تاته پخپل انګړ کښی ځای درکوم.
زه غواړم چه ستا تعلق او ارتباط له دغه کاله سره ښه ټینګ شی ستا نیلی اوریښی هرخواته وغځیږی، ستا څانګی او ښاخونه په دغه نوا او فضا کښی ډیره وده وکړی او له تانه غټه ونه جوړه شی، زه به ستا دترقی او لوییدو دپاره زیارکاږم ته دلته زما له اولادونو سره په دغه کاله کښی او سیږه !دا ځا په تاباندی نه تنګیږی.
دا ستا کوردی ته ددغه کاله له ماشومانو نه یو ماشم یی.
زه هیله لرم چه ستا له سیوری لاندی ډیرخلق کښینی.
ستا شګوفه او خوږه میوه هرڅوک ووینی، ستا له څانګو او ښاخونو نه مرغانو خوږی نغمی وګورم.
زما نیالګیه! که زه تا شین او سمسور ووینم څومره به ښه وی.
ستا ښایسته شګوفه، ستا سیوری او ستا میوه به زما دپاره ډیرلوی نعمت وی.
که دغسی ښه اثر او دغه شان نیک عمل له ما نه یادګار پاته شی دا به زما نیکبختی وی.
زه دغه دګلابوبوټی او دغه دعکاسی نیالګی هم ستا له څنګه ږدم او تا ته دا ښیم چه زما زیار یوازی دمیوی دپاره نه دی زه ستا له شګوفی او شنو پاڼوسره هم ډیره مینه لرم.
که له ما سره ګیډه شته او بی خورا که ژوند نشم کولی له ماسره سترګی هم شته او په مخ باندی پوزه هم لرم.
څومره به ښه وی چه سبایی ستا له څانګو دمرغیو خواږه اوازونه واورم او په خوږو نغمورا ویښ شم.
زما نیالګیه !ته په دغه هوا کښی وده کوی باید خپله خوشبویی هواته وسپاری او دهوا مرغان له تانه استفاده وکړی.
هغه وږمه چه ستا کاله ته راځی باید له ځان سره یوڅه یوسی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دشاتومچی باید ستاله کوره بینوا لاړی نشی.
کشکی زما دوستان اوملګری ستا له سیوری لاندی خوشحاله کښيني اودلته دخوشحالی خندااورم.
یوه خوله خندا اویوه شيبه خوشحالی پدی ارزی چه زه څوکاله ستا خدمت وکړم اوله لری ځایه اوبه درته راوړم.

## دفکرپالونکی

پیراوفقیرنه یی چه خلقوته دعاوکړی اودهرچا دپاره د تسلی زیارت شی.
فیلسوف اوعالم نه یی چه خلق درنه علم اوپوهه یوسی.
طبيب نه یی چه درنځورانوعلاج وکړی.
پیسی نلری چه حاتم طایی شی اوورږی ماړه کړی.
قاضی یا حاکم نه یی چه عدالت وچلوی اودحق ملګری شی.
دغه راز افتخارات ستا په برخه یوهم ونه رسیده.
ته یوشاعراولیکونکی یی مګرله تا نه ښه شاعران اوښه لیکوال ډیرپیدا کیږی سره له دی زه تا ته په ډیرقدرګورم اوتاته په دیرلوی حق قایل یم.
دلته دفکراوقلم خاوندان ډیردی مګردفکراوقلم دازادی علمبرداران ډیرلږدی ځکه ستا مقام له نورونه هسک ګڼمه.
که څوک تا ته دفکرخاوند ونه وایی زه ورسره څه کارنلرم مګرکه دفکرخاوند تا خپل حقدارونه ګڼی زه به ورته بی انصافه ووایم.
هغه څوک چه په وطن کښي هیڅ نلری اودوطن دازادی دپاره سرورکوی په وطن باندی حق لری.
همدغه وجه ده چه دفکرپالونکی مقام له فکرلرونکی څخه ډیراوچت دی اوزه هم دواړوته به یوه نظرنه ګورم.

## دژوند نغمه

ټول غلی دی ، هیڅوک څه نه وایی. دژوندانه نغمه غلی ده.
په دغسي چوپه چوپتیا کښي ذوقونه مری فکرونه محوه کیږی نشاي او خوښی لکه وحشی مرغه له انسانانونه تښتی.
زه غواړم ددغه سکوت طلسم مات کړم اوخپله سرینده وغږوم.
دا سرینده ما دعشق له هیواده اودبلبلوله کوره راوړیده.
زما دسریندی اواز ډیرخوږدی.
راشی ! کښيني زما نغمی واوری زه نه غواړم چه ارزوګانی مړی اوزړونه ساړه وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه د احساساتو او جذباتو د ويښو لو د پاره راغلى يم.
د غه ده ما خپله سرينده را واخيستله او خپلى نغمى شروع کوم.
آه- دا څه وشوه؟ له دى سرينده ى نه خو هيڅ اواز نه پورته کيږى.
سرينده خو نه ده ما ته تارونه يې هم په ځاى دى دا ولى نه غږيږى؟
ولى بى سره ده؟ له دينه لويه ضايعه بله نشته.
پوه شوم او وپوهيدم دا سرينده د بلبلو له کوره ده او بى د ګلونو له خوا بل چيرته نه غږيږى.
دا سرينده، له عشق سره ارتباط لرى او تارونه يې په هماغه مقام پورى تړلى دى.
زه بايد ګلزار ته ننووزم او د ګلونو په حرم کښى د خپلى سرينده ى آواز واورم.
زما بايد د نرګس سترګى، د غوټى خندا، د چنډ رولښتى، د سنبلو پريشانه زلفى وګورم او د حسن په ګلزار کښى خپله سرينده وغږوم.
بى له دينه دا خاموشى نه ورکيږى او خوشحالى نه پيدا کيږى.
دا تورى وريځى بايد دلمرا و سپوږمى له مخى لرى شى.
د بلبلو پنجرى او قفسونه بايد مات شى.
د باغ تړلى ور بايد بيرته شى چه خوشحالى راشى او ذوق و شعور سترګى وغړوى.
د ژوند نغمه د غه تقاضا لرى او بى له دينه په ژوندانه کښى نشاط او سرور نه پيدا کيږى.

# نوى فکر

هرچيرته لاړم، هرچا ته ورغلم ښکته پورته ډير وګرزيدم.
ښارونه مى ولټول په هيڅ ځاى کښى يى له هيچا سره پته نه وه.
هغه څه چه زه غواړم دلته نه پيدا کيږى چا چه غټه چوکى غوښتله پيدا يى کړه څوک چه په نوى موټرپسى ګرزيده هغه دى پکښى ناست دى هغه چه په پيسو پسى لالهانده و، بانکونه يى ډک کړه.
يوازى زه خپل آرزو ته ونه رسيدم په ربښتيا چه زه په ډير نادر او نايابه څيزپسى ګرزم او زما حرص له ټولو نه زيات دى.
هو! زه نوى فکر نوى خيال او نوى جهان غواړم.
دلته نوى راډيوګانى، نوى فلمونه، نوى ساعتونه، نوى فيشنونه پيدا کيږى. مګر نوى فکر او نوى مضمون نشى پيدا کيدى.
دلته شاعرانو ډيرى سندرى وويلى خو نوى فکر پکښى نه و.
پسرلى بيا هماغه ګلونه راوړل چه مونږ څو ځله ليدلى او بوى کړيدى.
مونږ په قرنو قرنو د ګل او بلبل زوړ مضمون اړوورا اړوو مګر نوى څه نشو پيدا کولى.
مونږ نوى مضمونونه په زړو موضوع ګانو کښى لټوو او د زړى بوډۍ په سر نوى دړى ږدو.
دلته ميندى نوى اولادونه راوړى مګر د ماغونه نوى فکرونه نشى راوړى.
دلته ښځى له کورونو نه وتلى شى خو نوى مضمون له د ماغونو څخه نه راوزى.
دلته دا عادت دى چه پيغله د پلار په کاله زړيږى او بيا واديږى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته اوس هم دزړو فکرونو کاله ته ريباران ځي او راځي او له نوونه زړي خبری ښې خرڅيږی.
دلته د بوډی په ټال کښې زړی ارزوګانی ځانګی او زاړه سرودونه غږيږی.
دلته په خيرات خواره ميلونران شی، بيسواده به ريسان شی.
زمونږ کوچنيان چه پيدا شی نو سپين ږيری وی او په ډيره زړه ځانګو کښې خملی، زمونږ للوډيره زړه ده او زړه دا يی زمونږد ماشومانو تربيت کوی زمونږ ځوانان که ږيری و نه خريی او سپين ږيری ورته ويلی شو.
مونږ نوی خولی په سرکړی مګر نوی فکرونه مورد کړه، نوی ښارونه موجوړ کړه مګر زاړه بوډا ګان پکښې ناست دی زړی قصی کوی.
مونږ دزړو بوډا ګانو په محفل کښی زوړ راګ غږوو او له سپين ږيرونه دځوانانو اتڼ غواړو.
دا آرزو بيهوده ده زه بايد په نوی فکر پسی بل چيرته لاړشم.
دا شی له زړو شاجانيانو سره نشته.
که دا تيا کالو بوډا نوی واده وکړی هم زوړ دی، که زوړ سړی نوی پوستين واغوندی بيا هم زوړ دی که له زاړه ښاره نوی ښار ته راشی هم زوړ والی ورسره دی.
هو ! کور يې نوی دی، مګر فکر يې زوړ دی په دغسی نوی کور کښې نوی فکر او نوی مضمون نه پيدا کيږی.

## زوړ فکر

سترګی يی مه خلاصوی ! کوم ښکلی مخ به ووينی ليونی به شی.
ميخانه به وګوری مست به شی، ځان به ووينی خودبين به شی.
د بل عيب به ووينی بدبين به شی.
پريږدی، چه سترګی يی پټی وی او څه نه وينی.
کوښښ وکړی ! چه په ښو او بدو پوه شی او څه زده کړی.
که دی دسواد او علم خاوند شو که دی په سمه لاره روان شو.
که ده دښو او بدو تميز وکړ بيا به يی سترګی پرانيزو.
د سترګو پردی به يی غوڅی کړو د سترګو غړولو اجازه به ورکړو.
پخواله وخت دده سترګی مه خلاصوی.
دی بايد هرڅه په پټو سترګو قبول کړی او سپين سترګی نشی.
دی بايد هرڅه دزړه په سترګو ووينی او د سر سترګی يی تړلی وی.

## نادانی او ناداری

به کور کښې يې غله نه وه جامی يې هم زړی او شکيدلی وی.
پور چانه ورکاوه مزدوری نه پيدا کيده حيران و، چه څه وکړی او ډوډی ځانته څنګه پيدا کړی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته له ډيرو انديښنو له کوره را واوت او شپه ډيره تياره وه.
پخوا ترډي يي کله غلا نه وه کړي ځکه زړه نا زړه په يوه کاله ننوت او پس له ډيرترډد نه يي غلاته زړه ښه کړ.
په دغه شپه دده بخت بيدار و ځکه چه د کاله خاوند ويده و.
ده په بيړه بيړه يو څه مال راټول کړ او په ويره ويره يي کورته راوړ.
وايي چه دغله په غره کښي ځاى نشته نو په کاله کښي به يي څه حال وي.
له ده سره دا سودا ډيره زياته وه چه که سبا ته يي خلق کورولټوي او دغلا مال ترينه راوزي ځو کاله به په جيل کښي پروت وي او له دينه به هم بدبخته وي.
ده بله چاره ونه ليده د کوټي په يوه کنج کښي يي دزمکي په کښلو شروع وکړه چه دغلا مال خوندي کړي
مګر يو ساعت وروسته له خاورولاندي يو داسي کنج را ښکاره شو چه د سرو او سپينو زرو زورور دولت پکښي پروت و.
کله چه دا پټه خزانه راښکاره شوه غل وپوهيده چه په ټول کلي کښي ده غوندي بل بډاى نه وا و ده غوندي دذلت شپي هم بل چا نه دي تيري کړي.
هو !ده دخزاني دپاسه په لوږه شپي تيرولي دده په کاله کښي هرڅه و مګر دى نا خبره و او خپل شته ورته نه و معلوم.
دى نه پوهيده چه زه ډيرلوى بډاى يم او زما په کور کښي هرڅه شته.
دده ناداري په حقيقت کښي ناداني وه نورڅه نه و.
ددغسي سړي په حال افسوس په کاردي او که ديوه ملت دغه حال وي له دينه لويه بدبختي او د افسوس خبره بله نشته.
دناپوهانو فطري او معنوي استعداد همدغسي له خاورولاندي پټ پاته کيږي لکه چه دنا پوهه ولس معدنونه پټ پاته وي او څه کار ترينه نه اخستل کيږي.

## سيند

دوچوړاګونو ، ددښتو او ميرو له څنګه لوى سيند بهيږي مګر دغي وچي بيديا ته او به نه ورکوي.
په دغسي وچکالي کښي چه په او بو باندي سرونه ماتيږي سيند لکه شوم بخيل په شتاب درومي او زمونږ تندي ته نه ګوري.
کله چه سيند په چپوراشي کورونه او آباد پټي هم له ځان سره يوسي.
همدغه سيند له مونږ نه هغه خوا بل رازروان دي او له نورو سره يي رويه بل رازده.
هلته دغسي وراني نه کوي. دومره بخل نه لري. دغه راز بي رحمي پکښي نشته. هلته د سيند په غاړه زرشويان د سيند له شګو نه زرراباسي.
ماهي ګيران پکښي په خوار او کبان نيسي او ښکاريان يي په لو او ستړډ ند کښي هيلي ولي.
هلته له سيند نه ډيري لوى ويالي بيل شويدي ، ډيرلوى لوى ډاګونه له او بو لاندي شوه. کلي او ښارونه آباد شوه ، شاړي ځمکي په ثمراغلي دغلو او ميوو پکښي څه کمي نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته د سیند په مخکښې لوی لوی بندونه جوړ شوه، دبریښنا ما شینونه ودریده، فابریکی او کارخانی په کارولویدی خلق آباد او ماړه شوه دا سیند ولی دلته دغسی او هلته هغسی دی.
مونږ ته په قهردی او په هغوی پیرزوینه لری، دلته ډیرتند او په خیزونوروان دی ، هلته غلی اوآرام بهیږی.
دلته کوږوږځی او خپله مجرا بدلوی، هلته پخپله تاکلی لاره روان دی او بی لاری نه ځی.
په ربنتیا چه سیند دلته ډیرورانی کوی او هلته دیوه نظام او قانون تابع دی چه ورانی ته یی نه بریږدی.
زمونږ ګناه د سیند په غاړه ده. سیند له مونږ نه ډیرخه وړی دی او ډیریی را نه وژلی دی. دا سیند خونی سیند دی او له مونږ سره یی زړه دښمنی ده، څوځله یی زمونږ کورونه وران کړی اوآباد پټی یی رانه په واروارووړی دی.
زمونږټوله ګنا ه د سیند په غاړه ده.سیند زورودی او به مونږ باندی هروخت ظلم او تیری کوی.
آه- موږ څومره نا پوه یو چه دغه راز فکرکوو او پخپله ګناه نه پوهیږو مونږخپله ګناه د سیند په غاړه اچوو ، د سیند په غاړه خومونږ پراته یو په ربنتیا چه دا زمونږ ګناه ده د سیند نه ده.
سیند له چا سره دښمنی نلری،سیند هرتږی ته او به ورکوی او دهرچا خیرنی جامی پاکوی.
سیند پوخ کارغواړی او پاخه بندونه ورته په کاردی.
که زمونږ کارپوخ وای اوزمونږ بندونه پاخه وای زمونږ ویالی نه وچیدی اوزمونږ پټی اوبونه وړل.
مونږ د سیند په بندوبست پوه نشو اوله سیند نه موکاروانخیست دا سند دژوند اوحیات سیند دی.په ده کښی دورانی اوودانی دواړه قوتونه موجود دی.
سیند دهرچا ظرف او استعداد ته ګوری هغومره اوبه ورکوی.
دمنګی خاوند اودمنګوټی خاوند ته سیند برابره برخه نه ورکوی اونه وړولښتیوته دلویوویالوپه اندازه څه ورکولی شی.
سیند دهرچا کارته ګوری او هغسی ورسره کوی یعنی خام بندونه ورانوی او پاخه بند ته ځان تسلیموی.
هغه څوک چه دژوندانه سیند پخپل سرپریږدی اویوه معینه مجراورته نشی ټاکلی له ژوند نه استفاده نشی کولی.

## عقیده

په سترګو یی څه نه لیدل مګر دخدای کتاب یی ترڅنګه واومسجد ته راغی.
ده هغه آسمانی کتاب په تاخچه کیښود اوپه لمانځه ودریده ، کله چه له عبادت نه فارغ شو اوله مسجد نه روانیده هغه کتاب پاته شو او یوبل کتاب لاس ته ورغی.
دی ړوندو ، کتاب یی نه لیده او په کتاب نه پوهیده مګرډیرټینګ یی په غیږ کښی نیولی و.
ده ته دا نه وه معلومه چه کتاب کښی څه دی او دچا کتاب دی؟ له ده سره ټینګه عقیده وه مګرپوهه او بینایی ورسره نه وه.
ده دخدای دپاره دغه کتاب ښکلاوه اولکه تعویذ له ځان سره یی ګرزاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عمل

هغه خپله امسا ټکوله او بازارته راغی، په سترګو يې څه نه ليدل مګر په نامه يې هرڅه پيژندل له ده نه خپلو ماشومانو وڅکی غوښتی وی.
دی په همدغه شی پسی راغلی و.
د دنيا بازارته ډيرراندہ راځی او څه اخلی. دکانداران دهغوی په سترګو کښی خاوری اچوی او ردی مالونه ورکوی.
ده ته هم دکاندارله خاورونه ډکی وڅکی ورکړی چه هرڅه ورسره ګډو.
دی روان شو او په لاره کښی يې ځولی له لاسه خوشی شوه.
ده د زمکی په مخ لاس وګرزاوه او هرڅه يې راټول کړه.
دی نه پوهيده چه خپل کاله ته څه وړی؟ او دده وڅکی څنګه دی؟
ده غوندی ډيرراندہ دلته راځی او هغه څه وړی چه دوړلونه دی.
هو ! دړندوعمل همدغسی دی مګرړوند نوله دی زيات څه کولی شی ړوند که په سمه لاره لاړنشی بايد معذوريي وګڼو.

# عبادت او دعا

درحمت بارانونه ونه وريدل، چينی وچی شوی په کاريزوو کښی دمرغی منبوکه نه لمديده، دونو پاڼی په پسرلی کښی زيړی وی، په سمسوروباغونو خزان ولګيده. په خلقو دلوږی هيبت راغی.
ټول دعبادت او دعا دپاره بيديا ته ووتل. پاک خدای ته يې زاری کولی لمونځونه يې کول، درودونه يې ويل ، دعا ګانی يې کولی ، دباران ترږی و ، زوروربارانونه يې غوښتل.
دغسی داخلاص عبادت، دغه رازدسوز دعا ګانی کله دوی نه وی کړی په دغه وخت کښی ددوی تعلق له خدای سره ډيرزيات و ،دوی باوردرلود چه روزی له خدای سره ده، ډوډی له آسمانه راځی او زمکه دخدای دسترخان دی.
هرچا له خپلوبدو عملونو توبی ايستلی، دهريوه له سترګو اوښکی بهيدی مګر دآسمان له سترګو يوه اوښکه هم تويه نه شوه.
دباران په انتظار کښی ورځ بيګاه شوه، ماښام هرڅوک خپلو کورونو ته لاړل. دقبلی له خوا توره وريځ را ښکاره شوه چه ډيره زياته تياره ورسره وه، خلقوويل دحيات اوبه په تورتم کښی دی ، زمونږ دعا قبوله شوه ،اوس به داسی زوروربارانووريږی چه غرونه رغونه به په اوبو ماړه شی او دزمکی تنده به ماته شی.
دا تياره وروورو زياتيده، کلی کورونه ، غرونه رغونه په دغه تورتم کښی ورک شوه، له آسمانه ډيرزوروربارن راښکته شوچه تالندی ،بريښنا ګانی له هيبته ډک غړونه اوزورورسيلابونه ورسره و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهوا موجونه په دغه شپه طوفاني معلوميده، باران ديوه زوروراّپت هيبت درلود، سيلاب له غره نه ډيرى غتې تيږې وغړولې دهرچا دا يقين و چه هرڅه به سيلاب يوسي، مالونه اولادونه ښځې اونرپه ټول تباه شي دمړوپته به نه وي معلومه کلي کورونه به له خړولاندې شي او هيڅوک به هيڅ پيدا نکړي.
دغه ډاربيا په کلي کښې دژړا انګولا آوازونه اوچت کړه خلقوبيا پاک خداى ته رجوع وکړه هماغه اوراد او هماغه درودونه بيا لوستل کيده هرچا به دعا کوله چه باران ودريږي اودخداى له قهره نجات ومومي.

# بې زړه

دايمان ځاى زړه دى اودى بې زړه دى.
چه وړوکى و له شيشکو او پيريانو ډاريده چه لږ غوندى لوى شو دملا صاحب له ډاره په سبق نه پوهيده.
په کورکښې د ادى ډارو اودباندى د دا دا.
اوس چه لوى دى دځان ډار، دملک ډار، دحاکم ډاريې په زړه کښې تينګ ځاى نيولى دى.
په لاره کښې ورسره دغلوويره ده اوپه کورکښې دغليمانوله ويرى خوب نه ورځي.
لويه خدايه ! په کوم زړه کښې چه دغومره ډيرى ويرى وي ستا ويره ډيره ځاى نشي پيدا کولى.
په دغسي زړه کښې ستا خوف ته ډيرلږ ځاى پيدا کيږي، که ستا ډاراودظالمانو ډارپه يوه زړه کښې يوشان موجود وي له دينه لويه ګناه بله نشته.
کاشکې دوى يوازې له تا ويريدلې اوستا ددښمنانو ډاريې په زړه کښې نه واى.
دخلقو ډارستا ويره په زړونو کښې کموي اوايمان ته زيان رسوي، ستا ضعيفه بندګان يوازې له تا نه نه ويريږي له نورو نه هم ويريږي. دوى اوس دزورورو په مخ کښې حق نشي ويلې اوته دحق طرفداريې ، ته په دروغو خپه کيږې اودوى له ډاره رښتيا نشي ويلې.
ستا ظلم نه دى خوښې دوى له ويرى د ظالمانو خدمتونه اوصفتونه کوي، هغه مسلمان اوس چيرته دى چه يوازې له تا ډاريږي اوبس.
ستا بنده بايد د ډاربنده نه وي اودنمرود له اوره يې سترګه ونه سوزي.

# ملک اوملا

دکلي ملک به چه هرڅه کول څوک يې مخې ته نشوورتلې ، زروه که زور ودواړه له ده سره و. هرڅه دده په لاس کښې و، اوهرڅوک دده لاس لاندې و، هيچا دخپلې خوراولوړواک نه درلوده. دکلي غوړې اوچرګان هرڅه دده و. ښايسته ښځې به ده کړه وي، ښکلې هلکان به دده په مخکښې ګرزيدل اوهرچا به دده خدمت کاوه.
يوه ورځ به کوراوکلي کښې دا آوازه خپره شوه چه هغه بې موره اوبې پلاره هلک چه په علم پسې تللې و دعلم اوکمال خاوند شو هغه اوس له ډيرى پوهې سره بيرته وطن ته راځي ، هرچا ته سمه لاره ښيي ،هرڅوک په حق پوه کوي اوهرچاته حق وايي ځکه چه هغه دحق ملګرى دى اوله ظلم سره دښمنې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا آوازه په ملک باندی ښه ونه لګیده.
ملک له دغه هلک نه وډارشو او پریشانه خوبونه یی ولیدل.
ملک پوهیده چه هغه خیرات خورملانه دی ، دهغه سترګی ډیری مړی دی او په زړه کښی یی دزورورو ډارنشته.
هغه هیڅکله یی له خدایه بل چاته سرنه ټیټوی. له هغه سره دحق جذ به او حقانی قوت شته او په وینا کښی یی بل شان تاثیرموجود دی.
ثوورځی پس ملا له یوی امسا سره راغی، ظلم او ناروا ته یی بد ویل، دزوراو قوت مخه یی ونیوله ،خلق یی پخپل حق پوه کړه او دمظلومانو ملګری شو.
دده ملګری ورځ په ورځ زیاتیدل او په ولس کښي پوهه او بیداری پیدا شوه ،هغه ملک لری شو او په ځای یی بل ودریده .دغه بل ملک هغسی ملکی نه کوله او ډیر به سم چلیده. چه علم او پوه پیدا شی ملکان سمیږی او خلق سم ملک دروی.
دفرعون او موسی قصه، دملک او ملا افسانه همدغه معنی لری.
ملکان باید به علم پسی لاړ شی او دعلم رڼا له ځانه سره راوړی.

# شاعر

شاعریوازی پریږی دی ځکه چه دی دجرګو او مرکو سړی نه دی.
هغه چه له نورونه ګټه کوی باید نوروته ورشی.
دی غواړی چه له ځانه استفاده وکړی نه له بل چانه.
هغه وخت چه برخي ویشلي کیدی سازنده یی دساز او سرود مجلس ته راووباله او شاعریی له خلقونه لری یوازی کښیناوه.
شعراجتماعی شو مګردشاعرپه برخه تنهایی ورسیده.
ثوک چه په آزادی مین وی هغه هیڅکله ځان نشی مقید کولی.
یو مجلس که هرثومره ازادوی بیا هم بیخی بی قیده نه وی.
دازادی معشوقه هغه وخت چاته ځان ښی چه له نورونه بیل او یوازی وی.
شاعرله ځان سره عشق لری او په ځان مین دی.
دی نه غواړی چه په نورو کښی ورک شی او نورو غوندی شی.
دی له خلقو سره همدردی لری مګرله خلقو سره ناسته ولاړه نشی کولی.
عاشق دی خو معشوقه نلری.
درد لری مګردوانه خوری.
ذلت یی نه دی خوښ او عزت ته هم په ښه سترګه نه ګوری.
دده طبیعت بل شان دی.
دی تاسی ته لاره ښی مګرپه یوه لاره درسره نشی تلی.
سبا

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ورځ چه تراوسه يي نه دلمرو ړانګې دغرونو په سرو لويدلي دي اونه يي دپيښو او واقعاتو مطلع چاته معلومه ده دسبا په نامه يادېږي.
دا ا ورځ لکه يوه پټه معشوقه له هرچانه پټه ده او دسحرنسيم يي هم له مخه پوړنی نه دی لری کړی.
دا نه ده معلومه چه دغه ورځ به څه له ځان سره راوړي او څه به له ځان سره يوسي.
دچمن په ګلونو به شبنم وروري او که ږلې؟
يو اشنا به په سروسترګو له بل نه بيل کړي او که دوه خواږه ياران به غاړه په غاړه کړي.
دا ورځ له دغه مجهوليت او معما توب سره دهرچا په زړه کښې محبوبيت لري او هرڅوک ورته په اميد ګوري.
دهرچا کاراوزيار دسبا ورځي دښه والي دپاره دي او دنن ورځي دعمل نتيجه دسبا ورځي په لمن کښې لټوي.
هرڅوک هيله لري چه دنن ورځي زحمت به دسبا ورځي په راحت بدل شي او سبا به له نن نه ښه وي.
په همدغه سره د ژوندانه مشقت سپکيږي او دااميد مزي غځيږي.
دنن ورځي بندي دسبا ورځي ازادي په خوب کښې ويني او همدغه رازخوبونه دغمونو تله سپکوي.
چاچه نن دخوښي او خوشحالي ډولي کاله ته را وړيده هغه يقين لري چه سبا ته به دزوی پلارشي او له دغې خوشحالي نه به بله خوشحالي پيدا شي.
دا غولونکي سبا هيڅکله نه سبا کيږي او ترقيامته دوام لري.
دژوندانه ټول خوږ والي په همدغه شي کښې پټ دی که دغسې سبا ته څه اميد ونلرو دژوندانه تحمل هيڅکله نشو کولی.
زمکه او آسمان په همدغې ورځي پسې سرپه خيږي سرګردانه ګرزي او داتيا کالوبوډا هم له دغې ورځي نه نااميده نه دی.
که دسبا ورځي مينه زمونږ له زړونونه واوزي مونږ بيا ژوند نشو کولی ځکه چه زړونه سړيږي او ارزوګان مري.
که مونږ له سبا سره خپل تعلقات قطع کړو ډيرتا وان به وکړو او خپل ژوند به فاني وګڼو.
زمونږنظربه بيا لري ځارنه کوي او ډيرلنډ به ګوري.
په دغسې حال کښې مونږ بيا اوږده اوږده فکرونه نشو کولی او دمريخ سفررانه پاته کيږي.
دسباورځي فکرزمونږ په اخلاقي ژوند کښې هم ډيره اغيزه لري او دبشرهرراز مادي او معنوي ترقيات ورپوري تړلي دي.
دهقان دهمدغې ورځي دپاره کرکوي او باغوان په باغ کښې نيالګي ږدي.
دخرما زړي په زمکه کښې کرل او دخرما له ونونه خرما ټولول دهغو کسانو کاردي چه سبا ته اميد ونه لري او دنن ورځي په تنګه دايره کښې ايسار نه دي.
څومره چه دانسان ذهن او دماغ ترقي کړيده ، په هره اندازه چه انسان لوی شوی او پوه شويدی هغومره يي له سبا سره تعلق زيات شويدی.
دسبا ورځي غم خوړل ، دسبا دپاره فکرکول، دسبا ورځي ضرورت او احتيا ج په نظرکښې نيول دډيروپوهانو اودډيرولويانوکاردی.
زه لوی او کوچنی په همدی پيژنم چه يو ډيرلری ګوری او بل ډيرنږدی دی ګوری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ديوه سبا هم ډيرلري او دبل لنډ دی.
د مسلمان سبا پس له مرګه هم شته، دده نظر بايد ډيرلري څاروکړي او ابدی ژوند په نظرکښی ونيسی.
ابدی ژوند همدغه دی چه سړی له سبا نه غافل نه وی او دسزا انديښنه ورسره وی.
نن او سبا هغه دوه ميلمانه دی چه يوځی اوبل راځی. مونږله يوه سره وداع کوو او دبل په خدمت مشغول کيږو.
زمونږ خدمت بايد دسبا ورځی دپاره وی او خپله آينده په نظرکښی ونيسو، دعقل او دوراند يشنی تقاضا همدغه ده

## دپسرلی ګله!

ستا ښايسته او ګلالی څيره په جهان کښی څومره قدرلری، اسمان له دومره لويو الی سره هرسحر دشبنم په پاکو اوبو څاڅکو ستا ښکلی مخ وينځی او زمکه دخپل زړه له نمه اوبه ورکوی.
دزمکی مخ په تا ښايسته دی هو ! ستا په وږمو معطره شوه، دبلبل خوږه نغمه ستا دجلوی برکت دی، شاعران ستا په ستاينه په جامعه کښی مقبول شوه، ښکلو پيغلوتا ته پخپل اوربل باندی ځای درکړ، بورا ستا په مينه په غزلو کښی وستايل شو.
په شعر او ادب کښی ستا برخه ډيره زياته ده، دمينی او محبت ډيرښه سوغات ته يی.
مګرګوره چه پخپل جمال او کمال مغرورنشی او له باغو نه اوزی.
تا غوندی ډيرښکلی او ښايسته ګلونه دهيواد په غرورغو کښی پيدا شوه چه نه چا وليدل اونه چا وستايل.
که ته هم له دغه چمن نه ووتلی او په غرونو کښي دی ځای ونيو نه به بلبل پيدا کړی اونه ماليار.
ته دخلقو له نظره مه لری کيږه او ځانته ماليارپيدا کړه !
دانسان دا عادت دی چه مطلق ښه نه ستا يی او هرښه څيز ښه نه ګڼی هو ! دی هماغه شی ښه بولی چه ده ته نژدی وی او دده خپل وبلل شی.
دلته هرڅوک خپل ښاغلی ګڼی او هريو دخپل باغ ګلونه ستايی.
نه هيڅکله دخلقو له نظره لری کيږه مه.
ستا ښايست دخلقو دتوجه او التفات نتيجه ده.
که ته غواړی چه هرڅوک دی قدروکړی او پخپل سردپاسه ځای درکړی لکه نرګس هرچاته په ښه سترګه ګوره او لکه دباغ غوټی هرسحرخلقو ته خانده !
په دغسی التفات او يوه خوله خندا سړی دخلقو زړونه خپلولی شی.
په يو ازی ګلتوب او ګلاليتوب هيڅوک قدر او منزلت نه مومی او نه په تش ښايست دلبری او دلربايی کيږی.
راشه زما دباغچی ګل شه ✻ چه هرسحردی په ديدن تازه کومه

## د رمی خاونده !

(c) ketabton.com: The Digital Library



دتورې کيږدۍ اودلويې رمې خاونده !
پدې سره اوتکنده غرمه کښې ،پدې وچه بيديا او سپيره صحرا کښې، چه يخې اوبه ،يخ سيورې توده ډوډۍ شودې اومستې کوچ اوپيروی کورت اوغوړې پوڅې اوپنيرونه هرڅه له تا سره دي په خوارانواوبيوزلورحم وکړه !
له لارويونه خپل خوړونکې سپې ايسارکړه !
هرڅوک چه ستا کيږدۍ ته په هيله او اسره راځي هغه له خپلو سپيونه ساته اوقدريې کوه !
په دې وچ ډاک کښې بل سيوری نشته يوازې ستا سيوری ته هيله او اسره کيږي.
که ته خپل سپي ونه نيسې له دينه لويه به رحمي بله نشته.
اې دخوړو سپيو خاونده !
ستا دسپيو تاوان له تا رسيږي اوددوی په ضررته نيولی يې.
سپي اونفس دواړه يو شانته دي.
ته خپل سپي ونيسه ! اوپه مونږ رحم وکړه !
ته پخپلو سپودا ګمان مه کوه چه دوی به هروخت ستا غليمانو ته غاپي .
دوی ډيرځله داسمان ستورواوسپوږمۍ ته هم غاپي .
ستا په ملګرو اودوستانوهم بلوڅي اوغوټۍ وهي.
آه- هيڅوک زما ناری نه اوري .
دخپلو سپيو حملي هم نه ويني.
زما غږ ترکيږدۍ نه رسيږي.
دوی ولې څه نه اوري؟
ولې څه نه ويني؟
ولې په چارحم نه کوي؟ پردی خوبه نه وي؟
کيږدۍ خود پښتنومعلوميږي.

## بې ګناه بندي

پرېږدی ! دا بې ګناه بندي پرېږدی !
مه ويرېږی ،دده په آزادولو کښې هيڅ خوف اوخطر نشته.
فساد اوشرارت له ده نه نه پيدا کيږي.
دده بندي کول لويه ګناه ده.
دا هغه يوسف دی چه دبې ګناهی په سبب په زندان کښې لويدلی دی.
که دی له زندانه راواوزی ستا سی آينده سنجولی شي اوستا سی دبلې ورځې غم خوړلی شي.
پرېږدی !دا بې ګنا بندي پرېږدی !

(c) ketabton.com: The Digital Library



که دی خلاص شو ستا سو انتظام به په ډېره ښه شان وکړی.
ستا سی وړی به ماړه کړی، ستا سی بربنډ به پټ کاندی.
تا سی دغه ښکلی موجود په تورو څاګانو کښی مه غورځوی.
په زندانونو کښی یی مه اچوی.
په لیوانو او پړانګانو یی مه خوری.
پریږدی ! دا بی ګناه بندی پریږدی !
دی به ستا سی د ګډو وډو او پریشانو خوبونو صحیح تعبیرونه وکړی.
ډیری سخری، مبهمی او مجملی غوټی به پرانیزی.دی د راتلونکی حال پیشبینی کولی شی.
د طبیعت په رمزونو او اسرارو پوهیږی.
د جوی او فلکی اوضاع او اقتضاآت ور معلوم دی.
پریږدی ! دا بی ګناه بندی پریږدی !
د ده په آزادی باندی علم او پوهه زیاتیږی.
وطن رڼا کیږی، ړانده بینا کیږی.
دی له خپلو جفاکارو ورو ڼو سره هم ښه سلوک کوی.
دی ډیر پیچومی او اړولی شی.
ډیری کړی لاری سمولی شی او ډیر مشکلات حل کولی شی.
ما خوب لیدلی چه دا بندی خلاصیږی او د سلطنت په کرسی کښینی.
ښه فکر وکړی !
دا بندی څوک دی؟
پس له ډیره فکره وایم:
فکر دی فکر !

## نظر لالا

په یوه ستانه کورنۍ کښی یو سپین ږیری خدمتګار او سیده چه هر چا به ورته نظر لالا ویل.
دا سړی د ماشوم توب له وخته د بوډا توب تر زمانی په دغه کاله کښی و او خپل ژوند یی په همدغه کاله کښی خاوری کړ.
د دی کاله نسبی سړی نه و او د خدمتګار په حیث یی کار کاوه، مګر مزدور ورته نشو ویلی ځکه چه د مزدور په شان کار یی نه کاوه.
هیڅوک به خپل ځان د ځان د پاره په کار کښی د غومره ستړی نکړی لکه چه نظر لالا د دغی کورنی په خدمت کښی ستړی او ستومانه و.
کوم کار چه څوک د یوی ټینګی او لوړی عقیدی د پاره کوی هیڅ حریص او په ګټه مین سړی یی د پیسو د پاره نشی کولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده دغه خدمت دخدای دپاره کاوه او په داسی جذبه يی کاوه چه دلمانځه دفو تيدوهم څه ډيره پروا ورسره نه وه.
په دغه سړی کښی ډیرزيات اخلاص، امين توب اوصداقت موجود و چه پدی وخت کښی يی مثل اونظيرنشی پيدا کيدی يا ډيرلږ پيدا کيږی.
دا سړی به نامه اوبی نشانه سړی و، جامی به یی تل زړی اوخړی وی مګردزړه صفايی یی دومره زياته وه چه زه ورته حد اواندازه نشم ټاکلی.
په کوم کلی کښی چه نظرلالا اوسيده دجاه اوجلال خاوندان اودعلم وفضل صاحبان هم اوسيدل چه ځينومريدان هم نيول مګرزه له هغوټولونه نظرلالا انتخابوم اوله نورونه په ادب تيريږم.
زما دا عادت دی چه له مخدوم نه خادم ته په محبت ګورم اوله پيرنه می مريد خوښ دی.
له ماسره اوس دا فکرډیرپوخ شويدی چه دخيراوبرکت خاوندان په ساده مسلمانانو کښی ډيرموندلی شو اوپوهان اوهوښياران دبل دپاره له خپلی ګټی نشی تيريدلی.
څوک چه دخدای دپاره دنوروخدمت کوی اوخپل ژوند دنوروله ژونده قربانوی هغه لکه نظرلالا داسی وی چه خپله مادی ګټه هيڅ نه پيژنی اوپه پردی کاله دومره زهيروی چه له هيڅا سره به دخپل کاله دغومره غم نه وی دا سړی په توراوسپين نه پوهيده الف اوبی یی نه وه لوستی دلفظ اومعنی فرق يی نشوکولی مګردنيکی اوخيررسولو په لوړه مبدا یی ټينګه عقيده لرله اودا جذبه پکښی دعشق حد ته رسيدلی وه.
نظر لالا دهرچا په نظرکښی ډيرسخت اوبخيل سړی معلوميده هرچا به ويل چه ده غوندی سخت سړی بل نه پيدا کيږی، په رښتيا چه دده پيرزوينه په ځان باندی ډيره لږه وه مګربخيل ورته نشم ويلی اوډيرحاتمان زه ورځنی ځاروم.
کله به چه دکاله خاوند نظرلالا له کابله ننګرهارته استوه چه ځاروی اوپسونه بوزی نو يوڅوډوډی به یی ورته پخی کړی اوډيری لږی پيسی به يی هم ورکړی چه په لاره کښی ځانته کوم وخت څه نګولی واخلی یا چيرته دځارويو دپاره واښه پری رانيسی، دا سړی به له کابله لغمان ته ولاړ اوځاروی به يی هم ورسول، مګريوه مياشت يا دوه مياشتی پس به چه څوک ميلمانه راغلل اوچرګ به پکارشو نظرلالا به هغه پيسی په چرګوړو ورکړی چه ميلمانه په ښه شان عذرشی اود کاله دخاوند ښه نوم وساتل شی.
دی هغه راز خدمتګارنه وچه له خپل مخدوم نه څه واخلی اودځان دپاره شی ذخيره کړی بلکه ده به هغه ته څه ورکول اوخدمت یی بيخی وړیاو.
دده خور اوخوريی ډيرغريبان و مګرهيڅ بد ګمانه سړی هم دا ګمان نشوکولی چه دی دی هغوی ته څه ورکړی.
که کله به دکاله خاوند دده په خاطرهغوی ته څه ورکړه دی به خپه کيده اودغه کاله زيان ورته لکه د ايمان زيان معلوميده.
دنظرلالا دا عادت و چه چرغړ به له خوبه پاڅيده اودسپيدو په رڼا کښي به غره ته ته، ترڅو به چه لمرڅرک واهه ده به له غره نه دخسوګيډی راوړ، چه سبا ناری به يی وکړ نوبيا به په نورو کارونو پسی روان شو اوټوله ورځ به يی کاراوخدمت کاوه.
هغه پس له ما ښامه هم دشپی ترلسوبجو دميلمنوخدمت کاوه اوډيرناوخته به ويده کيده.
دده په کارکښی درخصتی اوتعطيل ورځی نه وی اودناروغی دپاره يی هم فرصت نه درلود.
دی دعادت اوډيرکارکولو په وجه له پولادو نه هم کلک و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ګيډې چه ده د شپيتو کالو په عمر په شا باندې راوړ ددې زمانې ښه ښه ځوانان يې نشي وړلی.
ده به هر کله دختما پيوندي کالي اغوستل او خوراک يې هم ډير خوارو.
ترڅو به چه ډير مجبورنشونو داختر په ورځ به يې هم نوي کالي نه اغوستل.
په دغه کاله کښې به چه هر څومره ښه څه پاخه شوه دده برخه به پکښې ډيره خواره وه ځکه چه ښه ډوډی دده له ستوني ځخه نه تيريده او په همدغه وجه به دچرګ ورمير دده برخه وه.
نظرلالا له تودې ډوډۍ سره هم دښمني درلوده او چه په شکورکښې به سړه پرته وه نودې ته به يې لاس نه وروړ.
په همدغه سبب دی په ډير بخل مشهورو اوهرچا به ورته سخت او بخيل ويلی.
داود خلکو قضاوت چه له حقيقت نه ډير لرې و او په ډيرې ظاهربيني بناوه، هغه څوک چه خپل ژوند دبل دپاره وقف کړی او هيڅ دنيا يې ګټه پکښې له نظرلاندې نه وي هغه ته به څنګه بخيل وواېو.
هو ! نظرلالا په ځان باندې بخيل وځکه چه له ځانه تيرو او خپل ځان يې بل ته بخښلی و ده ته به که چا دخدای دپاره څه ورکړه هغه يې دبل دپاره اخستل او بل ته يې ورکول.
دا ايثاراوفدا کاري چه پدې وخت کښې لکه دانځرګل يا د مرغی پی ډيرنادرڅيز معلوميږي له انساني غرايزو سره ډيرموافقت نلري اومثالونه يې ورک دې.
دا راز سړي دخلقو په نظرکښې ډيرساده او ډيراحمق معلوميږي.
په عقل اوپوهه دا ګمان نشي کيدی چه چا ته ددغسې ايثار اوفداکاري اجازه ورکړي.
خپل ځان خوارول اوبل پالل، له ځانه تيريدل اودبل په ښه ورتلل دعقل اوفکرکارنه دی، ددغسې کارونو دپاره يولوړ معنوي عشق په کاردی اودنظرلالا اخلاص غواړي.
ددغه کاله هرڅه دنظرلالا په لاس و اودده په امانت داری هرچا داسې يقين درلود چه هيڅ شک پکښې چا نشو کولی.
زه دهغه چا ستا ينه نه کوم چه نظرلالا ورته ډيراخلاص اوعقيدت درلود اود زما په نظرکښې دستايلوو نظرلالا دی اودده په ښه سړيتوب ټينګه عقيده لرم.
دی اوس له نظره پناه دی اوزه دده زيارت ته په ډيراخلاص ورځم.
په هغه اديره کښې چه دی خښ دی نورقبرونه هم ډيردی او په وربانديې لاجنډې هم ولاړې دي مګرزه خپل مراد له نظرلالا څخه غواړم.
دده حسنات راته ډيردرانه معلوميږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جبراواختيار

هغه کارچه انسان په اراده اواختيارنه وي شوي دفخرورړنه دی اودملامتی موجب هم نه ګرزي يعنی که دچا ونه ټيټه وه ګرم نه دی که چا متوسط قد اوقامت درلود ورته نشوويلی چه ډيرښه کاردی کړی اواندازه دی ساتلی ده.
که يو سړی خپل سپين مخ تورکړی ملامت دی مګرد حبش مخ که هرڅومره توروی څوک يی نشی ملا متولی ځکه چه دده اختياراواراده پکښی دخل نلری.
که يوسړی خپل غليم په جنګ کښی مړکړی اوخپل شجاعت ښکاره کړی حق لری چه پخپله توره اوتوريااليتوب فخروکړی مګرکه مرغی ولی اوسړی ولګيده که څه هم دده دزوروراوزړوردښمن وی خپل بريت نشی تاوولی اوتوريالی ورته نشوويلی.
هيڅوک يوګونګ په حق نه ويلونه ګره موی ځکه چه هغه مجبوراومعذوردی.
مګرهغه چه ژبه لری اوله ډاره حق نه وايی له ملامتی نه نه خلاصيږی که څه هم يوڅه مجبوريت دلته هم شته اواختيارنيمګړی دی.
دجبراواختيارمسله ډيراړخونه لری اودغه فيصله څه آسانه خبره نه ده.
زه په دی ځای کښی دا اراده نلرم چه له علمی څيړنی نه کارواخلم زما مقصد بل دی اودملايانوپه کارکښی کارنلرم.
زه حتی الامکان له فلسفی بحثونو نه ډډه کوم مګرکله کله می دموضوع تعلق اوارتباط مجبوروی چه په معقولاتوکښی مداخله وکړم.
زه نه وايم چه انسان مختاردی ځکه چه مونږډيرمجبوريتونه لرواودجبرمظاهردلته بيخی ډيردی.
مونږمجبوريو چه په وچه مزل وکړوځکه چه دلته بحرنشته اوزمونږپه هيواد کښی بيړی نه ګرزی.
همدغه شان مونږله کابله ننګرهارته په هوا نشوتلی ځکه چه هوايی سرويس نه دی جاری مګردغه راز مجبوريتونه په ځينونوروځايوکښی نشته هلته يوسړی اختيارلری چه په هوائی که په بحرکښي اوکه په وچه.
اوس پوه شوی ! چه جبراواختيارپه هرځای کښی يوشانته نه دی اوټول انسانان يوراز نه دی.
ډيرمجبوريتونه پخواو چه اوس نشته اوخپل ځای يی اختيارته پری ايښی دی.
يوه ماشوم چه اول پيدا شی هيڅ اختيارورسره نه وی اودبل په غيږ کښی ژوند کوی.پخپله نه چيرته تلی شی اونه راتلی شی. ځملول اوپاڅول يی دبل په لاس وی اوکالی بل څوک وراغوندی مګرڅومره چه لويږی اوغټيږی هغومره دمورله غيږی لری کيږی اوله مجبوريت نه داختيارخواته درومی.کله چه پخپلوپښوروان شی نوبيا خپل مخ پخپله وينځی اوپخپله خوښه له کاله وځی يا کاله ته راځی.
کله چه ځوان اوځلمی شی دکاله واک اواختيارهم دده شی اودپلارپه جايداد تصرف وکړی.
په هره اندازه چه دژوندانه درجه اومرتبه لوړيږی مجبوريت کميږی اواختيارزياتيږی.
يوکاڼی که څوک هری خواته غورځوی، اوهرراز لوبی پری کوی کولی يی شی مګرونی اوبوټی دغسی نه دی يعنی دنبات مجبوريت له جماد نه لږدی، ځکه چی دحيات اثرپه ده کښی زيات دی.
له ونواوبوټونه بيا دڅارويواختيارډيردی اوجبرونوهم تخفيف موندلی دی، انسان چه له حيوان نه پورته مقام لری اودتکامل په لاره کښی وړاندی دی دده اختيارنورهم زيات شوی اوله خپلی ارادی نه ډيرکاراخلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په انسانانو کښې هم دوحشي او مدني انسان دعالم او جاهل انسان دقوي او ضعيف انسان په اختيار کښې ډيرفرق موجود دی مګربيا هم په هرحال کښې يو څه مجبوريتونه شته او په جبراو اختيارکښې ډيرفلسفي بحثونه کيدی شي. ددنيا ډيرپوهان پدی عقيده دی چه دانسان ډيرکارونه په ظاهره ارادی او اختياری معلوميږی مګرپه حقيقت کښې دمجبوريت اثروی اوخبره له اختياره وتلی وی.

دوی وايي هغه سړی چه ډيرپه غيظ او غضب کښې وی او په همدغه وجه دچا دوژلو اراده وکړی مونږ ورته دااختيارخاوند نشو ويلی ځکه چه دی په دغه حال کښې دداسی اغيزو او نفسی تاثراتو محکوم دی چه له دغه کاره ځان نشي ژغورلی او پخپلو احساساتو حاکميت نلری که مونږ يوه شو چه دی په دغه وخت کښې له يوه ليونی نه څه فرق نلری او په طبيعي حال کښې نه دی ، دی به اورومرومجبوره ګڼو اودغه کارته به غيراختياری وو ايو.

همدارنګه هغه څه چه يوعاشق دعشق په جذبه کښې دعشق دپاره کوی له مجبوريت نه نه وی خلاص او اختياری ورته نشو ويلی.

ددغو خبرو خلاصه او نتيجه داده چه شديد محبت او شديد بغض دانسان اختيارسلبوی او هغه څه ورباندی کوی چه په عادی او طبيعي حال کښې يي يوعاقل انسان نه کوی دهمدی لامله ډيرخلق پخپلو ځينو کارونو بل وخت پښيمانه کيږی او پوهيږی چه ښه يي نه دی کړی.

ځينې نورپدی عقيده دی چه انسان دااختيارخاوند دی که ښه کوی بايد ښه ورته وو ايو او که بد وکړی بايد بد يي وګڼو. دوی وايي که انسان دعشق دپاری کوم کارکوی او که ددښمنی دپاره په دواړوحالو کښې دغه کارددهٔ ګڼل کيږی او په دهٔ پوری تعلق نيسی ځکه چه دغه مختلف احوال چه دزوروری مينی يا دشديد عناد په اثرپيدا کيږی اونفسی يا روحی اغيزی ورته ويل کيږی پخپله له نفس څخه عبارت دی اونفس دهمدغواحوالو اوکيفياتونوم دی، هسی نه چی کوم بل شی په نفس اغيزه کوی او اختياريي سلبوی.

ارسطو دجبراو اختيارحدود ډيرښه ټاکلی دی او پدی باب کښې يي ډيره ښه فيصله ګړيده.

دی وايي هغه کارچه يوسړی پخپله اراده نه کوی او دده اختيارپکښې هيڅ دخل نلری ښه اوبد يي ده ته نه دی راجع او دده کارورته نشو ويلی يعنی که يوزوروورباد يوسړی کومی خواته يوسی يا يي څوک لاس او پښې وتړی اوله يوه ځايه يي بل ځای ته وړی نودلته اختيارسلب دی او په مجبوريت کښې هيڅ شک او شبه نشته مګرکه يوسړی دخپل شرافت دساتلو دپاره کوم کارکوی اوخپل عزت اووقاريي يوه کارته مجبوروی نودغه راز مجبوريتونه دجبرله قانون لاندی نه راځي.

دی دمثال په ډول وايي: که ديوه سړی موراوپلار اولادونه ديوظالم اومستبد له تهديد لاند وی چه دده په تسليمدو او اطاعت هغوی له زيان اوضرره محفوظ پاته کيږی او که اطاعت ونکړی هغوی ضايع کيږی نوپه دغه صورت کښې دا سوال پيدا کيږی چه که دغه سړی دهغه ظالم له خوا په يوه ناوړه کارمامورشی دی په دغه باب کښې مجبوردی او که مختار؟

ارسطووايي چه دلته جبراواختيارمخلوط شانته دی مګرداختيارجنبه غالبه ده ځکه چه ددغه کارپه کولو اونه کولو کښې دترجيح او انتخاب مسله مينځ ته راځي نوهره خواچه دی انتخابوی او ترجيح ورکوی هغه دده خوښې او ارادی ته راجع ده او دده کارګڼل کيږی.

دی وايي په دغسی مواردو کښې که سړی ناوړه اوبد کاروکړی دغه راز مجبوريتونه معقول عذرنشي کيدای په دغسی مجبوريت بايد سړی پښې کيږدی او هغه څه وکړی چه انساني شرافت اووجدان يي تقاضالری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شجاعت او شهامت چه يو اخلاقي فضيلت دی په همدغسی موارد و کښی ځان ښيی او د افتخار حق پيدا کوی.
هغه د سرخطر چه په جنګ او جګړه کښی يو بی زړه سړی تيښتی ته مجبوروی د خلقو په نظر کښی څه اعتبار نلری په همدغه وجه له تورو او ټوپکو نه تښتيدونکی هرچا ته سپک ښکاری او هغه چه له مرګه نه ويريږی او په ايستلو تورو ورځی د خلقو په نظر کښی درانه معلوميږی.
که په دغسی مجبوريت خلق قايبل وای هر څوک به له جګړی څخه تښتيده او هيچا به هغه ته په سپکه نه کتل.
هغه افتخار چه د شجاعت او شهامت خاوندان يی ګټی د دغسی مجبوريتونو په نافرمانی کښي پټ دی لکه چه عار او ذلت د دغه راز مجبوريت اطاعت او انقياد ته ويل کيږی.

# دخان واده

له خوبه پاڅيدم ، د ډول او سرنی آوازمی ترغوږه شو او ډيره لويه ورا را ښکاره شوه چه ډير خلق ورسره خوشحاله روان و ، او د خان په واده کښی يی لاسونه غورځول.
زه هم له دوی سره ملګری شوم او په دی خوشحالی کښی می ځان شريک کړ.
د دی ښادی د ډول او سرنی غږ ډيرلری ځايه رسيده او ډيرو خلقو پکښی اتڼونه کول.
چا به ډزی کولی چا به اسونه ځغلول، ځينو به ټوکی او مسخری کولی په دغسی خوشحاليو کښی ماښام تياره کلی ته ورسيدو او ډولی د کاله په مخکښی ښکته شوه.
د کلی ښځی په ډيری خوشحالی او د ډولی پردی يی جګی کړی همدغه وخت خندا او خوشحالی ځپل ځای غم او ژړا ته پريښود او دا معلومه شوه چه دغی ښکلی ناوی د خپلی ازادی د پاره ډيره لويه قربانی ورکړه او د اجباری واده ملا يی ماته کړه.
د دغه حال په ليدلو د هرچا په احساس کښی بدلون راغی او مونږ پوهيدو چه کله خلق جنازه هم په ډول او سرنی وړی او په غم د ښادی ګمان کوی.
په دنيا کښی ډير داسی غمونه شته چه د خوشحالی په ډولی کښی پټ دی او خلقو په شعور او تميز مسخری کوی.
زما يوه ملګری په دغه ورځ وويل: په رښتيا چه خوشحالی څوک په زور او جبريا په ډيرو پيسو کورته نشی وړلی.
مګر خان لاتر اوسه په دغه حقيقت نه دی پوه او خپله خوشحالی په دغه ډول غواړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غم او خوشحالي

زما اشنا له ډيرو غمونو سره نا اشنا دی دهغه په کاله کښې چا دماشوم ژړا نه ده اوريدلی او دخپلو ماشومانو په مرګ او درد يې هيڅکله نه دی ژړلی.
هغه دځوی اولور پلار نه دی چه داولاد په تبه او شری يا کوی غمجن شي.
هغه حال چه يو پلار يې دخپل کوچني ځوی يا ځلمی ځوی دځانکدن په وخت کښې وينی دی ترينه نا خبره دی.
ده غوندی بې غمه سړی ډيرلږ پيدا کيږی او په همدغه سبب يې دخوشحالی برخه هم ډيره لږه ده.
دی چه پخپل کاله کښې خپل خلف الصدق نه وينی په زړه کښې ډيرځوريږی او ځان بدبخته ګڼی مګر دده دغه غم زمونږ په نظر کښې دهغه چا له غمه ډيرسپک دی چه دوه زامن يې ژوندی دی او يوه د دميه غيږ کښي خدای ته ځان سپارلی دی ځکه مونږ هغه ته دفاتحی دپاره ورځو او ده ته نه ورځو.
زمونږ دا عادت دی چه که دچا په کاله کښې نهه مياشتينی اولاد مړ پيدا شي ويرورسره نه کوو او هغه هم دغم کمپله نه غوړوی مګر په کوم کاله کښې چه ددوه ورځو ماشوم مړشی هلته غم او مصيبت مجلس جوړيږی او خلق ورسره همدردی کوی.
موريس مترلينګ وايی: تاسی په مليار دونو نطفی ضايع کوی مګرخوا بدی کيږی نه او دغه راز ضياع دچا دغم او خپګان موجب نګرځی. ددی خبری معنی دا ده چه زمونږ غمونه معقول نه دی محسوس دی.
هرضايعه چه يوازی عقل پری پوهيدلی شي او احساسات ورسره تعلق نلری همدغسی بې اثره دی.
زمونږ خوشحالی هم لکه زمونږ غم په عقل او منطق اتکا نلری بلکه دشعور او احساس نتيجه ده.
غم او خوشحالی يو په بل پوری تړلی دی او يو له بله نه بيليږی.
ځينی ګمان کوی چه خوشحالی له بې غمه خلقو سره زياته ده او هغه څوک ډيرنيکبخت دی چه هيڅ غم نلری مګرحقيقت دغسی ندی او ښادی هرچيری دغم په اندازه ده.
حقيقی بدبختی په بې غمی کښې ځای لری او بې غمه سړی ته که سړی وويلی شو نيکبخت خوورته هيڅکله نشوويلی.
غم او خوشحالی لکه ديوی ټوټی دوه مختلف مخونه دی چه اصل يې يو دی.
څنګه چه شپه او ورځ يو په بل پوری نښتی دی او هرکاله ته دواړه وراندی او ورسته راځی دغم او خوشحالی ارتباط هم دغه راز ټينګ دی که څوک وغواړی چه هغه يو خپل کاله ته پرنږدی او دابل ايسارکړی له دينه لويه اشتبا بله نشته.
داسی کيدی شی چه ورځ اوږده شی او شپه لنډه يا شپه لويه وی او ورځ وړه وی مګر داسی ورځ چه شپه ونلری يا داسی شپه چه ورځ ورپسی نه وی په دنيا کښې نشته.
که لمرتر اخرته پاس په تندی ځای پرځای ولاړ وای او دزمانی په رنګ کښې هيڅ تغيراو تحول نه وای موجود هيڅوک به نه پوهيده چه شپه څنګه وی او دهمدی لامله چه شپه به چا نه پيژاندله پدی به هم نه پوهيده چه ورځ څنګه وی او څه کيف لری.
غم او خوشحالی هم لکه شپه او ورځ يو په بل پيژنو که غم له دنيا بيخی لاړ شی خوشحالی هم ورسره ځی که ژړا نه وی خندا هم نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هماغسې چه هګۍ له چرګۍ پيدا کيږي او چرګه له هګۍ نه غم او خوشحالي هم يو د بل اولاد دی.
انسان بايد پدی پوه شی چه غم او خوشحالي يو ظاهري او اعتباري فرق لري يعني دا فرق هم لکه د شپې او د ورځې فرق د سترګو او نظر فريب پيدا کړيدی چه عقل د او بصيرت خاوندان پری نه غوليږي بلکه ړانده هم دواړه يو ګڼي.
ځوک چه د عقل سترګې لري او د فلسفي شعور خاوند دی هغه زماني ته په بل شان ګوري او د شپو و رځو له سپينو او تورو پردو نه هغه خوابي رنګه زمان په بل ډول ويني هغه پوهيږي چه زماني دواړه مخونه يو ه شي ته منسوب دی او يو حقيقت دوه رنګه ښي.
ډيره ښه ده چه عقل او پوهه په مونږ ډير تسلط نلري او مونږ يي له وهم او خيال نه لري کړي نه يو ګڼي او س به شپه او ورځ را باندی يوه وه او خوشحالي به هم را باندی غميدلی وه.
زمونږ غمونه او زمونږ خوشحالي زمونږ په ژوند کښي هغه سوز او ساز پيدا کوی چه بی له هغه د ژوند کيف او خوند نه پاته کيږي.
غم د خوشحالي ځکلو ذايقه او احساس روزي او خوشحالي لکه د خوږو ميوو خوراک ترخو مرچو ته ضرورت لري.
که په دنيا کښې ترخه شيان نه وی خواږه ډير ژر زړه وهی او بيخونده کيږي.
د ژوندانه خوند غم او خوشحالي ته ډير ضرورت لري او په د غه خوند کښي د عواطفو او احساساتو خاوندان ډيره برخه لري هغه ړانده هوښياران چه په ظواهرو نه غوليږيا و د غم او خوشحالي په فرق نه دی قايل له د غه نعمته محروم دی.
که مونږ ډير عميق فکر و کړو هماغه شی مونږ ډير خوشحالوی چه مونږ يي ډير خپه کړی يو او ډير ځله هغه شی ته خوشحاليږو چه زمونږ غم پکښي پټ دی، ډيره ښه ده چه په جهان کښي د غه راز ژور فکرونه ډير لږ دی او احساسات مونږ ته دغه موقع نه راکوی چه د غمونو او خوشحاليو حقيقت ته ډير ځير شو.
ډير خلق دی چه يوه ورځ يي ګرانه ښځه مری او دی غمجن کيږي مګر بله ورځ نوی واده کوی او نوی خوشحالي هغه زوړ غم بيخي هيروی نو د غه د خوشحالي ډولی او هغه د غم جنازه يو له بله ډير ربط لري که هغه غم د غه کاله ته رانشي دغه ښادی هم نشی را تللی.
د اوصال په حقيقت کښي د هغه فراق نتيجه ده او په هغه وير کښي د غه سرور او سرود پټ دی هر څومره چه خوښحالي د پسرلي بارانونه زور ور دی هغومره يي سيلابونه هم زورور دی، له د غسی زورورو بارانو سره تندر او ږلی هم شته لکه چه له ډيرو لويو افتخارتو سره ډيرلوی خطرات ملګری دی.
همد غه وجه ده چه زه له سپکو او کوچنيو غمونو څخه لوی او ستر غمونه ډير ښه ګڼم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اخلاقی اساس

شوپنهاروايي: د اخلاقو د پاره له ترحم نه ښه اساس نشته، انساني اخلاق بايد په همدغه اساس قايم وي.
دده په نظر ښې اخلاقي عمل هغه دی چه د شخصي ګټې هيڅ اثر پکښې نه وي او محض د بل د خير د پاره وي.
دده په نزد انسانيت يو قانون لري چه مخالفت ترينه ښه نه دی او انسان مکلف دی چه له دغه قانون سره سم وچليږي.
دده په نظر هغه کار چه قانون د پاره کيږي او هغه کار چه د قانون د پاره نه وي شوی مګر له قانون سره موافق وي يو له بله فرق لري. دی هرنيک او ښه کار اخلاقي عمل نه ګڼي دده په فکر اخلاقي عمل هغه دی چه خاص د قانون د پيروی او د انساني تکليف د پرځای کولو د پاره اجرا شوی وي نه د شخصي ګټې د پاره.
په همدغه سبب ديوه سوداګر صداقت او راستي چه د تجارتي ګټې د پاره وي نيک کار ګڼي مګر اخلاقي عمل ورته نه وايي.
همدارنګه هغه څوک چه ډيرزړه سواندی وي او به همدغه سبب له خلقو سره نيکي او احسان کوي دغه راز نيکي او احسان د کانت په عقيده اخلاقي عمل ندی.
دی وايي که دغه سړی له خلقو نه ډيری جفاګاني ووينی زړه به يي سخت شي بيا به له چا سره احسان او نيکي نه کوي مګر هغه څوک چه د خلقو جفاګاني ويني او محض د تکليف د پاره له خلقو سره ښه کوي دا کار اخلاقي قيمت لري او اخلاقي عمل ورته ويل کيږي.
مترلينګ وايي: هغه مينه چه انسان يي له انسان سره لري بايد له ډيرلوړ او هسک ځای نه اخستل شوي وي که يو انسان وکړی شي چه له انسانانو سره عشق ولري او بشردوستي د عشق له کوره واخلي نه ښايي چه له ترحم نه کار واخلي او مينه يي د مرحمت او مهرباني رنګ پيدا کړي.
که څوک چاته د عدالت له مخې څه ورکولی شي د احسان له لاری دی څه نه ورکوي که د چا له لاسه پوره وي چه د انسان احترام وکړي دلجويي او تسلي ورکولو ته حاجت نشته.
دی د انسان د پاره له چا نه رحم او شفقت نه غواړي عشق غواړي.
د احسان له ورکړې نه د عدالت ورکړه ښه ګڼي او له نوازش نه يي احترام د انسان د پاره غوره ګڼلی دی.
دا سړی د عشق طرفدار دی، دده په مذهب بايد شاه او ګدا يو له بله عشق ولري. ده ته له شفيق نه رفيق ښه ښکاري او له هغې مينې نه کرکه کوي چه يو مهربان بادار يي له خپل صادق خدمتګار سره لري دغه راز مينه چه د ترحم او شفقت رنګ لري يو انسان لوی او بل کوچنی ښيي پدی مينه کښې چه هرڅومره مهرباني پرته ده هغومره پکښې د محبوب حقارت هم شته مګر په عشق کښې کبر او لويي نه ځاييږي او آغا توب نه مني.
دی انسان ته په ډيرلوی حق او ډيرزيات احترام قايل دی مګر دغه حق ورته په سوال او ګدايي د ترحم له لاری نه غواړي. د عدالت په اساس يي غواړي.
که بشر ښه انصاف وکړي خواران او مزدوران په بډايانو باندې ډيرلوی حق لري خو دغه حق پټ پاته دی او خلقو هير کړی دی.
روسو وايي: (هر وخت چه تاسي يو آسمان خراش قصر وينی يقين وکړي چه ديوه ولايت کورونه د دغه قصر د بنا د پاره وران شويدی).

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چيري سم اوصحيح حساب مينځ ته راشي ډيرلوی بدايان دډيروزياتوخلقوپوروړی دی اودوی خيرات په حقيقت کښې ددغه پورنيمګړی ادا ده.
که يوسړی په دغسې احساس خواراوغريب ته څه ورکوی احساس يې ډيرلوړاوعالی دی اوله هغه بل نه چه دا کارخپل رحم اوکرم ګڼې عالی همت اولوړ شعورلري.
دچا پوهه چه دعشق په آب وهوا کښې وده وکړي اوعواطف اواحساسات يې په عقل غالب وی هغه دمترلينګ په شان فکرکوی اوله نوروپوهانونه يې فکربل رازدی.

## ښه اوبد

خدای خبردی چه غل وکه خونی و يا يې کوم ډيرد شرم کارکړی و ، هرڅه چه و ، خوخلقويې متې تړلې وی اوحاکم ته يې راووست.
هريوه ويل: دی ډيربد سړی دی مونږدده له لاسه ډيرپه عذاب يو ، دی بايد بندی شي اوډيره سخته سزاووينی.
حاکم هغه بد وګاڼه اوزندان ته يې وليږه دهغه خپلوان اخندزاده صاحب ته ورغلل اوهغه يې حاکم ته ورووست کله چه حاکم دآخند زاده صاحب له راتګه خبرشويوه ټوټه مخې ته ورغی، دهغه لاسونه يې ښکل کړه اوپه ډيرعزت يې خپل ځای ته راووست.
داخند زاده صاحب له خبری هيڅوک نشوو تلی، حاکم دده امرته غاړه کيښوده اوبندی يې خوشې کړ.
ما چه دغه حال وليد پدی پوه شو چه دلته دښو اوبدو فرق شته ځکه دښه سړی لاسونه ښکلوی اودبد سړی لاسونه تړی، مګرټول د ښه اوبدو په فرق يو شان نه دی پوه شوی دهمدی لامله هغه سړی چه خلقو په نظرکښې بد و اخند زاده صاحب ښه وګاڼه اوله بنده يې خلاص کړ.
زما ملګری وويل: دوی دښو اوبدو په تميزکښې ډيرغوليدلی دی دوی وايي زمونږ ملک ډيربد سړی دی ځکه چه دغلوملګری دی اوغله په حاکم باندی خوشې کوی مګرهمدغه کارچه اخند زاده صاحب وکړ هغه ته بد نه وای.
هرکله چه خونيان اوداړه ماربنديان شي دده په برکت خوشې کيږي اودګنهګارو شفاعت دده کاردی.
دی يوازی له حاکمانونه غله خلاصوی که شکرانه غټه وه په آخرت کښې يې هم خلاصولوذمه کوی اوپس له مرګه يې هم ملګری دی.
که يوحاکم يوغل دملک په خوله خوشې کړی دا کاردوی ته بد ښکاری مګرکه آخندزاده صاحب په سفارش يې پريږدی نوبيا په ښه سړيتوب اودينداری کښې حسابيږي.
دهرچا بدی که په ډيروپردواورنګونوکښې پټه وه هغه ددوی په نظرکښې ښه سړی دی اوکه چا خپله بدی نه پټوله يا يې نشوپټولی دوی ورته بد وايي اوپه بد نامه يې يادوی.
دوی هغه غل ګڼی چه دسوداګروقافلې وهی اودبدايانو به کورونوداړی غورځوی مګردهغه چا لاسونه اوپښې ښکلوی چه په چل اوفريب دخيراتونو قافلې خپل کاله ته راګرزوی اودمسکينانوحق غصبوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پخوانۍ ډېوې

په کاله کښې برق لګيده مګر پاس په رف باندې د تورو تيلو مسينه ډيوه ايښې وه ، په څنګ کښې يې يوه بله ډيوه هم وه چه يو وخت پکښې شمع بليده.

هغه خوا د خاورينو تيلو لاټين ښکاريده او دا سې معلوميده چه هرې ډيوې پخپل وخت کښې دا کور رڼا کړې او د کاليه خلقو يې په رڼا کښې ډيرې شپې سبا کړيدې مګر اوس ترينه څه کار نه اخستل کيږي او د شپې په کور کښې برقونه بليږي.

د زمانې دا عادت دې چه زاړه شيان له کاره باسي او نوي شيان په کار اچوي مګر خلق خپل زوړ حال نه هيروي او زړو شيانو ته په ځګور رفونو باندې ځای ورکوي.

دا عادت بد نه دې چه څوک زاړه خدمتونه هيرنګړي او زړو خدمتګارانو ته په قدرو ګوري مګر کار بايد له نوو شيانو و اخستل شي او به کورونو کښې وخت په وخت نوې رڼاګانې پيدا شي.

انسان په هر وخت کښې يوې رڼا ته محتاج دې او دا رڼا هر کله خپله څيره او خپله وضع بدلوي د عالم تغير چه د دنيا لاينېر قانون دې همدغه تقاضا لري چه هر څه بايد يو راز او بل راز را شي او يوازې لوی خدای تل ترتله په يوه حال باقي وي د همدغه بدلون او تغير په وجه د علم او پوهې رڼا هم هر وخت خپل فانوس بدلوي او د لوښو په بدلون په لوښو کښې پراته شيان هم بل راز کيږي.

هغه رڼا چه د خاورو له تيلو پيدا کيږي هغه نور چه د لمر او سپوږمې له کوره راځي هغه بريښنا چه د اوبو له آبشار څخه حاصليږي د ظرف او محل په اعتبار يو له بله بيليږي که څوک په د غو ظاهري سورتونو ونه غوليږي او حقيقت ته ځير شي نو د شړشمو او پنبې په بوټو ، د غوزانو او زيتونو په ونو کښې يوه رڼا موجوده ده چه په هر راز ډيوه کښې بيل کيف پيدا کوي که څوک هغه تيل چه په ډيوه کښې ويني په پنبه کښې وويني يا د غه سيزونکی برق چه په برقي نغريو کښې ګوري په اوبو کښې وليدی شي هغه ته اور او اوبه دومره فرق نلري او د جهان په هره ذره کښې يوه رڼا ويني چه د صحرا په کاڼو کښې هم شته هغه نور چه کليم په کوه طور کښې ليده د ښونه په هره ونه کښې شته مګر محرمانه سترګې غواړي.

که د انسان تعقل قوی شي او د حواسو له قيده راوزي (که څه هم د بشر او سنی پوهه هماغه رڼاده چه د حواسو له کړکيو راننوتلې ده ) به هر شي کښې به يو نور ګوري او د وجود په نړی کښې به دا تور او سپين نه وي او س مونږ د حواسو تاثير لاندې يو چه په تيلو غوړ لاسونه په پندانه وچوو.

که لوښې او ظروف زمونږ د نظر مانع نشي نو په هر کور کښې ديوې ويالې يا ديوې چينې اوبه دې او د ټولو مشرب يو دی.

که مونږ د سيند او ويالې ، د کوهې او کاريز ، دواورې او باران په نومونو او صورتونو ونه غوليږو نو واوره ، ږلې او باران ديوې کورنې خلق دی او اور او اوبه هم دومره پردی نه دی.

په حقيقت کښې همدغه خوږوالی دی چه په ختکي ، هندوانه ،توت ،آنګور ،ناک او منه کښې يې حلول کړی او په هر محل کښې يې بيل صورت بيل خوند او بيل نوپيدا کړيدی.

هغه لوی او واړه زخمونه چه د بيلو بيلو ميوو او دانو شربتونه او عرقونه پکښې پراته دی ټول يو کيف لري او د کجرو او اوربشو په مينځکې څه فرق نشته په د غسې کتنه چه سړی له اشکالو او صورتونو نه هغه خوا وګوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړی ته دا معلومیږي چه کورت او شرمبی له یوغړکی راوتلی دی او مایعات او جمادات زمونږ ظاهری حواسو بیل کړیدی.
هغه وخت چه زمونږ تماس او تعلق له مادیاتو نه قطع شی او مجرد شو ښایی چه دنن ورځی علم او معرفت بل رازشی او دغه رڼا بل شانته ووینو. هغه وخت به دنن ورځی دتنویرو سایل لکه ددی کوتی بیکاره ډیوی په کارنه وی او علم وپوهه به په نوروقالبونو کښی ځان ځرګند کړی چه اوس یی مونږ نشولیدلی.

## انتخاب

زما ملګری له اجتماعی مسایلو سره ډیره زیاته علاقه لری.
کله چه ولس د شورا د پاره وکیلان انتخابوی یا دحکومت مشرخیل وزیران ټاکی دی په انتخاباتو باندی په زړه کښې سل اعتراضه لری.
دده په نزد سم او صحیح انتخاب ډیرمشکل کاردی او که دغه کاربل ښوک کوی دی پکښی ډیرعیبونه پیدا کولی شی.
دی وایی دګوستاولوبون دا خبره رښتیا ده چه په خلقو باندی حکومت کول دومره ګران کارنه دی لکه چه په خلقو کښی لایق کسان پیژندل او انتخابول مشکل کاردی.
زما ملګری دا یوه لویه اشتباګڼی چه اجتماعی کارونه داسی کسانوته وسپارل شی چه هغوی په خبروکښی ډیرمهارت لری او په خبروډیرښه پوهیږی ده دکوم عالم دا خبره ډیره خوښه کړیده چه په خبرلوخو او نطاقانو کښی دفکرخاوندان ډیرلږ پیدا کیږی.
دده په نزد هغه ښوک چه ډیری ښی خبری کولی شی ښه ښه کارونه نشی کولی او ډیرفکرکوونکی هم دکارخلق ندی.زه دده دا خبره ځکه ښه ګڼم چه دی پخپله دفکرخاوند دی او په خبروکښی هم ډیرښه دی، هغه ښوک چه دځان په باب کښی هم له حقه نه تیریږی او دقضاوت په وخت کښی په ځان هم حکم کولی شی باید ښه یی وګڼو او په قدرورته وګورو.
اوس خو به پوه شوی یاست چه زما ملګری په اجتماعی مسایلو کښی ښومره عمیق فکرلری مګرزما علاقه له ده سره په فکری او علمی دقت نه ده بنا بلکه دده شعری او ادبی جنبه می ډیره خوښه دی.
دی علاوه پدی چه شاعراو لیکونکی دی په شعراو ادب کښی ډیره ښه نقادی هم کولی شی یعنی که هرښومره ښه شعربد په نظرورغی یا دشعرخاوند ښه سړی نه و، دی پکښی داسی باریک عیبونه پیدا کولی شی چه نوریی په ذره بین هم نشی لیدی مګرکوم شعرچه دی پخپله انتخاب کړی هغه هم ډیرښه نه وی یا یی نورپه ښه والی نشی پوهیدای.
ګوری! زما مقصد دا نه دی چه دی ښه شعراوبد شعرنه پیژنی بلکه یقین لرم چه ادبی محاسن او معایب ورته ډیرښه معلوم دی.
زما په نظرکښی دی ډیرښه شاعردی مګرده له باریک نظرڅخه په ویره کښي یم چه دا خبره یی په مزاج بده ونه لګیږی ځکه چه اناتول فرانس پخپل یوه کتاب کښی لیکلی دی چه ډیرښه شاعرهماغه دی چه ډیرخودپرست وی اوبی له ځانه بل ښوک په نظرکښي نلری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما دغه ملګري يوه ورځ د وطن په کاردارانو باندې بحث کاوه چه ځينې يې ښه ګڼل او ځينې بد ، ما چه دده دغه انتخاب وليد پدې پوه شوم چه د شعر له پيژندلو ته د سړو پيژندل ګران کار دی او د اشخاصو په عمل کښې دومره اختلاف نشته لکه چه په نظر کښې شته.

دا کيدی شي چه ډير خلق په يوه چلم خوله کيږدي مګر فکرونه او نظرونه يو راز نه دي.

د حسن انتخاب، د شعر انتخاب، د شخص انتخاب په هرځای کښې يوه اختلافي مسله ده چه د هرچا ذوق او نظر په لحاظ فرق کوي. که هرڅيرته لاړ شي او هرچاته لاړ شي يو به د بل په انتخاب اعتراض کوي او دغه شکايت به هرځای موجود وي.

حجازي د ايران ډير ښه او مشهور ليکوال ليکي: زما يوه دوست چه له ډيرو ښو ليکوالو څخه دی د ايران په فرهنګستان انتقاد کاوه چه په دغه علمي او ادبي انجمن کښې ولې ځينې بيسواده اشخاص په عضويت انتخاب شويدي او لياقت ته نه دی کتل شوی؟ مګر څومره چه دده د ايران د فرهنګستان اعضا وو ته بد ويل هغومره يې د فرانسې د اکاډمي اعضا ستايل او دهغوی انتخاب يې ډير صحيح ګاڼه، څوورځې وروسته چه زه حجازي د فرانسې د اکاډمي له يوه غړي (مسيوماسين بون) سره په پاريس کښې مخامخ شوم نو د اکاډمي بحث مينځ ته راغی او هغه په ډير قهرو ويل [د فرانسې له اکاډمي نه خرابه دستګاه بله نشته څوورځې پخوا يوتن د کتابونو ناشريعنی کتاب فروش چه د اکاډمي د ځينو اعضاو کتابونه د تملق د پاره چاپوي او خرڅوي يې د اکاډمي غړی شو چه د ادبياتو به پوله هم نه دی تيرشوی].

دا قصه همدغلته پريږدی ! راشي چه د فرانسې د اکاډمي انتخابات د اناتول فرانس په وخت کښې وګورو.

دغه لوی او مشهور ليکوال پخپل يوه کتاب کښې د دووتنو (شاګرد او استاد ) مذاکره د اکاډمي د يوه غړي په باب داسې ليکي.

شاګرد: مسيو..... د اکاډمي په عضويت انتخاب شوا او دا انتخاب زه ډير بد ګڼم. دا سړی د معاشرت په ادابو ډير ښه پوهيږي او له هرحزب سره تګ راتګ لري، سربيره پدې يوي لوړي کورنۍ ته هم منسوب دی او وراره يې د کليسا واکدار دی، دی پخپله هم ډير څه لري او په کاله کښې يې ډير ښه شراب پيدا کيږي مګر ذوق او هنرنلري او د لوړي قريحې خاوند ندی ځکه راته دغه انتخاب ډير ناوړه معلوميږي او په بد نظرورته ګورم.

استا: ناوړه انتخاب ته هيڅکله بد مه وايه او پدې پوه شه چه په کارونو کښې د تصادف او اتفاق برخه ډيره زياته ده هغه کار چه تاسو ته مسخره معلوميږي په حقيقت کښې يو انتقام دی چه تقديريې د تفريح د پاره د عقل او تدبير له خاوندانو څخه اخلي.

تا ته دې دا معلومه وي چه په دغسې انجمنونو کښې د هوس او تفنن د پاره هم ځای پرينبودل په کار دی.

د قريحې او نبوغ خاوندان غالباً د معاشرت او ګذران خلق نه وي.

که يوه جامعه سل په سلو کښې عقل او منطقي وي سل په سلو کښې به د تعمل ورنه وي او د عدالت له ساړه فشار لاندې به هرڅه ساړه وي، کوم انجمن چه يوازې له لويو او فوق العاده اشخاصو جوړ شوی وي ډير لږ خلق به ورسره علاقه ولري.

ډيره ښه ده چه ټيټ او حقير اشخاص له دوی سره ګډ شي او د تفريح باعث وګرزي په دغه صورت کښې به ټيټ کسان له لوړو کسانو نه علمي او معنوي استفاده کوي او لويان به هم چه خپله مقايسه له دوی سره په نظر کښې نيسي خوند اخلي. دا کار د دوا ړو په ګټه دی او اکاډمي په دغه ډول د خپلو مهمو غړو اهميت نوروته ورکولی شي څنګه چه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلمراو ستوروکری ځینی ذاتی او ځینی اکتسابی ځلښت لری دا اکاډمی اعضا هم باید دغه راز وی چه د ځینو رڼا ځینو نورو ته انتقال او سرایت وکړی.
دغه راز ناوؤه انتخابات د دغه انجمن د حیات او بقا دپاره ډیر ضرور معلومیږی او ډیره ښه ده چه اکاډمی دخپلو غړو په انتخاب کښی اشتبا وکړی یا د تصادف له تاثیر لاندی راشی او دغه راز خلق هم انتخاب کړی.
که ناوړه اشخاص هیڅکله د اکاډمی په غړیتوب نه انتخابیدلی نو هغو کسانو ته به ډیر لوی توهین او تحقیر متوجه و ، چه اکاډمی نه قبلولی مونږ باید دغه راز ظاهری اشتباهات حقیقی هوښیاری وګڼو ، او په نفرت ورته ونه ګورو.

# دعقل برخه په ژوندانه کښی

پاک خدای چه ژوند پیدا کړ غرایز یی هم ورسره پیدا کړه چه ژوند وساتی او د حیات شمع مړه کیدو ته پری نږدی.
همدغه غرایز دی چه دهوا مرغان او دځمکی ځناوریی د زیږولو او نسل ساتلو کار ته داسی متوجه کړی چه هیڅ غفلت پکښی نه ځایږی، دهمدی لامله دهوا مرغان هر کال نوی کورونه جوړوی او نوی هګی پکښی ږدی ، له هګیو نه بچی را ایستل او بچیو ته دانه په خوله کښی را وړل دغریزی کار دی.
یو کوچنی ماشوم چه به لومړی ورځ د مور په تی باندی خوله ږدی او روی یی له غریزی بل لارښوونکی نلری.
هغه پاملرنه چه یوه چرګه یی دخپلو بچیو په نسبت لری کوم تعلیمی کارنه دی بلکه دغریزی او فطرت په تقاضا اجراکیږی کومه شهوانی قوه چه نراوښځه یی یو دبل په نسبت لری دغریزی غوښتنه ده چه دژوند ساتلو او د نسل دبقا دپاره په انسان او حیوان کښی وجود لری یعنی دژوندانه ساتنه او دنوع پایښت دغرایزو وظیفه ده.
هر کله چه غرایز په حیوان کښی ډیر قوی دی او په انسان کښي ضعیف غوندی دی نو انسان ته عقل هم ورکړ شو چه دژوند په کار کښی له غرایزو سره مرسته وکړی او دغریزی په خوښه استعمال شی یعنی عقل یوه آله ده چه غریزه یی استعمالوی نو عقل باید دژوندانه دوسایلو برابرولو په کارکښی صرف شی او دژوند اسباب برابر کړی نه دا چه دحقایقو او پټو اسرارو دکشفولو کار ترینه واخلو او بیځایه یی استعمال کړو.
دعقل اصله کار همدغه دی چه له مادی سره تعلق پیدا کړی او په موادو کښی تصرف وکړی.
طبیعی او ریاضی علوم دا مدعا ډیره ښه ثابتوی چه د عقل کار له جسم او مادی سره دی چه باید ابعاد وپیژنی او کمیت ته متوجه شی ځکه چه دکیفیت پیژندنه دعقل کارنه دی او عقل د دغه مقصد دپاره نه دی پیدا شوی همدغه سبب دی چه انسان یا له کیفیت نه بیخی غافل دی یا کیفیت ته هم دکمیت په نظر ګوری.
مثلاً زمانه په اصل کښي کیفیت دی او دکیف له مقولی لاندی راځی مګر انسان دخپلی ساعت تیری دپاره چه دژوندانه یکنواختی ورکه کړی دغه کیفیت دکمیت له مقولی لاندی راووست او دځمکی حرکت، دستورو حرکت او نور حرکتونه یی زمانه وبلله.
هیت نجوم او ریاضیات په همدغه مفیده اشتبا بنا شوه او ددغی لوی غلطۍ په وسیله لوی لوی مقصدونه حاصل شوه.
که انسان ښه غور وکړی پوهیږی چه عقل انسان ته ددی دپاره ورکړ شوی دی چه دآلاتو او مصنوعاتو په جوړولو کښی ترینه کار واخستل شی او یوه څه جوړ کړی نه دا چه په څه پوه شی او دکمیت ادراک وکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغرب پوهان په دغه راز ښه پوهيدلی دی ځکه يې دژوند ښه کولو په کارکښي له عقل او پوهی نه ډيرکار اخستی دی اوزمونږ پوهان په نورو تصوراتوکښی غرق دی.
مونږباید دجوړولو او پوهیدلو په فرق قایل شو.
جوړول اسانه کاردی مګرپوهیدل ګران کاردی.
دشاتومچی عسل جوړوی مګرپه حقیقت يی نه پوهيږی.
مونږژوندکوو اودژوند وسایل برابروو مګردژوندانه په حقیقت نه یو پوه شوی.
ډاکتران او طبیبان دژوند په خدمت ترډیره حده موفق شویدی اودزړه حال دسږوحال ورته معلوم دی مګرژوند نه پیژنی اوله روح نه ناخبره دی.
دانسان ډیره لویه اومهمه وظیفه دژوندانه ساتنه اوروزنه ده عقل اوفکر، علم اوفن دهمدغه مقصد دپاره دی چه دژوندانه اسباب اووسایل برابرکړی اوپه همدغه لاره کښی ترینه کاروا خستل شی.

## حسابی خبری

استاذوویل: تاسی باید هروخت له ځان سره حساب وکړی اوحسابی خلق اوسی !
دده یوحسابی درداو: که یوعدد له بل سره داسی یوځای کړوچه یو پاس اوبل لاندی وی لکه: 2
۲ او څلور۴ ترینه جوړیږی اوددواړو وجود هم پخپل حال نه پاته کیږی.
که دواړه څنګ په څنګ یوځای کړولکه: ۲۲ نودوه ویشت ورنه جوړیږی اودوه شل کیږی. ددواړوعددونوشکلونه اوصورتونه هم پخپل حال پاته کیږی ځکه چه دلته دملګرتیا اوورورولی رازپټ دی اوپه هغه بل صورت کښی تفوق ،تسلط اومحوه کول معلومیږی.
ده ویل: که دوه مساوی عددونه لکه ۱-۱ ۲-۲ ۳-۳ هریو له بل نه وړاندی یا ورسته کړو نتیجه یی یوه ده مګرپه دوه متفاوتوعددونوکښی تقدیم اوتاخیردیرزیات فرق راولی اوپه مقدارکښی ډیرتفاوت راځی که مونږیو اونه یوځای کوو اوداسی یی لیکو 19 نولس کیږی مګرشل کیږی نه.
که همدغه دوه عددونه داسی ولیکو 91 خبره سلوته نژدی کیږی اوډیرزیاتوالی پکښی راځی.

## شعراوفلسفه

وریځی پورته په هوا کښی دی څاڅانی ښکته په ځمکه کښي.
هغه څه چه په هسکوو ریځوکښی شته په ژوروڅاڅانو کښی هم شته.
په دغواوبوباندی هم هماغه تنده ماتیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلوړ خيال او دژور فکر نتيجه يوه ده.
ته ! يا خپل نظر ډيرلوړ کړه يا پخپل ګريوان کښی ډير سرښکته کړه !
دشاعر او فيلسوف فرق همدغه دی.
زه شعر او فلسفه دغه شان ګڼم.

# ولاړی اوبه

له ښاره ووتم، سمه اوودانی می پريښوده، دلوړو غرونو سرته وختم له هغه ځايه ستاسی لوړی ماڼۍ ډيری ټيټی ښکاريدی او پدی پوه شوم چه مونږ په ډيرټيټ محيط او ټيټه هوا کښی ژوند کوو.
دغره له سره ډيرلری ځايونه ليدل کيږی او نظر ډيرلری ځارکوی ځکه ما هم دزمان او مکان په لری ګوټ کښی هغه څه ليده چه دکور او کلی خلقو نشو ليدلی.
همدغه وخت زه وپوهيدم چه فرعون او قارون په کلو او ښارونو کښی پيدا کيږی مګر خدايی تجلی په غرونو کښ ځان ښی او کليم له کوه طور نه الهام اخلی. دلمرلومړی رڼا دغرو په څوکو پريوږی او وروستۍ وداع هم دغرو له څوکو سره کوی.
شپانه په غرونو کښی وی او قصابان په ښارونو کښی.
دبودا او زردشت نبی نبانی په غرونو کښي دی او دفرهاد دعشق داستان دغره ازانګه ده.
دغرونو اوبه ډيری پاکی او ډيری رڼی دی، دغرونو هوا ډيره صافه او بی دوړوده.
تاسی غرونو ته يوازی دکميت په لحاظ ګوری دکيفيت په لحاظ هم هلته ډيرڅه شته چه په سمه کښی نشته.
که په غرونو کښی قيمتی لعلونه شته نو دغرونو ښکلی او ښايسته منظری هم په ښارونو کښی پيدا کيږی.
زه غرونو ته دنندارو او تماشو دپاره تللی وم او دولاړو او بو سيل می کاوه ما ته چا ويلی و، چه هلته يو ډيرلوی ډنډ دی چه پخوا به پکښی ښاپيريو لمبل او ملوک به له بدری سره همدغلته کتل.
زه لاړم او دغه ډنډ می وليد د ډنډ په غاړه ډيرساعت کښيناستم او تر ډيره وخته له فکر او خيال سره مشغول وم.
دغه لوی ډنډ دصبر او سکون په مقام کښی څه شور او فرياد نه کاوه دحال په ژبه يی خپل عميق احساسات داسی ښکاره کول.
زه دلويو غرونو په ډيره لويه کنده کښی ايساريم او دولاړو اوبو په نامه ياديږم، زما ليدو ته خلق ځی او راځی او زما مهيبه منظره وينی هيڅ لامبوزن دا جرت نه کوی چه زما په سرراودانګی او زما مخ په څپيړه ووهی. په ما باندی دچا بيړی نه ګرزی زما کبان ځوک نشی نيولی دهيچا جال په ما باندی نه دی لويدلی، زه دهيچا په واک او اختيار کښی نه يم مګرپه عين حال کښی به واکه او بی اختياره يم ،زما په ښنو کښی لکه غرونه لوی لوی ځنځيرونه پراته دی او زه يی ځای پرځای درولی يم.
هغه آزادی چه له مستوسيندونو اوزوررو سيلابونو سره شته له ما سره نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه عمق لرم شور او مستی، موج او حرکت نلرم.
زه ډیر خلق غرقولی شم مگر ځان له قیده نشم خلاصولی.
زما قوت او طاقت ایسار دی، ما ځانته دیوه چینی او یوه لښتی قدرته مجرا پیدا نکړه او د دغو ماشومانو ازادی هم زما په برخه ونه رسیده.
زه ډیر لوی قوت یم مگر آزاد نه یم ایساریم ځکه هیڅ نشم کولی او هیڅ رانه جوړ نشو.
زما عمر عبث تیر یږی نه رانه برق او بریښنا پیدا شوه نه سمسور باغونه نه می جهان ولیده او نه جهان ولیدم ،زه ښارونو او ودانۍ ته ښکته نشوم ،ماځپل موج او حرکت ونه لیده او د شور او مستیې په کیف ونه پوهیدم.
زه د ځان غوندی نورو ډنډونو سره یو ځای کیدی نشم مگر د کابل سیند د کونړ له سند سره یو ځای کیږی او د وا ړه له ابا سین سره خپل موجونه خپل شور او خپله مستی یو ځای کوی.
قید او اسارت عزیزانو له عزیزانو نه لری ساتی ځکه دیوه کوهی او به له بل سره نشی ګډیدلی او یو ډنډ بل ډنډ ته لاره نلری مگر د اسمان وریځی یو له بله ګډیږی او دیوه باغ مرغۍ بل باغ ته ځی.
زما طبیعی میل دا نه دی چه ځای په ځای غلی ولاړ یم او هیڅ حرکت نه کوم.
زه سیلانی حرکت او طوفانی قوت غوښتونکی یم.
زه باید دغه سکندری سد مات کړم او ځانته لاره پیدا کړم.
که زه له دغه قیده خلاص شم زما له طوفانه به خلق وویریږی او زما له قیضه به ملکونه اباد شی.
زه به بحر او دریاب ته لاره پیدا کړم او هلته به بی برخی نه یم.
زما په زړه کښی ډیر څه شته مگر د شور او غوغا ژبه نشته.
ته زما د حال په ژبه پوه شه او زما په حال کښی عمیق فکر وکړه.
هغه وخت چه زه د ډنډ په غاړه ناست وم لکه صاحب حال په بل حال کښی وم او د خیال پروازونه ډیر اوچت و.
په دغه وخت کښی زه له لوړو خیالونو او ژورو فکرونو سره اشنا وم او ډیر لری به می کتل.
همدغه وخت ماته د پسرلی زورور بارانونه رایاد شوه چه له دی لوړو غرونو په ډیر شور او زور مخ ښکته روان و او هیچا یې مخه نشوه نیولی.
دهغه سیلاب تعلق د آسمان له وریځو او آسمانی بریښنا ګانو سره و ځکه یې ډیری زمکی لاندی کړی او له هر قیده آزاد و.
دا ډنډ له ټیټ او ژور محیط سره علاقه لری ځکه ځای په ځای ولاړ دی او عمری قید تیروی.
ای هغو کسانو چه د پوهی او هوښیاری عمق ته پریوتی یاست او په اسفل السافیلن کښی ژوند کوی پدی پوه شی چه دغه راز لوی ډنډونه د هغه شبنم مقام او منزلت نشی پیدا کولی چه د شپی د ګل په نازکو پاڼو پریوززی او سحر د لمر له وړانګو او حرارت سره آسمان ته خیژی.
هغه او به چه د تورو ځاګانو په تل او تورتم کښي دی پدی نشی پوهیدی چه د پسرلی بارانونه او سیلابونه څنګه دی او څه کوی؟
دغه راز لوړ مضمون دغسی ټیټو ته نشو ویل او د ژورو ځاګانو په اوبو کښی د دنیا زورور بادونه هم موج او حرکت نشی پیدا کولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نبه حاکم

هغه چه نه نفس لری نه نفسی خواهشات.
نه یی په زړه کښی ډارشته نه طمع.
نه له موقوفی ویریږی نه د ترفیع پروالری.
نه رشوت اخلی نه تنخوا.
نه له چا سره عناد لری نه د چا مراعات کوی.
نه د چا مخ ګوری نه د چا څټ.
نه زورور پیژنی نه غریب.
نه یی څوک خپل دی او نه پردی.
نه سفارش منی نه تملق اوری.
نه چا ته خاندی نه چاته وچولی تریووی.
پوهیږی ! دا حاکم څوک دی؟
هو !قانون او عدالت.

## دمؤلف پېژند ګلوي

ګل پاچا الفت دلغمان دعزیزخان په کڅ کښی به 1287 ه ش 1909 ع کښی زیږیدلی دی.
پلاریی میرسید پاچا او نیکه یی سید فقیرپاچا دی چه دنسب سلسله یی دحضرت عبدالقادرجیلانی په واسطه حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم ته رسیږی.
ده په غیررسمی مدرسوکښی دننګرهاراوکابل له مشهوروا ستاذانوڅخه دصرف،نحو ،منطق،حدیث،معانی اوبیان کتابونه لوستی دی.
په 1314 ش کښی دانیس دورځپاڼی په اداره کښی دکاتب په حیث مقررشو.
په ۱۳۵۱ کښی دانجمن ادبی دتالیف او ترجمی په څانګی کښی به عضویت قبول شو.
په ۱۳۱۲ کښی یی سربیره په عضویت دزیری جریده هم چلوله.
په 1318 کښی دپښتوټولنی دصحافت دمدیرت معاون شو.
په 1319 کښی دپښتوټولنی دلغاتواوقواعدودڅانګی مدیرشو.
په 1320 کښی داصلاح دورځپاڼی دپښتو مشاورشو.
په همدغه کال په 1320 کښی دپښتوټولنی عمومی مبصراودکابل مجلی چلونکی شو.
په 1325 کښی داتحاد مشرقی دجریدی مدیرشو.
په 1327 کښي دجلال آباد دخلقوله خودملی شوراپه 7 دوره په وکالت انتخاب شو اوپه شورا کښی دوهم معین وټاکل شو.
په 1331 کښی دلغمان دقرغیودخلقوله خودشورا د8 دوری په وکالت ومنل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په 1334 کښې د جلال آباد له خوا دلوی جرګې وکیل شو.
په 1335 کښې په لومړۍ رتبه د پښتو ټولنې ریس مقررشو.
د 1330 کال د جوزا له میاشتې د 1332 کال ترآخره داولس دملي جریدی دامتیازخاوند و چه ده پخپله دفارسي اوپښتو مضامینو په لیکلو اوتهیه کولو کښې ډیره زیاته برخه درلوده.
دده چاپ شوی کتابونه دادی.
دپرلی نغمه۲- بله ډیوه۳- لغوی څیړنه۴- پښتوسندری۵- عال افکار۶- څه لیکل یا لیک پوهه۷- ادبی بحثونه۸- پنځم حلد پښتوکلی په۲ جلدوکښی۹- دآزادی پیغام 10- غوره نثرونه۱۱- لوړخیالونه اوژورفکرونه۱۲- منطق ۱۳- غوره نثرونه
نا چاپ شوی کتابونه یې دادی.
نوی څرک- ښه لمسون- نوی سبک- اجتماعی نظریات- څه ګورم او څه اورم – دټولنی علم (ترجمه) دموفقیت لار(ترجمه) سربیره پدی یې دکابل په سالناموکښې څورسالي چاپ شوی اوڅوسالنامې هم دده په اهتمام چاپ شویدی.
په مطبوعاتی جوایزوکښې یې څوځله لومړی جایزه اخستې دی په 1327 کښې یې دصدارت عظمی له خوا دوهمه درجه تقدیرنامه واخستله دستوری دوهمه درجه نشان اودوکالت ددودورونشانونه هم ورکړشویدی.

## سفرونه

په نوروهیوادوکښې یې دا ځایونه اوښارونه لیدلی دی.
مسکو- لیننګراد- سوچی – باکو- ستالین آباد- تاشکند- تهران- پیښور- مونیخ.

## الفت

دکابل دسیند په غاړه په کوزنی لغمان کښې دعزیزخان په کڅ کښې یووړکوټی کلی دی، خواوشایې شنه کښتونه اودسیند شولګری دی لږ څه لری دلویوغرونوپه واورو پټی څوکی ښکاری.
دلته دوه مست رودونه بهیږی، یوی خواته دکونړ ښکلی دره ده چه دکونړ سیند تری په نڅا نڅا راوځی.
دشرقی افغانستان په دی ښکلودروکښې ځای په ځای دسیدانودرنی کورنۍ اوسی، پښتانه دوی ته په درنه سترګه ګوری اوپاچهان یې بولی لکه په پسرلی کښې چه په دی درواورغوکښې ښکلی ګلان غوړیږی ددغوپاچهانو په درنوکورونوکښې هم کله کله ډیرپوهی خاوندان اوشاعران اوپوهان اوسیاست وال پیدا کیږی سید جمالدین افغانی هم ددغوکونړی پاچهانو څخه و.
ښایی چه څلویښت یا پنځوس کاله دمخه دعزیزخان په کڅ کښې دیوه پاچا په واړه کهول کښې یوښکلی ګل زرغون شو اوهغه یې ګل پاچا وباله ، دا ګل دفطرت په لمن کښې لوی شو ، دطبیعت روزنه اوپالنه یې ولیده اولکه دکابل سیند دغاړی خاټول دلغمان اوبواوهوا لوی که، هغه وخت مدرسه یا مکتب نه وو چه دا ګل پاچا سبق پکښې ولولی


(c) ketabton.com: The Digital Library



خولکه د پښتنو نو روماشوما نو ده يو اځې د فطرت نه درس واخيست او اسمان او ځمکې ته دومره ځير شو چه د فطرت اسرار يې پخپل ژور کاته لڅ کړه او هغه څه يې زده کړه چه بل چا په مدرسو او پوهنتونو کښې نه وه زده کړې.
پخوانو يوه خبره کړې ده چه ډيره پخه ده(الاسماء تنزل من السماء ) يعنې نومونه له اسمانه را ښکته کيږي (ايښودل کيږي ).
دا دلغمان داورشو ښکلې ګل د پښتو ادب په ګلستان کښې ډيرپه ښکلا وغوړيده او په الفت مشهور شو ، چه اوس يې مونږ ګل پاچا الفت بولو دا دالفت نوم هم له ده سره ډيرووړ دی ځکه چه زړه يې له الفته ډک دی.
الفت د پښتو ادب يو ځلاند ستوری دی که د پښتو ادب نن ورځ يو بهترين ليکوال او شاعرلري نو هغه به الفت وي.
الفت ډيرکتابونه ليکلي دي کله د کابل او د مشرقي اتحاد مديروو کله په شورا کښې وو ، او اوس د کابل د پښتو ټولنې مشردی خو مونږ دالفت شخصيت په نوروصفاتو پيژنو ، دی يو ډيردقيق او سترګه ورفنان او صنعت کاردی دالفت هنرپه پښتو نثراو نظم کښې ښه ښکاري او ځانته يو خاص طرز لري ، دالفت نثرهم شعردی او نظم يې هم شعردی.
کوم وخت چه په نثرڅه ليکي نو د فطرت ډيرنازک او واړه دقايق ويني او څرګندوي يې ، دانسان د اجتماعي ژوند ډيرې ښيګړې په داسې ژبه بيانوي چه ويونکې دده استدلال په ښه ډول قانع کوي.
دالفت په نثراو نظم کښې کوم فلسفي يا تاريخي استدلال نشته مګر د فطرت له هره ګونه داسې دلايل او براهين را وباسې چه ترهررنګه منطقي استدلال ښه او ټينګ وي.
دده هنرهم دادی چه ځانته خاصه د استدلال لاره لري او د ژوندانه عادي وقايع هره يوه دده لپاره د شعريوه بهترينه موضوع وي.
کله کله دالفت نثرترنظم خوږوي ، خلق وايي چه نظم پيودل دي او يو ناظم مرغلري پيودې مګرزه وينم چه الفت په نثرکښې هم بلا کوي او کله کله الفاظ هسې سره پيودي چه ترهررنګه نظم ښه ښکاري او غوره دي.
د هنرمن (فنکار ) مهارت او کمال دادی چه عادي شی ته ښکلی رنګ ورکولی شی همدغه ګټې او ختې دي چه يو معمار تر تاج محل هم جوړوي او د پښتو غوندې خړه حجره هم.
دغه رنګونه او غوړ دی چه يو نالايق نقاش پرې هره تخته او دهرې ټانکې په اړخ يو ناوړه منظره نقش کوي مګر کله چه د ماهراو باهنرنقاش په قلم کرشي نو يوه ټوټه يې په زرو قيمت لري.
دا الفاظ او کلمات د شاعراو ليکوال مصالح دي که الفت هغه سره اودي او ترتيب ورکړي ، د پښتو ادب يو شهکاربه وي او که د بل چا په قلم وليکل شي نو هغه به يو عام نثر يا نظم وي.
دالفت په فن باندې څه ليکل هم آسان کارنه دی خو لنډه دا چه الفت يو ماهراو سترګه ورهرمن(آرټيست ) دی چه دده په هنرکښې دا درې غټې ښيګړې وينم.
(جمال )چه دالفاظو او کلماتو غوره کول (انتخاب ) او يا دهغو اودنه (ترتيب ) وبيودنه(نظم ) يې غټې نښانې دي.
دويم: برهان او استدلال که د فطرت له هره مظهره څخه دی يو منلی دليل جوړولی شي او دده په نظرکښې د دنيا ټول مظاهرد استدلال لپاره څرګندې نښانې دي.
دريم: انتقاد دده د هنرغټه ښيګړه ده ، دی د مظلوموخواخوږی دی.
د اجتماعي ظلمونو سخت د ښمن دی پخپل ليک کښې که منظوم وي که منشور او لسې تجاوزانو ته ګوته نيسي او دده قلم پدې خوا کښې ډيرتيره دی.

دظالمانو اسرارلڅوی او دمظلومو اولڅولغړو په کوټوورننوځی ، ددوی دفلاکت اوبدبختی حال ګوری اوهغه داولس دعبرت دپاره په داسی ژبه بیانوی که دچا زړه ډیرکلک هم وی بیا به هم اغیزه پری وکړی، دالفت هیڅ منظوم یا منشورلیک نشته چه له دغو ښیکړو ځنی تش وی نن دپښتولیکوالو په ډله کښی الفت دټولو مخکښی او دریږی او دده لیکونه دپښتو ادب شمله ګڼلی شی.

پای




مؤلف گل پاچا «الفت»

ملیار

کابل

دکرهنی او اوبو لګولو وزارت

3/3/1319



(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لراوبر برېښنايي کتابتون

**قدرمنو لوستونکو !**

تاسو کولای سئ د لراوبر ويبپاڼې په برېښنايي کتابتون کې زيات شمېر ارزښتناک او په زړه پوري آثار په خپل تفريحي وخت کې مطالعه کړئ .

د لراوبر انلاين کتابتون ستاسو لپاره د لاندينيو موضوعګانو اړوند آثار پر ليکه کوي :

- **اسلام او مذهب**
- **ساينس او تخنيک**
- **سپورټ او روغتيا**
- **تاريخ او سياست**
- **هنر او ادبيات**
- **دماشومانو لپاره**
- **بېلابېل آثار**




**[www.Larawbar.net/library](www.Larawbar.net/library)**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**